أدع إلى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي أحسن (الآية)

دتوحيد او جهاد مجله

دعوت

۱۷

دافغانستان دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة دافکارو خپرونکی

والله متم نوره ولو کره الکافرون (الآية)

«داسلامي امارات»

قرآن او سنت ته دعوت

دعمومي امنيت انتظام

داسلامي وحدت استحکام

دجهاد في سبيل الله دوام

داسلامي شريعت قيام

دافغانستان دمکملې آزادۍ اهتمام

داسلامي روزنې پروګرام

داسلام دښمنه ځواکونو اختتام

دبې شمېره قربانيو نېک انجام

دکونډو رنډو او يتيمانو لوی آرمان

ددين، هيواد، ناموس او مال دننګه حفاظت او انسجام

او بالآخره زموږ دټولو کوښښونو پرارزښت مرام اسلام

فرمان الهی

بسم الله الرحمن الرحیم

وقال الذین آشرکوا لو شاء الله ما عبدنا من دونه من شئ نحن ولاابآؤنا ولاحرمنا من دونه من شئ کذلك فعل الذین من قبلهم فهل علی الرسل إلاالبلغ المبین.

ولقد بعثنا فی کل امة رسولا ان اعبدوا الله واجتنبوا الطاغوت فمنهم من هدی الله ومنهم من حقت علیه الضللة فسیروا فی الارض فانظروا کیف کان عاقبة المکذبین-النحل-(۳۵)او (۳٦)

ترجمه: مشرکانو وویل: که الله غوښتی وی، بیله هغه نه به مونږ دهیڅ شی پرستش نه کاوه، نه مونږ او نه زمونږ پلرونو، اونه به مودهغه له فرمان نه پرته کوم شی حرام گڼه، هغه کسان چه له دوئ نه مخکی وو، هغوئ هم همداسی وکړل.آیا پر پیغمبرانو باندی له ښکاره ابلاغ نه پرته (ذمه واری) شته؟

او په تحقیق سره په هرامت کی مونږ (له دغه فرمان سره) یو رسول لیږلی چه دالله پر ستش وکړی او دبتانو له پرستش څخه ځان وساتی او له هغوئ څخه داسی څوك (هم) وچه پر هغه باندی گمراهی متحققه شوه، نو په ځمکه کی سفر وکړئ او وگورئ چه د (حق) تکذیب کوونکی له څه سرنوشت سره مبتلاشول.

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين

سورة يوسف (۱۰۸)

دعوت

دتوحيداو جهاد مجله

دامتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

مؤسس: شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشيخ سميع الله

دریم کال - پرلپسی (۱۷) ګڼه د/۱٤۱۲ هـ ق کال درجب المرجب میاشت = د۱۹۹۲ کال دجنوری میاشت

ددی ګڼې مطالب

(عنوان) (مخ)

* سرمقاله(۱) ۲
* سرمقاله(۲) ٤
* الجزائر ته دمبارکۍ پیغام ۷
* دشهادت مرګ دقام ژوند ۸
* دافغانی جهاد لمړنۍ نومیالی ۱۰
* دشهید شیخ (رحمه الله) ژوند- دعوت او جهاد ۱۲
* دافغانستان په جهاد باندی دشهیدشیخ (رحمه الله) دشهادت ۲۳
* دشهید شیخ (رحمه الله) شهادت د پنګلسمي پیړۍ ۲۷
* دافغانستان له آسمان څخه ځلیدونکی ستوری ۳۱
* دالشیخ سمیع الله مطبوعاتی مرکه ۳۲
* ضرورت مسلمان به یك امارت اسلامي ٤۳
* له «زندګی» مجلي سره دشیخ سمیع الله مرکه ۳۸
* په نبوی مسجد کی دکړ دحادثی انګازه ٤۱
* فراست مؤمن ٤۲
* دسعودی عربستان له مفتي څخه پوښتنه ٤٦
* تعزیتی پیغامونه ٤۷
* دګندف په کیمپ کی دتنظیم طلبه سلفیه غونډه ٥٦
* په باجوړ کی دتنظیم طلبه سلفیه غونډه ٥۷
* اسلامی عقاید اودامت دیوالي اساسي اصول ٥۸
* راغلی لیکونه ٦۲

دهیئت تحریر تر نظارت لاندی

په پاکستان اونورو بهرنیو هیوادونو کی زمونږ نمایندګان

په داخل کی: لعل محمد «افسوس»

اسلام آباد: عفیف احمد

پیښور: غنی الله «مسلم»

لاهور: حماد شاکر

کراچی: چوهدری ظهور احمد

کوئټه: عرفان منګل

مظفر آباد: بشیر قریشی

سعودی عرب: فیضان الله

امریکا: عبدالرحمن احمد

بریطانیا: منور علی

جرمنی: وائی - ایم حمیم

هالینډ: عماد الدین بکری اسماعیل

داشتراك وجه:

په پاکستان کی	په نورو بهرنیو هیوادونو کی
میاشتنۍ ګهون:	میاشتی ګهون:
۱۰ کلداری	۲ امریکائی ډالر
کلنی ګهون: ۱۰۰ کلداری	کلنی ګهون: ۱۰ ډالر

مکاتباتی پته: «دعوت مجله» - پوست بکس نمبر ٦۱٤ پشاور پاکستان

بانکی حساب: جماعة الدعوة الى القرآن والسنة - اکاونټ نمبر ۱۹٤٦٥ - حبیب بینك کینټ - صدر روډ - پشاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله ۱

دکونړ په بام د اسلامي امارت د لمر ځلانده پلوشې

لکه څنگه چه دکونړ ولایت په افغانستان کي داسلامي جهاد اوزمونږ دمسلمان او په الله تعالي مين ولس دحقه مبارزي دآغاز دنقطي په حيث هغه لومړني سيمه وه چه دقرآن او سنت دنشاة ثانيه دعلمبردار، ستر مجاهد او اسلامي مفکر او مدبر لارښود شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) په لارښوونه اوپرله پسي جهاد په نتيجه کي ئي دکفر او الحاد په خلاف دجهاد دجگړي دلومړني ميدان حيثيت گټلي ؤ اوددي سيمي نومياليو مجاهدينو له ټولونه لومړی دکمونستي رژيم په خلاف جهاد او مبارزه پيل کړي وه اودروسي پوځونو ديرغل نه وروسته ئي دخپل مسلحانه جهاد سمندرلاپسي تو پاني کړي ؤ او تر هغي ئي روسي بي غيرته پوځيان په خپله سيمه کي وځپل چه بالاخره زمونږ دمسلمان اومجاهد ملت دقهر په دغه توپاني سمندر کي لا هو شول، همدغه شان ددي سيمي باتور مجاهدين او سپيڅلي مسلمانان په خپله سيمه کي ديو پاك اسلامي امارت دتأسيس او تشکيل وياړ او افتخار هم دخپل تاريخ په پاڼو کي ثبت کړي، چه زمونږ د هيواد اسلامي تاريخ به وربانديي دتل لپاره آفرين او تمجيد وائي. دافغانستان هر مسلمان او منصف مورخ به په دي حقيقت گواهي ورکړي چه دکونړ ولايت سپيڅلو مجاهدينودخپل يولس کلن اوږد جهاد اومبارزي په نتيجه کي خپله سيمه په ډيره ميړانه دروسانو او دهغوي له بي غيرته پرچمي او خلقي گوډاگيانو څخه پاکه او دالحاداو کفر ټول قوانين ئي له منځه يووړل او په يو اتحاد او اتفاق او دآزادو اوبي طرفو انتخاباتو په نتيجه کي ئي په ۱۵/۱۰/۱۴۱۰هـ ق نيټه په دغه لومړني آزاده شوي سيمه کي اسلامي امارت تشکيل اودهيواد متدين شخصيت امام الجهاد او مفکر اسلام شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) ئي دکونړ ولايت داسلامي امير په حيث وټاکه. شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) دکونړ ولايت داسلامي امير په حيث ددرني وظيفي له اشغال سره سم په سيمه کي دقرآن او سنت عادلانه قانون واجب التنفيذاعلان کړ، چه په کونړ کي دجهادي تنظيمونو دنمايندگانو او مجاهدينو له خوا ورته تود هرکلي وويل شو اوداسلامي امارت او اسلامي قانون څخه ئي خپل بشپړ او هراړخيز ملاتړ اعلان کړ، داسلامي امارت له امير شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) سره ئي شرعي بيعت وکړ او ژمنه ئي وکړه چه په خپل ولايت کي به دقرآن او سنت په اساس دتأسيس شوي اسلامي امارت د برياليتوب او ساتني لپاره دسرونو او مالونو قرباني ته هر وخت حاضر وي.

په کونړ کي داسلامي امارت له تشکيل سره سم دغلو او ډاکوانو، قاتلانو اومفسدينو په وجود باندي دتزلزل او انحطاط تبه راغله او د پناه اخستلو هيڅ گوټ ورته پاتي نه شو، لاره وهونکي له سختي ناامیدي سره مخامخ شول، دترياکو اومخدره موادو تجارت په ټپه ودريد، دکوکنارو ولاړ فصلونه په بل مخ واړول شول، شرعي حدود نافذ شول او دعام ولس دآرامي او سوکالي او دجهاد د پرمختگ په غرض نوي پلانونه جوړ شول.

خو کله چه داسلام دښمنانو په غړيدلو سترگو ليدل چه دکونړ په ولايت کي اسلامي امارت دخپل رشد او انکشاف

پراونه په ډيره کاميابي سره وهي او په پوزي ناست رهبر، پياوړي عالم دين او واقعي مجاهد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله)دجومات له منبر څخه دالله تعالي په آزاده خاوره کي دالله تعالي قانون تطبيقوي او ددغه قانون په انفاذ او تطبيق کي دهيڅ ډول قرابت اوخپلوي او نسلي او تنظيمي امتيازاتو مراعات او خاطر نه کوي او په خپل عالمانه بيانيو کي مجاهدين اتحاد اواتفاق ته رابولي، دشخصي او تنظيمي ګټو سائل داسلام او جهاد سره ستر خيانت بولي اوداسلام ددښمنانو ټولي دسيسي او ناوړه سازشونه دمسلمانو مجاهدينو په وړاندي رَدي او تاکيد ورباندي کوي چه ددغو کفري سازشونو په وړاندي په ټينګه سره مبارزه وکړئ، داسلام دښمنان په دي انديښنه کي پريږي وتل چه که داسلامي امارت دتشکيل په باب دغه قرآني فارمول دافغانستان په نورو آزادو سيمو کي تطبيق شي نو بيا خو به دمجاهد په خلاف دمجاهد دجنګولو او دجهادپه صف کي د شيطاني قوتونو رخنه او نفوذ ناممکن شي او په هره آزاده سيمه کي به داسلامي نظام دانفاذ او داسلامي امارت دتشکيل مينه غزوني وکړي او بيا به داسلام دښمنان ونشي کولي چه دافغانستان مسلمان ملت دخپل جهاد له خوندوري ميوي څخه بي برخي کړي. نو دقرآن اوسنت دښمنانو داسلامي امارت په خلاف له هري خواسازشونه پيل کړل.

دکونړ داسلامي امارت امير مولوي شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) داسلام ددښمنانو دناګونمردانه دسيسي په نتيجه کي شهيد کړي شو او داسلامي امارت په حدودو کي داوسيدونکو مسلمانانو او مجاهدينو دوحشي صفتو په لاس په بي رحمانه ډول وبهول شوي. او په سيمه کي دامنيت، سولي او اسلامي قوانينو دانفاذ فضاءګډه وډه شوه او داسلامي اخوت او جهادي ورورګلوي دمحيط په ځاي له کونړ څخه دويري او ترهي داسي يو بيابان جوړ شو چه ميلمنو او سيلانيانو خو لاځه چه دسيمي اوسيدونکو پکي هم دامنيت احساس نه کاوه.

خو نن دالله تعالي شکريه او ستاينه کوو چه دکونړ ولايت نوميالبو مجاهدينو او داسلامي سنګر سپاهيانو ته ئي دا توفيق ور په برخه کړ چه يو ځل بيا په خپله هغه سيمه کي چه داسلام دسرلوړي په خاطر ئي په زرګونو شهيدان ورکړي، اسلامي امارت پياوړي کړي، دامارت ارګانونه فعال کړي اوداسلامي قانون دانفاذ او تطبيق لپاره نوي هلي ځلي پيل کړي.

مونږ خپلو ټولو مسلمانانو ورونو ته په ډيره خوښي سره خبر ورکوو چه نن سبا په کونړ کي اسلامي امارت په اوضاعوباندي کامل حاکميت لري او دسيمي ټول مجاهدين او دجهادي تنظيمونو مسؤلين په کامل جهادي احساس دورورګلوي په فضاءکي دړاکوانو غلو او دامنيت دګوډونکو عناصرو په خلاف په متحدانه ډول جهادي کمپاين پيل کړي او دغه راز دکونړ دبيا ودانۍ او په سيمه کي دکامل امنيت دټينګيدو اودجهاد داستمرار او دوام لپاره هر اړخيز کوششونه روان دي.

نن بيا دبي وزلو کونډو رنډو، بي اسري يتيمانو اود خپلو زلمو ځامنو په غم غمجنو ميندو سترارمان پوره شو اوداسلامي امارت دبيا تشکيل لپاره ئي داميدونو غوټي وغوړيدي.

زمونږ دعا داده چه دکونړ په ولايت کي داسلامي امارت دوباره پياوړتيا زمونږ په ټول ګران اسلامي هيواد افغانستان کي دقرآن اوسنت دنظام دټينګښت پيلامه وګرځي او افغانستان ديو واحد اسلامي قوت په حيث په نړۍ کي راڅرګندشي.

په هيواد کي داسلامي وفاق ټينګښت په نړيوال کفر او استبداد باندي زمونږدجهادي قوت دبرياليتوب ضمانت کوي.

«ومادلك علي الله بعزيز»

اداره

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

په الجزائر کی داسلامی حکومت په خلاف دسیسه

دسږکال دجنوری په (٦) نیټه په الجزائر کی دعمومی انتخاباتو په تکمیل سره ثابته شوه چه داسلامی نجات محاذ چه په رأس کی ئی دالجزائر سلفی جماعت ولاړدی غوڅ اکثریت گټلی او دهغه هیواد خلکو داسلامی حکومت دتشکیل لپاره خپل حمایت دانتخاباتو په ترڅ کی اعلان کړی دی. خو لږی ورځی وروسته نړیوالو دا خبرهم واورید، چه دالجزائرنظامی قواؤ داسلامی حکومت دتشکیل په وړاندی دیولوی خنډ په حیث ودرید او داسلامی نجات دجبهی دښکاره کامیابی نه وروسته، چه دغرب مطبوعاتو ورته دافراطیونو او بنیاد گراَئیانو دکامیابی عنوان ورکړ، دالجزائر سوسیالستانو او لادینی طبقی دهغه هیواد له مسلحو قواؤ سره لاس یوکړ، داسلامی نجات دجبهی په خلاف یی پراخه اقدامات پیل کړل او دا ډنډوری یی وغږولی چه وروسته لدی په الجزائر کی دغرب دمترقی نظریاتو دحامیانو لپاره ځای نشته.

په الجزائر کی داسلامی نهضت دکامیابئ یو علت دادی، چه په هغه هیواد کی دسوسیالستی نظام داوږدی مودی داقتدار سره سره دخلکو مشکلات او ربړونه ورځ په ورځ زیاتیدل، ددین او مذهب په خلاف پرله پسی فعالیتونه روان ؤو او چه دری کاله وړاندی اسلامی محاذ دسیاسی مبارزی ډگر ته راووت، نو دخلکو لپاره دامیدونو نوی افق وځلید، دانتخاباتو په لمړی مرحله کی د(٤٣٠)انتخابی حوزو له جملی څخه(١٨٩) څوکۍ داسلامی محاذ په برخه شوی او واکمن گوندته یوازی(١٦)څوکۍ ورسیدې.دانتخاباتو ددوهمی مرحلی له تکمیل نه مخکی دالجزائر صدر شازلی بن جدید استعفی ورکړه، خو له خبرونه یی داسی معلومیده چی هغه فوځ ته داقتدار اخستلو دعوت ورکوی او همدغسی وشوه فوځ دهیواد له صدراعظم سره په لاس یو کیدو په اقتدار قبضه وکړه او دمقننه شورئ مسئولیتونه ئی په ځان پوری منحصر وگڼل.

سوسیالستان د١٩٦٣م کال نه را پدیخوا په الجزائر کی داقتدار په څوکۍ ناست ؤو،خو اوس چه داسلامی قوتونو په لاس په هیواد کی داسلامی نظام داستقرار او ټینگښت زمینه برابره شوه، نو نظامی قواؤ ورسره مخالفت وکړ او په زور او ناروا ډول ئی دهیواد په سیاسی حاکمیت باندی منگولی خښی کړی.

دالجزائر په انتخاباتو کی په عمومی ډول (٤٩) گوندونو برخه درلوده، خو اصل مقابله د(٥) گوندونو تر منځ وه، دانتخاباتو په لمړی مرحله کی د (٤٣٠) انتخاباتی حوزو څخه (١٨٩) داسلامی نجات جبهی،

سوسیالست گوند(۲۵)،واکمن گوند(نشنل برتش فرنت)(۱٦)،حماس(۲)او حرکت نهضت یوه‌ځوکی وگټله.

داسلامی نجات دجبهی دکامیابی ترشا د الجزائر د مسلمانانو هغه تاریخی کارنامی حکمفرما دی، چه همیشه یی داسلام داعتلاء لپاره سر ته رسولی دی، د پخوانیو حکومتونو لخوا داسلامی روایاتو او اصولو پایمالول دالجزائر دخلکو تر منځ په زړونو کی سخت غم او اندیښنه پیدا کړی وه، دخلکو اقتصادی ژوند خراب ؤو او دالجزائر دپخوانی صدراعظم عبدالحمید ابراهیمی دوینا مطابق دهیواد حاکمانو په پخوانیو کلونو کی (۱٦) ملیارده ډالره درشوت په توگه خوړلی ؤو، اوهغه وخت چه داسلامی نجات جبهی ددغه فساد په خلاف په ۱۹۸۸ م کال کی داعتراض چغه پورته کړه، نو ټولو خلکو ورسره ملاتړ وکړ، او کله چه ددغه تحریك مشرانو دخلکو لپاره بی شمیره قربانی ورکړی او خپل ډیر برجسته غړی یی له لاسه ورکړل، دالجزائر دخلکو لخوا دخپل خلاصؤنکی او منجی گوند په حیث وپیژندل شو او پخوانی سیاست مداران په کامل ډول په انتخاباتو کی رد او ناکام شول. داسلامی نجات دجبهی دمحبوبیت اندازه د(۱۹۹۰)م کال دایالتی او ښاروالی انتخاباتو په ترڅ کی ثابته شوه، چه اسلامی محاذ د هیواد د(٤٨) ولایاتو له جملی څخه په(۳۲) ولایاتو کی (٦٦٪) فیصده رأیی واخستی او د(۱۳۵۹)ښاری کمیټو له جملی څخه یی په (۸۳۵) حوزو کی (۵۵٪) فیصده رأیی تر لاسه کړی، داسلامی نجات دجبهی مشرانو ددغو ایالتی او ښاروالی انتخاباتو له گټلونه وروسته دخلکو لپاره زیات خدمتونه سرته ورسول او دزیاتو منکراتو دله منځه وړلو کوششونه یی وکړل، دمثال په توگه دشرابو په ښکاره څکلو، دهلکانو او نجونو په مشترك تعلیم، دساحل په غاړه په مشترك بربنډ توب او پاپ میوزیك باندی پابندی ولگیده، چه دخلکو لخوا ددغو اصلاحاتو زیات هرکلی وشو، خو بل خوا لادینه او لیبراله طبقه سخت په غصه شوه او دغرب مطبوعاتو هم له دښمنی ډك تبلیغات پیل کړل.

«الشرق الاوسط» اخبار چه په عربی نړی کی تر ټولو زیات چاپیدونکی اخبار دی، ولیکل چه دالجزائر ځوانان او غریب خلك داسلامی نجات دجبهی ملگری دی او داهم ویل شویدی، چه دالجزائر دنفوسو په سلو کی(۷۵) برخه هغه ځوانان تشکیلوی چه عمر یی له (۳۰) کلونو څخه کم دی. یوتن اروپایی دیپلومات دخپلی تبصری په ترڅ کی وویل چه داسلامی نجات دجبهی دکامیابی راز دهغه په غوره تنظیم او انسجام کی نغښتی دی، او نورگوندونه له دغه راز نظم او انسجام څخه بی برخی دی.

له الجزائر څخه په فرانسوی ژبه چاپیدونکی اخبار دانتخاباتو په ورځ دا برجسته عنوان چاپ کړ چه : (نن دجمهوریت ورځ ده) خو په دوهمه ورځ یی بیا په همهغه برجستگی سره ولیکل چه:(جمهوریت ناکام

شو).دالجزائر دانتخاباتو دلیدلو لپاره (۵۰۰) تنه خارجی خبریالان چه اکثریت یی اروپائیان وو، حاضر ؤو او ټولو دا گواهی ورکړه چه انتخابات دامنیت په فضاء کی سرته رسیدلی دی، دوروستیو خبرونو له مخی په الجزائر کی داسلامی مشرانو دنیولو سلسله په ډیر شدت سره روانه ده او تر اوسه پوری لږترلږه (۵۰۰) کسان نیول شویدی داسلامی نجات دجبهی دټوټی ټوټی کیدو لپاره حکومتی او نظامی کوششونه روان دی، او په اخبارونو او رادیو کی اعلانونه کیږی چه دغه محاذ په مختلفوتنظیمونو ویشل شویدی،خو دغه خبرونه هیڅ حقیقی جنبه نلری او دسلفی جماعت په فعال رول ټول اسلامی تنظیمونه داسلامی نجات دجبهی په فلیت فارم کی سره متحد او یو لاس دی او دیو منظم او متحد طاقت په حیث په الجزائر کی دسوسیالستی او غربی عناصرو په خلاف مبارزه کوی.

په تازه خبرونو کی ویل شوی چه دالجزائر نظامی قواؤ دهغه هیواد داسلامی نجات دجبهی یو اخبار (المنقید) مصادره کړی او ددغه اخبار وروستئ گنه یی ضبط کړی ده، په حکومتی اعلامیه کی ویل شوی چه نوموړی جریدی داسلامی تحریك دزندانی شوی رهبر عبدالقادرحشامی یو خط خپورکړی، چه نوموړی دخپل دغه لیك په ترڅ کی له فوځی قواؤ څخه دبغاوت غوښتنه کړی ده. دجریدی په نورو مضامینو کی هم له خلکو څخه غوښتل شوی چه دهیواد دغیر قانونی حاکمانو په خلاف راپورته شئ. داسلامی نجات جبهی ویلی چه دالجزائرنوی حکومت دیوی خونړئ کورنی جگړی د پیل مسؤل دی.

په الجزائر کی داسلامی نهضت بریالیتوب ددی معنی ورکوی چه انشاءالله اسلامی امت دبیداری اوتحرك په لور روان دی او دملتونو مستقبل داسلام دی، لکه څرنگه چه دافغانستان مجاهد ملت په سرښندنه روسی امپراطوری له منځه لاړه په اسلامی امت کی داسلام دسپیڅلی دین احیاءاو جهادی روح راژوندی شو نن زمونږ دمقدس جهاد غوره تأثرات دالجزائر په مسلمان ملت کی را څرگندشو، که نړیوال استکبار هر څومره وغواړی دالجزائر دمسلمان ملت نیکی إرادی دزور او برچی په تکیه وزپوی دا به خیال اومحال وی ځکه دا اثبات ته رسیدلی حقیقت دی چه په مرگ او ژوبله د ولسونو ارادی نه شی ماتیدلی.

مونږ دالجزائر داسلامی نهضت له مجاهدینو څخه هیله کوو چه په خپل هیواد کی داسلام داحیاء او اسلامی حکومت دجوړښت په خاطر خپل منځی اتحاد او اتفاق حفظ کړی او ددغه اسلامی نهضت په خلاف دکفری او طاغوتی طاقتونو ناوړه دسیسی او شومی ارزوگانی دخپل اسلامی او اتحادی قوت په زور شنډی او نابودی کړی.د الله تعالی وعده په حقه ده چه فرمایی:(وانتم الاعلون إن کنتم مؤمنین) تاسو بریالی او کامیاب یاست اود الله تعالی نصرت او حمایت ستاسو ملگری دی، که تاسو مؤمنان یاست.

اداره

دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة دامیر له خوا دالجزائر داسلامی نجات دجبهی دشورا په نوم دمبارکئ پیغام

دالجزائر داسلامی نجات دجبهی دشورا محترمو مشرانو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

اسلامی نړۍاو بالخصوص دافغانستان مجاهدین او مهاجرین دالجزائر په وروستیو انتخاباتو کی داسلامی نهضت دبریالیتوب په مناسبت دزړه له اخلاصه تهنیت او مبارکی وړاندی کوی.

داسلامی ورور هیواد الجزائر اوسنی نسل دخپلو مجاهدو اسلافود(۱۹۵٤) میلادی کال داسلامی قیام په پیروی یو ځل بیا داسلام سره خپله مینه نړیوالو ته ثابته کړه او عملاً ئی وښودل چه اسلام د دوئ دژوند لاره او دتوحید عقیده داسلامی نهضت روح دی.

دافغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة دافغان مجاهد ولس لخوا دالجزائر په انتخاباتوکی ستاسو دښکاره او مبینی فتحی په مناسبت خپلی مخلصانه او داسلامی اخوت نه ډکی مبارکی اونیکی هیلی تاسو ته وړاندی کوی او دالله تعالی څخه هیله لری چه داسلامی تحریك دمشرانو او علمبردارانو قدمونه داسلام داعتلاء او سر لوړی لپاره ټینګ او تاسو ته دتوحید دعقیدی په رڼا کی په ټولو مشکلاتو باندی دبری توفیق درپه برخه کړی.

وا لله غالب علی امره ولکن اکثر الناس لا یعلمون.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

الشیخ سمیع الله

دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان امیر

دشهادت مرگ د قام ژوند

دشلمی پیړۍ وروستۍ دوه لسیزی چه په څه ډول تیریږی له هغو څخه په ډاګه څرګندیږی چی دکفری ځواکونو هدف او غایه یوازی او یوازی داسلامی نړۍ ویجاړتیا او پوپناه کول دی او دادی وینو ئی چه دافغانستان له جهادنه مخکی دغه اسلام دښمن ځواکونه دومره تلولی او ناکرار نه وو، داخو دافغانستان دجهاد عظمت او قدرت دی چه داسی یو ستر شیطانی ځواك مات او تس نس کړی شو او دخپل حریف ځواك په لمن کی پریوځت، دروسی نظام په ټوټه ټوټه کیدلو کی امریکا هیڅ ډول کمال نه دی کړی، داپه خالصه توګه داسلام او مجاهدینو فتحه ده چه اوس یی پر امریکا، هندوستان او دهغوئ پر انډیوالانو باندی لړزه راوستی ده. کفری ملتونه چی مسلمانانو ته دبنسټ پالئ پیغور ورکوی مطلب ئی دادی چی هغه دیوی ځانګړی مفکوری او مسلك په توګه خپله نبنه وګرځوی.

له دی امله ګڼ شمیر اسلامی هیوادونه دهغوی ګوډاګیان ګرځیدلی دی، زمونږ بدمرغی هم په همدې کی ده چه داسلام لویانو هیڅکله په یوه پاخه فکر او عمل لاس نه دی پوری کړی خو داسلام دښمنان دیوه منظم پلان له مخی سوکه سوکه زمونږ وینی زمونږ په خپلو لاسونو بهوی.

دشهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) وژل محض دافغانستان دیوه مجاهد وژل نه دی،د اد «جماعة الدعوة الی القرآن والسنة» دامیر دمرګ مسئله هم نه ده، بلکی دښمنانو په خپلی پوهی او تد بیر سره مسلمانان په درانه خوب ویده کړی دی او داهوساینه محسوسوی چه که اوس افغانستان آزاد هم شی، نو لږ ترلږه خودا وشول چی دراشدینو خلیفه ګانو دور به بیانه راځی.

زمونږ دښمن هسی هوائی غشی نه ولی، بلکه په نهایت سوچ او فکر سره خپله نښه ټاکی، دافغانستان مجاهد ، شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دټګ او مکار دښمن دغشی نښه شو، خوددی خبری وجوهات او تآویلات دلمرپه شان ښکاره دی. جهاد کله او چا پیل کړ؟ له رښتیا اوسمی پلټنی څخه دانتیجه راوځی چه دجهاد بنسټ ایښودونکی شهیدالشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) ؤ، نو دهغه دله منځه وړلو څخه ئی مطلب دجهاد روح محوه کول ؤ. ددین دغه حق پالونکی باعمله عالم په افغانستان کی ددودو دستور او بدعتونو پر خلاف پوره پوره هلی ځلی وکړی او په پر دیو پوری دخپلو تړلوشوو حکمرانانو د ظلم او تیری په وړاندی ئی له زغم او تحمل نه کار واخیست، خو کله چه د هغوی ظلم او زور زیاتی له حده زیات شو، هجرت ئی وکړ او بیا ئی په بشپړه تازه ولوله په خپل پلرنی ولایت (کنړ)کی دجهاد توغ ورپاوه، دجهاد ډیوی خپلی وړانګی داسی خوری کړی چی چه یو بیرته پاتی او بیوزلی ملت له یوه ستر شیطانی طاقت سره ونښت، دبشر په تاریخ کی دغو پنځلس لکه شهیدانو او پنځوس لکه مهاجرینو یو داسی باب پرانست چی نړۍ یی وبوګنوله اولړزه ئی پری راوسته، کله چه یوستر ځواك راوپرځیده، دویم ځواك مټې بډ وهلی او په دی فکر کی شو چی که داسلام د دغو زمریانو چلند او تګلاره په همدی ډول وی، نو پر نړۍ باندی به برلاسی شی او هیڅوك به یی مخه ونه شی

نیولای کله چی هغوی خپل رعب وداب، گولۍ اوباروت بی آغیزی ولیدل نو سیاسی مهری ئی مخ ته کړی، دمجاهدینو د پیرلو او پلورلو کاروبار ئی پیل کړ او دځوکیو او مقامونو دژمنی په لالچ کی ئی راگیر کړل. لنډه داچی هغوی دا هره حربه په دی وآزمویله چه دجهاد مؤسس الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) مرام سرته ونه رسیږی. دمجاهدینو دخپل منځی اخ وډب له امله خو داسلام دښمنان څه ناڅه برپالی شول، خو دامکنه نه وه چی داسلام ډیوه مړه کړی. شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) له خپل شهادت نه لږ څه مخکی په دی پوه شوی ؤ چه په کنړ کی داسلامی امارت ټینګښت، داسلام ددښمنانو او شخصی مفاد پالو عنا صرو لپار دزړه رنځ گرځیدلی دی. شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) به دانتخاباتو په ذریعه دټینگ شوی اسلامی امارت له مقام څخه په لوړ آواز ویل چی:

ای مجاهدینوورونو! راشی چی تاسی ته دافغانستان په لومړنی آزاد شوی ولایت کی داسلامی امارت قیام دروښیم چی په عملی ډول هلته محمدی شریعت نافذ دی عدلیه اوانتظامیه لری. له هرډول تعصب نه ډډه وکړئ او دغه ولایت خپل مرکز وگرځوی، له روس، امریکا او د هغو له انډیوالانو څخه یی پاکه کړی او یو سوچه اسلامی حکومت پکی ټینګ کړی. دغه ناره په اصل کی هماغه ناره وه چی د شهیدشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دشهادت سبب وگرځیده، دغی نکتی ته د عقل اوشعورمتمرکز کول له دی امله هم ضروری دی چی دجهاد په ژوند کی هیڅکله هم دکوم گوند مشر نه دی وژل شوی. شخصی مفاد پال مشران هم محفوظ دی لنډه داچی دغسی یو مجاهد چی دعبوری حکومت کومه پایه هم نه ده پاتی شوی، له امدادی نمایندگیو څخه یی مرستی هم نه دی تر لاسه کړی، نو ولی دمرگ گولۍ پری وچلیدلی؟ زما په خیال چی اوس خو د شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) وژنه څه معمٰی نه ده، په دی قضیه کی د هغه دخپلو پلویانو ملوث کیدنه خوځکه نامکنه ده چی هغه یی دیوه مهربان پلار په حیث منلی ؤ. نن سبا چی کوم سیاسی سطرنج په مخکی پروت دی، چاتری د هغه کومه مهره نشوای جوړولای. د چوکئ او رتبی غوښتونکی هم تری بی هیلی ووځکه چی اسلام دهغه نفی کوی نو ووائی! چه د اسلام له سرلوړئ او نفاذ څخه پرته دالشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دا څه راز جرم ؤ چی داسلامی نړۍ په پوهاومرتبو حلقو کی یی ویر او ماتم خور کړ.

دقاتل تر شا پټ لاسونه او څیری هیڅکله باید په دئ خوښی و نه اوسی، داځکه چی شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د«جما عة الدعوة الی القرآن والسنة» غړی او همغزه دوستان داسی روزلی او پاللی دی چی د یوه امیر په له منځه تلو سره زرونه او لکونه نور دجمیل الرحمن په شان را پیدا شوی دی چی دخپل ستر لاربنود په نه موجودیت کی داسلام بیرغ رپاند وساتی اوددغه سپیڅلی مرام دتر لاسه کولو لپاره خپل سرونه قربان کړی.

شهید الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) په پاکستان کی په شهادت ورسید، نو دا دپاکستان ذمه واری او مسؤلیت دی چه په هغو پټو اصلی لاسونو کی چه دهغه دقتل مرتکب شوی دی، اتکړی واچوی ترڅو گانده دنورو په شاوخواکی د دسیسو لومی خوری نه شی، که دغه عقده ونه سپړل شی نو باور ولرئ چه په دی خاوره کی به د اسلام اواسلامی تشخص ژوند نامکن وی.

دافغانی جهاد لړنی نومیالی

کله چه قلم راواخلم او دهغه نو-
میالی په هکله لیکل شروع کړم چه له
شاندارو او با تدبره کار نامو څخه ئی
دافغان اسلامی تاریخ پاڼی رنگینی
شویدی، دنوموړی ننگیالی دشهادت
افسوسناك حالت او شیبی می چه په
یاد راشی، له ستر گو څخه می
داوښکو سیلابونه د قلم لیکی ورانی
کړی او له گوتو څخه می د لیکلو
جرئت ووځی او کله چه ددی نو میالی
قائد د شجاع تفکر او عازمی حوصلی
سبق را یاد شی، نوبه تن کی می د
صبر او تحمل جذبه را وپاریږی او
ذهن می د نومیالی شهید د ژوند
اصل او پروقاره مقصد ته راوګرځی
او گوتی می په دی وتوانیږی چه پدی
هکله څه لیکل وکړی.

شهیدشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)
دافغانستان دنوی اسلامی تاریخ یو
ستراو رنگین عنوان دی چه دژوند هر
قدم ئی د افغان مؤمن ولس او حتی د
هرمسلمان لپاره یو لوی افتخاراو سبق
دی.

شهیدشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)
د بشری تاریخ په کشمکشونو کی په
پخه عقیده او روښانه حقیقت د باطل
دمقابلی یو فعال او تکړه مبارز ؤ، چه
ټول ژوند ئی دهمدی لاری طی کولوته
وقف کړی ؤ.دوخت د ظالموحکومتونو په
مقابله کی ئی تل دحق آوازپورته کړی
اودهمدی آواز دپورته کولو په سر ئی
دظالمو حکومتونوله لاسه ډیری ستونزی
او رنگ رنگ تکلیفونه گاللی دی، دژوند
ټول بهیرئی د مهاجرت او بی کوری په
ترخو شیبو کی تیراوه او د یو ملنگ په
څیر کله یو خوا او کله بل خوا د کور
کلی څخه فرار او حق ته دافغان ولس د
دعوت او رابللو په خاطر سپیلنی ؤ او
دهمدی مقصد لپاره ئی د ژوند شپی او
ورځی په تلاش کی تیرولی.

د شهید شیخ حمیل الرحمن
(رحمه الله) د فصیح دعوت او نیکو
اخلاقو نتیجه وه چه دلړی ځل لپاره کله
چه په۱۳۵۷هـ ش کال دثوردمیاشتی په
(۷) نیټه په افغانستان باندی د روسی
کمونستانوسورتیغرراخورشو، دمجاهد
قائد د روزل شوو شاگردانو له خوا په
گډآواز دکنړونو په سرشارو دروکی د
کمونیزم خلاف آواز اوچت شواو هر
روزلی مجاهد ئی خپله توره او ټوپك د
کفر د مقابلی په خاطر دعمل میدان ته
راوویستل او دجهاد پلوشی دټول
افغانستان په اته ویشتو (۲۸) ولایتونو
کی خپری شوی او دآزادی ننگیالی
دجهاد میدان ته راووتل او په
افغانستان کی مسلح جهادشروع شو.

دجهاد دبریو او فتحو په بهیر کی
دلړی ځل لپاره د کنړونو ولایت ته
دلړنی آزادی سیمی اعزاز حاصل
شواو دا اسلامی خاوره په (۱۳۶۷)هـ
ش کال دملحد حکومت له ناولی او
خبیث قدم څخه په کامله توگه پاکه او
تخلیه شوه.دشهید شیخ جمیل الرحمن
(رحمه الله) دجامع فکر په بنیاد
دکنړونو مسلمان مجاهدین دیته
وهڅول شول چه ټول مجاهدین پرته له
تنظیمی تبعیضونویوه واحده اسلامی
اداره په کنړونو کی جوړه او دیو
تجربه کار اوزاهدامیر تر قیادت لاندی
دټولو مسلمانانو ورځنی چاری پر مخ
روانی تر څو په کنړونوکی دیو واقعی
امن زمینه برابره شی، حق حقدار ته
ورسیږی، دظالم دظلم مخنیوی وشی،
دټولو هستوگنو خلکو د پت او عزت

خیال وساتلی شي او بالاخره د یو واقعي او په قرآن او سنت دیو ولاړ حکومت بنیاد په کنړکی د ټول افغانستان لپاره کیښودلی شي او د شروع شوی جهاد غایه په کنړ کی د ټول افغانستان لپاره یومثال جوړشی.

دشهیدشیخ(رحمه الله) آرمان چه څنګه ؤ هم هغسی تر سره او پوره شو اوپه (۱۶/۱۰/۱۴۱۰ هـ ق)نیټه په کنړکی د اسلامی امارت تر عنوان لاندی دیوی واحدی اسلامی اداری بنیاد کیښودل شو چه په کی د قرآن او سنت په قانون ټولی ورځنی پیښی اوچاری سمبالیدی اود راتلونکی افغانستان لپاره دیو نوی رونق ځلا وځلیده.

دافغانستان د کنړونو داسلامی امارت اثراتو ورځ په ورځ په ټوله نړۍ کی حیرانونکی انعکاس وموند، نړیوال ددی اسلامی امارت د رغنده حکمت عملی څخه ګوته په خوله اود حیرت په حال کی وو، چه د نړۍ په ډیروسیمو کی دمحکومو مسلمانانو د حوصلو دراژوندی کولو اسباب او په نړۍکی دیو عام اسلامی انقلاب د راتګ امکانات عیار او برابر شول.

دنړیوالو کفری ځواکونو چه په سر کی ئی دمسکو او واشنګټن وینه څښونکی شرمښان دی، دافغانستان دکنړونو د اسلامی امارت دا ورځ په ورځ جدی کیدونکی اثرات دځپلو ځانونولپاره له خطر نه ډک وبلل او داسلامی نظام دا شانداره کردار ورته د کنړ دغرونو له دنګو څو کو څخه یو نه جبرانیدونکی خطر وبریښیده، پدی اساس په دی وروستیو وختو کی ختیځ او لویدیځ په ګډه وکولی شول چه خپله طولانی او اوږده دښمنی ختمه اودنړۍ د مسلمانو ځواکونه دځپلو او محوه کولو په خاطرئی ګډ کوششونه او دسیسی په لاره پلی کړی، نتیجه داشوه چه دمسلمانانو په جامعه کی ئی خپل د مسلمان وژنی او قتل آرمان پدی ډول تر سره کړ چه په دی نږدی وختونو کی ئی لړی د افغانستان دکنړونو ددی شاندار او پر وقار اسلامی امارت پر ضدله تخریبی او نظامی عملیاتوڅخه کار واخیست او ډیرو بی ګناه مسلمانانو ښځو، ماشومانو اوسپین ږیرو پاکی وینی ئی وبهولی اود کنړونو اسلامی خاوره ئی یو ځل بیا دمسلمانانو په وینو سره کړه.

په داسی یو لوی او له رسوائی څخه په ډک جنایت ئی اکتفاو نه شوه اود ۱۴۱۲هـ ق کال د صفرالمظفرد میاشتی په (۲۰) نیټه ئی دافغانستان داسلامی جهاد دموسس او دحق د ریښتنی داعی علامه الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) په وینوئی هم خپل لاسونه سره کړل او داسلامی امت لپاره دیوی عظیمی خلا د رامنځ ته کیدوعاملین شول.

دختیځ او لویدیځ وینه څښونکی شرمښان که هر څومره جیره خواران دحق د داسی ریښتنی داعی دله منځه وړلو په خاطر په کار واچوی، دازمونږ یقین او باور دی چه دا دعوت به نورهم شدت پیداکوی نه سکوت. او بلکه په افغانستان او نوره نړۍکی به دمحکومو مسلمانانو حوصلی لاپسی مظبوطی شی او په افغانستان کی به دیو واقعی سپیڅلی اسلامی نظام دراتلو امکانات برابراو ډیر شی.

که کفری ځواکونه هر څومره په بین المللی سطحه په دی خیال او فکر کی وی چه دافغانستان جهاد او دحق دعوت به دشهید الشیخ (رحمه الله) په شهادت له رکود سره مخامخ شی، دا محض خیال او جنون دی ،ځکه چه شهیدشیخ (رحمه الله) په خپل جهادی ژوندکی داسی شاګردان روزلی چه نن الحمد لله هر یوالشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)دعوت تعقیبونکی او دهغه په نقشقدم باندی تلونکی دی او هر یو دخپل مشر په څیرد شهادت لیوال او شایق دی.

(انشاءالله).

په افغانستان کي دمقدس جهاد د مؤسس اود کنړونو داسلامي امارت دامير، مفکر اسلام اوامام الجهادشهيد الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)

ژوند، دعوت او جهاد

داسلام مقدس دين دحق او حقيقت د يواځينى تحريك اودبشرى فلاح اونيکمرغۍ دواحدضامن نهضت په حيث هغه يواځينى دين دى، چه دلوړتيا او ترقۍ لپاره يى نه يوازى داچه هلى ځلى او کوششونه شوى، بلکه داسلام مينانو او صادقو مؤمنانو يى د تکامل او پيشرفت لپاره خپل سرونه او مالونه قربانى کړى او خپلي سپيڅلى او صادقانه کارنامى ئې دراتلونکو نسلونو او نړۍ والو د عبرت لپاره داسلامى تاريخ غيږى ته سپارلى دي.

ديواکمل الهى دين په حيث داسلام دحقانيت نه علاوه داسلام دبقاء او پيشرفت يو لوى عامل دبشريت دلارښود رحمة-للعالمين محمد صلى الله عليه وسلم پيامبرانه قيادت، صدق او صفا، اخلاص او صميميت،عزم او ثبات اوسالمى اسلامى تربيى اوتعليم نتيجه وه، چه د نبوت له نيکمرغه زمانى نه په وروسته اعصارو کى ئې د هغه د صادقو او مؤمنو پيروانو په وجود کى ځاى نيولى او دشوارلس سوو کالو په اوږد پړاو کى دتوحيد دتحريك سنگرداران دخپلو سرونو اومالونو په قربانيو دقرآن او سنت په معطرو گلانو ښايسته کړى شوى اسلامى بڼ سمسور ساتلى دى او چه کله دبشرى فلاح او نيکمرغۍ په دغه بڼ دشرك، الحاد او بت پرستۍ پرچمدارانو تاړاك راوړى او کله وربانِدى دناوړو دودونو اوبى موردە رواجونو، کور کورانه تقليد، بدعت او نوښت ساړه بادونه را الوتلى،نو الله تعالى ورته په اسلامى امت کى داسى مخلص اوغيرتمند ماليار هم راپورته کړى، چه هم يى دشرك اوالحاد تاړاکونه په شاتمبولي او هم ئې د دغو ناوړو دودونواو بدعاتو له صرصرى بادونو څخه راولاړشوى مال کونډۍ راټولى کړى او يائى دتوحيد بڼ په خپلو وينوخړوب ساتلي دى.

داسلام په معاصر تاريخ کى زمونږ ددغى ادعا ډير ښه ثبوت يوازى دشهيد مجاهدورور شيخ جميل الرحمن (رحمه-الله) په وجود کى څرگند يدلاى شى، چه مونږ غواړو دخپلى دى لنډى ليکنى په ترغ کى داسلام ددغه ستر داعى، نوميالى مجاهد، نابغه رهبر، متدين شخصيت دژوند، دعوت او جهاد په باب بحث وکړو او په دى ډول يو طرفته دشهيد او مجاهد رهبر داسلامى خدمتونو اود قرآن اوسنت دا نفاذ لپاره دهغه دبى کچه قربانيو عشرعشيرحق اداء کړواوبل طرفته په خپلى دى ادعا باندى چه اسلام د مؤمنينو په صادقانه خدمت اود وينو په قربانۍ ساتل شوى، دصحت مهر ولگوو:

په ۱۳۱۰هـ ش کال دکونړونو دولايت دپيچ ددرى دننگلام په کلى کى دمرحوم مولوى عبدالمنان په متدين کورکى يو ماشوم وزيږيد، چه عالم او ديندار پلارئى ورته نوم محمدحسين غوره کړ(ديا دوني وړ ده چه جميل الرحمن نوم ورته دطالبۍ په دوران کي ايښودل شوي دي)، په خپل پلرنى ټاټوبى کى ئې دماشوم توب اوه کلونه تيرکړل او بيا دپلارله توصئې سره سم دزده کړى اوتعليم دحصول لپاره له کوره مسافرشو، خوله خپلى سيمى نه ونه ووت اوهم هلته ئى مروج ابتدائى کتابونه ولوستل او وروسته اسعدآباد ته راغى. دلته دمولوى عبدالخالق په دينى مدرسه کى شامل شو اوالله تعالي

ورکړی نبوغ او لیاقت او زیات کوشش په نتیجه کی یې په ډیره لنډه موده کی دصرف او نحوی فنون اونور مروجه کتابونه ختم کړل. اوبیا دخپل عالم استاد دزیات تاکید اواصرار په وجه دزیاتو علمی پانگو دلاسته راوړلولپاره له سرحد نه راواوښت، سوات ته لاړاودمینگوری په دینی دارالعلوم کی یې اصول الفقه، معانی،ادب،اونورکتابونه ولوستل. دقرآن عظیم الشان دتفسیر اونبوی آحادیثو د دوري لپاره پیښور ته لاړ. ددیني علومو لویه او وروستۍ دوره یي د چارسدي په دارالعلوم کي سرته ورسوله او په ۱۳۳۳هـ ش کال کي که څه هم چه په دیني علومو کي یي دلوړو زده کړو سند تر لاسه کړ، خو په قرآني علم باندي دزیاتي پوهي لپاره یي دقرآن عظیم الشأن ترجمه اوتفسیرله مرحوم شیخ القرآن مولوی محمد طاهر صاحب څخه په پنجپیرکی سرته ورساوه اوخپل پلرنی ټاټوبی (کونړ) ته ستون شو. هغه ولیدل چه په سیمه یی د بدعاتو اوناوړو رسمونو او رواجونو توری لړۍ راخوری وی او دالحاد اوبی دینی مهلك مرض هم په ډیري چټکۍ سره مخ په خپریدو ؤ،خوځوان جمیل الرحمن داسلامی علومودهغي لوئي پانگی په وسیله چه په خپله پاکه سینه کی ئی ساتلی وه، له دغوټولو فسادونو سره مبارزه پیل کړه اوپه ډیره لږه موده کی یی دالله تعالی په خاص مرحمت، خپلی اسلامی پوهی، تدبیر، وعظ اونصیحت، خوږه ژبه اوحسن الخلق اود قرآن او سنت په دلایلو او براهینوسره دخلکو داذهانو تیاره گوټونه رڼا کړل، د خپل جومات له منبرڅخه یی دتوحید درس پیل کړ، خلك یی یوازی دالله تعالی عبادت ته را وبلل او له ناوړو دودونو څخه ئی منع کړل. دتوحید اواتباع السنة دنشرلپاره یي زیات شاگردان وروزل، له لیرو لیرو سیموڅخه به ئی دینی عالمان دعوت کول اوخپلو اسلامی فرایضوته به ئی متوجه کول، د دغو شپه ورځنیو کوششونو په نتیجه کی نه یوازی داچه زیاتو خلکو خپل ژوند د قرآن او سنت له اصولو سره سم عیارکړ، بلکه هغو دینی علماؤچه دمولوی صاحب جمیل الرحمن له اسلامی پوهی څخه ئی رڼا اخستی وه،د شرك،الحاد، بدعت، ناوړودودونو او رواجونو په خلاف د علنی مبارزی ډگرته راووتل، دتوحید اواتباع السنة چغه د جومات له منبر نه کلی کورته راووته، هرځای چه به دقرآن اوسنت په خلاف کوم عمل لیدل کیده، د مؤحدواومؤمنوعلماؤ لخوابه تری خلك راگرځول کیدل او په حسن مجادله سره به یی عام خلك له شرکي اعمالوڅخه منع کول. خوبل خوا هغه مفاد پرست عناصر چه مقبری او زیارتونه ئی د پیسوټکو د گټلواود خپل اقتصادی ژوند د بسیاتوب لپاره استعمالول او د خپلو سرمایو د زیاتوالی لپاره یی د پیرانواومرشدانو القاب ځانته خوښ کړی وو اوخلکوته یی تلقین کاوه، چه په پټو سترگو د دوی پیری او باداری ومنی او دخپلو ټولو مشکلاتود حل او د خپلو ټولو روا او ناروا غوښتنواوهیلود پوره کولو په خاطر ددوی په خانقاؤاودرگاهونو کی ورغړی اوسجد ی کیږ دی،دمولوی جمیل-الرحمن مخالفت ته راپورته شول او په هغه باندی یی ډول ډول تورونه ولگول او د وخت شاهی حکومت ته ئی دهغه په خلاف ضد او نقیض راپورونه ورکړل او گواښونه اوتهدیدونه یی هم ورپسي ضمیمه کړل، خو دی یو کار هم زمونږمجاهد وروړله خپلی اسلامی فریضی څخه وانه ړوه، بلکه دقرآن او سنت دلوړتیا په لاره کی ئی د دغوټولو دښمنوځواکونو دناکامولو لپاره مؤحداو متعهد علماء په یوتنظیمی پلیټ فارم باندی سره راغونډاومنسجم کړل، چه دتوحید ی عقیدی په بنسټ د ولاړدغه تنظیم نوم(امت المسلمه) ؤ.

الشیخ جمیل الرحمن چه که څه هم په دغه وخت کی لاد پنځه کم څلویښتو کالوؤ خو علماؤ او عامو خلکو ورته دتکریم او احترام په وجه د مشرمولوی صاحب خطاب کاوه. دخپل نوی تنظیم دتأسیس نه وروسته دکندهاردخلکو په بلنه هغه ولایت ته لاړ، په لشکر گاه اونورو ورته نږدی سیمو کی یی دوه کاله دقرآن اوسنت دعوت خپور کړاو بیا خپل پلرنی ټاټوبی ته راستون شو. دلته یی د نوودینی مدرسو په جوړولو پیل وکړ. دننگلام په کلی کی ئی د «ریاض المدارس» په نوم د یوی لوئي دینی مدرسی د بنسټ تیږه کیښوده، خو کله چه ئی تعمیراتی کارونه تر زیاتی اندازی بشپړ شول، دوخت دبی کفایت اوړوندحکومت لخوا دتوحید دعقیدی د دښمنانو په غوښتنه ونیول شو اوترډیره وخته د زندان دتورو تمبو شاته

وسائل شو.

مخالفينواوحکومت فکر کاوه چه ګوندی د زندان سختتو او کړاوونوبه د شيخ اعتقادی او ايديولوژيك ثبات له منځه وړی وی او د توحيداواتباع سنت چيغه به د هغه په ستونی کی وچه شوی اودی به ورځخه زړه توری شوی وی.خوددغو ټولو حکومتی سوچونواو انګيرنو په خلاف دغه نوميالی مجاهد او داسلام باجرأته داعی د آزميښت په دغه بټۍ کی کلك او غښتلی وخوت اود قرآن او سنت دانفاذ باعظمته غږيی د سلامخانی مانۍ ولړزوله. خو کله چه دافغانستان په ښوونځيو اوپوهنتونو کی اسلامی تحريك شروع شو، نو مظلوم شهيد په کې دتل لپاره دخپل تنظيم (امت المسلمه) په شمول فعاله ونډه درلوده او په هغوټولو محافلو کی يی ګډون وکړ چه په هيواد کې بشپړاسلامی نظام داستقرار په خا طر جوړيدل، دوخت د بي کفايته رژيم په مقابل کې يې تظاهرات، مجالس او ندوات ترتيبول. د ١٣٥٢هـ ش کال په سرطان کی کله چه په افغانستان کی لومړنی کمونيستی کودتاه سرته ورسيده اوکمونيستانو اودهريانود داؤد په حکومت کی د دولت نظامی اوملکی چارې په لاس کی واخستی، مولوی جميل الرحمن په هيواد کی دحق دلاری هغه لومړنی مبارزو، چه ددغه غيراسلامی حکومت په خلاف ئی چيغه پورته کړه. په کونړ کی کلی په کلی اوکور په کور وګرځيده اوخلکو ته ئی حقايق په ډاګه کړل اود حکومت اصلی څيره ئی ورته بربنډه کړه. داؤدخان چه خپل ځان دملی سياست اوحرب دډګر يکه تازپهلوان ګاڼه اوخپل هرمخالف يی بی له دی چه څه کارنامه سرته ورسوی، په لومړنيو لحظوکی له منځه وړی ؤ، دا ځل يی هم دخپل خاص تکبراونخوت په جذباتی انداز کی د ١٣٥٤هـ ش کال دسرطان په ٢٨نيټه دسهار په نهوبجو زيات شمير کومانډو عسکرد الشيخ جميل الرحمن په کور راوغورزول، ترڅو داسلام دغه مجاهد داعی په خپلو ظالمانه منګولو کی بی له درنګه د داؤد داستبداد په مانۍ کی حاضر کړی، خو الله تعالی د خپلې لارې د مجاهد مرسته وکړه، له خپل ټوپك سره ئی غره ته مخه کړه او په دی ډول دحکومت دسيسه د هغه د نيولولپاره ناکامه شوه.

له همدغی نيټی څخه دالشيخ جميل الرحمن په ژوند کی نوی پړاو پيل شو، ددعوت تر څنګه وسلوال جهادي محاذ خلاص شو؛ هغه پړاو چه دی ورسره کاملاً نا آشنا ؤ، مګر ورته آماده او سترګی په لاره - هغه مرحله چه دی پکی له خپل جومات او خپل کلی څخه دغرونواوځنګلونو په لور رهی شو اوله ښارونو څخه يی صحراخوښه کړه او هغه لوبه چه دی پکی دحق ويلو په جرم له خپلو ماشومو بچيانو سره دشفقت او مهربانۍ څخه محروم شو، له غرڅنيواو صحرانشينانو سره ئی ناسته ولاړه شوه او د کتابونو له پيټی سره ورباندی ټوپك هم ورزيات شو.

هو:دجهادلوبه -هغه هم دالله تعالی لوری ته د دعوت ترڅنګ- هغه غرونو ته لاړ، په سمڅوکی اوسيده، پرګنی ئی دالله-تعالی لورته رابللی،له مادی تمدن څخه ورته وژړل، دبی بند وبارو او عياشو حکومتونو له لاسه ئی ورته فرياد وکړاوهغه مفاسد ئی ورته يو په يو مخی ته کيښودل چه دغو حکومتونو دتمدن اوترقی په نوم په ښارونو کی رايج کړی وو. ورته وئی ويل:ای غرڅنيو اوبانډه چيانو! راځۍ چه پورته شو، دالله تعالی په نوم لوړه وکړو او خپل ښارونه دفساد او الحاد له هغی بلانه خلاص کړو چه حکومت ورته «دتمدن اوجمهوريت» نوم ورکړی او زمونږ د مظلوم اوبی خبره ملت په مرۍ ئی منګولی ښخی کړی دی، زما واورئ، مه پريږدی چه دماديت او دهريت دغه بلاد ښارخلك ترخپل ستونی تيرکړی اوبياتاسو پلومخه کړی، ګورئ بيا به ئی مهارنه کړای شئ.د مولوی جميل الرحمن دغه مخلصانه غږکه يوخوا په کلو اوبانډو باندی داسرافيلی شپيلی په شان لګيده چه ويده زړونه ئی راويښول اودخپل سرنوشت په فکر ئی اخته کول نو بل خوائی دښارونو په واکمنانو باندی دويری او دهشت څادرغوړولی ؤ او دخپل ټول نظامی ډول ډال او مجهزوفرقوسره سره له خپل سيوری څخه هم ويريدل. په شرقی زون کی د الشيخ جميل الرحمن د دعوت اوجهاد انګازی دومره په شور زوږسره خپريدی چه حکومتی مقامات ئي له سختو انديښنو سره مخامخ کړي وو.

او کابل ته دمسلسلو عاجلو راپورو په ترڅ کی دسخت خطرڅرګندونی کیدی.همدغه وجه وه چه د ۱۳۵۵هـ ش کال د پسرلی په سختوبارانی شیبوکی داؤد خان په ناڅاپی ډول دکونړد ولایت مرکز(اسعدآباد) ته ورسید او په خپله له ګواښ او تهدید نه په ډکه وینا کی ئی دکونړدخلکو په اجتماع کی وویل:«اطلاع یافته ام که مولوی جمیل تشریف آورده وباز هم تشریف می آورد، به وی تفهیم کنید که ازاعمال تخریب کارانه اش که علی الرغم خلاف اراده مردم شریف کنر براه انداخته دست بکشد ورنه به کیفراعمالش خواهد رسید» داؤد خان دخپل دغه اضطراری سفرپه ترڅ کی د کونړدولایت ټولو عسکری اوامنیتی څواکونو ته امروکړ په هره وسیله چه وی جمیل الرحمن یاخوژوندی ونیسی اوکابل ته ئی را واستوی اویاداچه له منځه دی ئی یوسی. په دی وجه زمونږمجاهد مشر پداسي حال کي چه دخپلی سیمی زیات خلك ئی په هیواد کی دالهی نظم داستقرار لپاره منظم کړی او قربانی ته ئی آماده کړی وو، پاکستان ته هجرت وکړ. داهغه وخت ؤ چه حکومت داسلامی نهضت په خلاف پراخه حملی پیل کړی او د دغو ظلمونو او نارواؤ په نتیجه کی له هیواد څخه د هجرت سلسله هم شروع شوی وه، زیاته موده ئی په قبایلی علاقوکی اسلامی موعظی وکړی او خلکوته ئی داسلام دمقدس دین مزایا تشریح کولی اود دین له حقیقت څخه ئی خبرول.داهغه وخت وچه داسلامي تحریك یوشمیر مشران پیښور ته راغلی وو- او دلته په اختلافاتواخته وو شهیدشیخ بیا پیښورته راغی، دحکمتیار او استاد ربانی ترمنځ ئی داتحاد اواتفاق د پیداکولو لپاره هلی ځلی پیل کړی او خپل جوړشوی او په پښودریدلی تنظیم (امت المسلمه) ئی دنوی اتحاد دجوړښت اوبقاءلپاره په هغه کی مدغم اعلان کړ او پخپله ئی داتحاد دیو مخلص مؤسس غړی په حیث په جهادی خدمت پیل وکړ.

د ۱۳۵۷هـ ش کال دثوردخونړی کمونستی کودتا سره سم چه یو شمیرمعلوم الحاله دهریانو پکی داقتدار په کرسی قبضه وکړه، مولوی جمیل الرحمن دمجاهدینو په اتحادی شوراکی چه قاضی محمد امین وقاد صاحب ئی مشری په غاړه درلوده، دکمونستی دولت پر خلاف دمسلحانه جهاد تجویز وړاندی کړ چه په کامل ډول تائید شوخو له دی سره بیا هم مولوی جمیل الرحمن خپل جهادی ګروپونه په کونړ کی منظم کړل او ددهری دولت په خلاف ئی مسلحانه جهاد پیل کړ، دغه وخت په افغانستان کی د مقدس جهاد مرکز د کونړ سیمی وی، ننګلام هغه کلی ؤ چه جمیل الرحمن پکی زیږیدلی اولوی شوی ؤ اود قرآن اوسنت لوری ته دعوت ورڅخه پیل شوی ؤ، دهیواد هغه لومړنی کلی ؤ چه دمقدس جهاد په لاره کی قربان شو، خلقی دولت په خلکو باندی درعب داب دغورځولو لپاره داکلی په بی رحمانه ډول بمبارد کړ اوځلور زره کورونه ئی پکی په کنډوالو بدل کړل د مجاهدینو هغه لومړنی ډله چه د مولوی جمیل الر حمن د هدایت له مخی دکونړد ولایت شیګل ته واستول شوه، سل تنه مجاهدین پکی شامل وو. کله چه دغه ډله شیګل ته ورسیده، په لومړی شپه دخلقی دولت له حملی سره مخامخ شوه چه څلورتنه مجاهدین دجګړی په ترڅ کی دشهادت لوړمقام ته ورسیدل او همداڅلورتنه په افغانستان کی دعمومی مسلحانه جهاد لومړنی شهیدان دی، وروسته دمجاهدینو دوهمه ډله پیچ دری ته ورسیده او په مسلحانه جهادئی لاس پوری کړ، له همدی ځایه دعمومی جهاد لړۍ اودفتوحاتوځپې پیل شوی چه ورو ورودافغانستان نورو سیمو ته ورسیدی. په دی دواړودروکی مسلمانو مجاهدینو زیاته اندازه وسله له خلقی پوځیا نو څخه په غنیمت واخسته چه دافغانستان نورو سیمو ته واستول شوه. داسیمه بالآخره داسلا م اوحق غوښتنی دیوی مستحکمی او مضبوطی کلا په حیث وپیژندل شوه اوله دریومیاشتونه په کمه موده کی په الله تعالی مینو مجاهدینو وکولی شول چه دغه سیمه د ملحد دښمن له قبضی نه آزاده کړی. داسیمه چه مولوی جمیل الرحمن پکی پخپله دمجاهدینوقومانده په غاړه درلوده، له دی جهته هم دزیات اهمیت وړده چه دآزادی نه وروسته تری دنورو سیمو دمجاهدینود تګ راتګ لپاره آسانتیاوی برابری شوی اودپنجشیر، لغمان او نورو ولایاتو مجاهدینو ترزیاتو کلونو پوری په دغه لارتګ راتګ درلود، له

بله پلوه دتعلیم او تربیې چارې په دغه سیمه کې په ښه ډول سرته رسیږي او دجهاد اودعوت بې شمیره مرکزونه په فعالیت بوخت دي چه ټول دمولوی جمیل الرحمن داسلام دوستي او معارف دوستي شاهدي وائی .

شهید الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دجهاد دمیدان هغه یواځینی قهرمان ؤ چه په شهامت اومیړانه دملحدانو او دهریانو په خلاف وجنګید، په داسي حال کې چه هیڅ مادي زیرمه ورسره په لاس کې نه وه، په ډیرو بسیطو اوساده وسلو ئې، چه زیات شمیرئې مجاهدینوپخپلوپیسواخستي وې، دجهاد جګړه پیل کړه، خو دالله تعالی په مرحمت په ډیرلږ وخت کې دوسلې دکمبود مشکل تر څه حده پورې په خپله دجهاد په سنګر کې حل شو او زیاته اندازه وسله له خلقي مزدورانو څخه دغنیمت په ډول واخستل شوه چه د مولوی جمیل الرحمن دهدایت له مخې به همیشه یوه اندازه ولجه شوې وسله دنورو ولایاتو مجاهدینو ته استول کیده.خو څومره چه په افغانستان کې دجهاد لمن پراخیده او ورځ په ورځ نوی نوی بریالیتوبونه دمجاهدینو په برخه کیدل، هغومره په پیښور کې دجهاد ی تنظیمونو دمشرانو تر منځ داختلاف او بی اتفاقي داور لمبې اوچتیدې او په یو بل باندې د بې اعتمادۍ احساس پیاوړی کیده، دغه زړه دردونکي حالت دجمیل الرحمن په شان د مخلصو مجاهدینولپاره دسخت غم اوتاثرباعث کیده. هغه یوځل دجهادسنګرپریښود، پیښور ته راغی او دجهادي تنظیمونو دصفوفو دوحدت په خاطر ئې خپل کوشش اوهاند پیل کړ. ددغو هلو ځلو په نتیجه کې یووخت اتحادمنځ ته راغی، خو ډیر زر منحل شو، وروسته بیا دعمومی اتحاد د تأسیس لپاره فعالیت پیل شو او داستادسیاف په مشرۍ نوی اتحاد رامنځته شو چه دلږې مودې په تیریدلو سره اتحاد یوازې د یوتنظیم په حیث پاتې شو او بی اتفاقي نوره هم زیاته شوه. کله چه شهید مولوی جمیل الرحمن اوملګرې ئې د تنظیمونود قیادتونو له اتحادونو څخه مأیوس شول، نو دجهادي ملګرو اوعلماؤ په مشوره ئې خپل پخوانی تنظیم (امت مسلمه) دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان په نوم بیا راژوندی کړاودهغه د پرمختګ او پیاوړتیا طرف ته ئې خپله پاملرنه واړوله، مدرسې او دعوت مرکزونه ئې تأسیس کړل، دافغانستان په مختلفو ولایاتو کې ئې جهادي مرکزونه او محاذونه جوړکړل چه د دغو محاذونو شمیر په لږه وخت کې شپږ‌څلویښت ته رسیده اودمجاهدینو شمیر ئې پنځوس زره ته ؤ.

په دې ډول داسلام نومیالی زوی مولوی جمیل الرحمن چه دخپل ژوند اوږده موده ئې داسلام داساسي اصولو په څرګندولو، بیا په خپل کلي اوولس باندې دقرآن اوسنت دارزښتناکو قوانینو دتطبیق اودخلکوله غاړو څخه دشرک اوبدعت، ناروا رسمونو او رواجونودځنځیر ونوپه ماتولو تیره کړې او په افغانستان کې د کمونستو رژیمونو د رامنځته کیدو سره ئې لادتبلیغ او دعوت په څنګ کې دمسلحانه جهاد دتأسیس او پیل ستره وظیفه په غاړه اخستې وه او خپل ژوندئې داسلام او جهاد خدمت ته وقف کړی ؤاو دکفر او الحاد په خلاف ئې دخپلو مجاهدو ملګرو سره اوږه په اوږه دجهاد دسنګر کړاوونه اوزحمتونه ګاللي وو، د مخلصانه جهاد اوداسلام له مقدس دین سره دخپلې پاکې مینې په نتیجه کې داسلامی سنګر د مجاهدینو په زړونو کې دده مقام او ارزښت نور هم زیات شواود یو مجرب، فصیح اوبلیغ داعي او واعظ اوداسلامی سنګردیو قهرمان مجاهد له شکل نه ئې دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة دجهادي تنظیم درهبرپه حیث تبارز وکړ. شهید شیخ جمیل الرحمن دخپل جماعت دتګلارې په حیث دوه مهم او اساسي هدفونه اعلان کړل:

۱- دقرآن او سنت لورې ته دعوت.

۲- دمقدس جهاد ادامه تر هغه وخته پورې چه دکفر او شرك او الحاد نه راولاړه شوې فتنه له منځه لاړه شي او دالله تعالی په حُکمه دالله تعالی نظام حاکم او مستقر شي.

ددغې تګلارې اعلان په لږمړي وخت کې دعجیبو انعکاساتو سره مخامخ شو. که دتګلارې دوهم جزء یعني دمقدس جهاد دادامي ژمنه دکابل په قصرونو کې دناستو بدمسته کمونستانو په زړونو باندې دحسرت او ناامیدۍ توري لړې

راخوړئ کړی، نوموړی جزء یعنی دقرآن او سنت لوری ته ددعوت تعهدهم ددین او مذهب په لباس کی دسیاسی سوداگرانو دتود بازارد کساد لپاره دخطر اعلان اوپیش خیمه وه او همدغه وجه وه چه دجماعة الدعوة دتأسیس سره سم له هری خوانه د غلطو فتواگانو او اعتراضونو، تهمتونو، بهتانونو او پروپاگندونو یوه داسی مجهزه دستگاه په کار واچول شوه چه دخپل مرکز غږبه ئی په یو وخت او مشابهو الفاظو کی دټولو فرعی مراکزو له لاری خلکو ته رساوه او عامه اذهان به ئی دجماعة الدعوة دعالی سپیڅلو اسلامی اهدافو په باب مغشو شول اوداسلامی دعوت او جهاد د دغه ستر کانون د زعامت په سپینه جامه به ئی توری ټاپی لگولی.

د دغو بی مورده او بی حقیقته تهمتونو او پروپاگند ونو په مقابل کی ثبات، زغم او تحمل څه اسانه خبره نه وه. ډیرداسی کسان وو چه دعالی تعلیماتو په ډگریانو او اوږدی مبارزی باندی په افتخارکولو سره به ئی له هر چانه وړاندی په محافلو اومجالسو کی دتقریر او په جریدو اورسالو کی دتحریر له لاری دقرآن او سنت دنفاذ لپاره د قربانی ورکولو ډبری په سینه وهلی، خود دغو پروپاگنډو په وړاندی ئی تاب له لاسه ورکړ اودخپلو سیاسی گټو دبازار دسړښت له ویری ئی له شرایطو او محیط سره په سازش قناعت وکړ. مگرشهید مولوی جمیل الرحمن چه داسلامی دعوت او جهاد په شل کلن اوږد اوله کړاوونو او ربړونو نه په ډك سفر کی دډول ډول ازمایښتونو په بټیو کی لکه فولاد کلك اوغښتلی شوی ؤ، بیله دی چه دشرایطو اومحیط خیال وساتی اوبیله دی چه دخپلو سیاسی گټو تصور وکړی اویائی دمرگ او ترورتهدید ونه په اراده اوتصمیم کی څه خلل پیدا کړی، په پوره متانت اوشهامت سره ئی له الله تعالی سره خپله وعده قدم په قدم تعقیب کړه او دقرآن اوسنت لوری ته دخلکو درابللو اودکفر اوالحاد په خلاف د تودی جگړی د ادامی فرایض ئی پر مخ بوتلل.

زموږ مشر وروړشهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) داسلامی سنگردیو قهرمان مجاهد په حیث دجهاد د معرکی د مجاهدینو او د روسی وحشت په وسیله د تباه شوی او مصیبت ځپلی مسلمان ملت اود کلیو اوبانډو له موجودو مشکلاتو اوصعوبتونوسره ډیر ښه آشنا ؤ.هغه د مجاهدینو د نظم او نسق او دجماعة دمالی توانمندی په حدودو کی داسلام دسنگردارانو د مشکلاتو دلیری کولو سره سره مجاهدینو ته داتوصیه هم کوله چه دجهاد منزل ډیر اوږد او له مشکلاتو ډك دی اوتر هغه چه دقرآن او سنت په بنسټ یو اسلامی دولت په هیواد کی نه وی ټینگ شوی، دجهاد وسله په ځمکه ایښودل نه بخښونکی جرم دی. خوموږ باید داسلام دسپیڅلی نظام دتطبیق د پاره په مبارزه کی له هر څه نه وړاندی په خپل ځان کی هغه صفات پیدا کړو چه قرآن او سنت د مؤمن مجاهد لپاره ټاکلی دی.

الشیخ جمیل الرّحمٰن(رحمه الله) دجماعة الدعوة له تأسیس سره سم ددعوت، تعلیم او جهاد چارو ته زیاته پراختیا ورکړه، خومره ئی چه جهادی سنگرونه پیاوړی کول اود مجاهدینو ترمنځ ئی داتحاد او ورورگلوی د ټینگښت لپاره هلی ځلی کولی، په هماغه اندازه ئی دمهاجرود ماشومانو او دافغانستان دراتلونکی نسل د اسلامی تربیی لپاره یو لړ گټور پروگرامونه پیل کړل. په تیره بیا د یتیمانو بچو تعلیم او تربیی ته ئی خاصه پاملرنه وکړه، د افغانستان په آزادو سیمو اود مهاجرینو په کمپو نوکی ئی دینی مدرسی جوړی کړی چه شمیر ئی دڅلورسوو نه زیات دي. په دغو مدرسو کی له دیرشو زرو نه زیات ماشومان په زده کړه بوخت دی، برسیره پردی دجماعة الدعوة مؤسس د یتیمانو لپاره ځانگړی دارالایتام هم جوړ کړی چه دجهاد دشهیدانو ځامنو ته پکی اسلامی تعلیم او تربیه ورکول کیږی؛ بل خوا جامعة الدعوة او المعهدالشرعی هغه تعلیمی مؤسسات دی چه شهید شیخ(رحمه الله) دافغانی ځوانانو دسالمی تربیی او په اسلامی علومو کی د هغوی دزیاتي پوهی او معرفت د لاسته راوړلو لپاره تأسیس کړی دی. د پیښور په جامعة الدعوة کی له پنځه سوه تنونه زیات ځوانان په زده کړه بوخت دی او المعهد الشرعی یوازی دداعیانو د تربیه کولو چاری سرته رسوی. له دی نه علاوه ئی په بیلا بیلو کمپونو کی د دعوة مرکزونه پرانستلی چه علما پکی د دعوة وظیفه په غاړه لری. په افغانستان باندی

دروسی استعمار ددولس کلن تاړاك په اوږده موده کی الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) خپل زیات وخت د مسلحانه جهادچارو ته وقف کړی ؤ او دجماعة په زرګونو مجاهدین دافغانستان په اوولسو ولایاتو کی دروسی یرغلګرانو او دهغوی دخلقی او پرچمی لاس پوڅو په خلاف دمقدس جهاد په جګړه بوخت وو. د هغه د پرله پسی جهاد ی کارنامو په نتیجه کی ترټولو لومړی روسی قواؤ دکونړ په ولایت کی شکست وخوړ او دملحد رژیم ټول پوځی مرکزونه اوچونی دمجاهدینو په لاس فتح او دولایت مکمله آزادی اعلان شوه. وروسته له هغه دمجاهدینو په لاس پدغه آزاد ولایت کی دیوی واحدی اسلامی اداری دجوړیدلو پروګرام ترلاس لاندی ونیول شو.

ددغه هانداوکوشش لومړی غونده په ۱۳٦۸/۷/۲۲نیټه دولایت په مرکزاسعد آباد کی جوړه شوه چه دمقدس جهادقومندانانو، علماؤ، سپین ږیرو او قومی مشرانو پکی برخه واخیسته اوداسلامی امارت دتأسیس ضرورت ئی تائیدکړ.

هغه پنځلس کسیز کمیسیون چه دجهادی تنظیمونو دباصلاحیته نمایندګانو په ګډون جوړشوی ؤ، پریکړه وکړه چه داسلامی امارت دقیام لپاره دی انتخابات سرته ورسیږی. په آزادو او پرامنو انتخاباتو کی جماعة الدعوة الی القرآن والسنة قاطع اکثریت لاسته راوړ او دمنتخبی شورا دټولو غړو په غوڅه پریکړه دافغانستان داسلامی جهاد مؤسس او اسلامی مفکر الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دکونړونو، داسلامی امارت د منتخب شرعی امیر په صفت وټاکل شو او دشورا غړو ورسره دشرعی بعیت لوړه وکړه اوپه دی ډول ددولس کلن جهاد اوقربانی په نتیجه کی دکونړد آزادی شوی سیمی هغه ستره خلا ډکه شوه چه دشرعی اسلامی امارت دکمبودپه وجه د دغی مجاهدپروری سیمی په امنیت اواداره کی رامنځته شوی وه. الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دکونړ داسلامی امیر په حیث دخپلی ټاکنی سره سم په کونړ کی اسلامی شریعت نافذکړ او اعلان ئی وکړ چه دسیمی ټولی معضلی به داسلامی شریعت په رڼا کی حل وفصل کیږی.

له دی نه علاوه په سیمه کی دامنیت دټینګښت لپاره یو دوه زره کسیز امنیتی ځواك جوړ شو. په کونړ کی عمرانی چاری داسلامی امارت له خوا پیل شوی، دکونړ په حدودو کی هر چاته دامنیت ډاډ ورکړی شو او ترچترال پوری دمسافرو تګ راتګ دپوره امنیت په فضاء کی سرته رسیده؛ داسلامی امارت له تشکیل نه وروسته دمفسدو عناصرو په خلاف تصفیوی عملیات سرته ورسیدل چه دهغو په ترڅ کی زیات شمیرهغه غله اوداکوان چه په پاکستان کی له قتل او غارت نه وروسته کونړ ته تللی وو، دخپلو اعمالو په سزاء ورسیدل. .داسلامی امارت له قیام اودامنیت له ټینګښت سره سم په سیمه کی تجارتی کاروبار مخ په وړاندی لاړ، دکرنی ځمکی آبادی شوی او هره ورځ به لوترلوه ځلور سوه دسپرلی موټری له باجوړنه اسعدآباد ته تلی راتلی.

په دیر اوباجوړکی له سختی زلزلی نه وروسته دکونړ داسلامی امارت له خوا اوه لکه نقدی روپی،خیمی او دضرورت وړ نور مواد دزلزله زپلو انصارو ورونو له پاره ورکړل شوی، دکونړ لیرو لیرو سیموته به خلك دشپی تلل راتلل، خو دغلا اولاری وهلوهیڅ کومه واقعه رامنځته نه شوه. دامربالمعروف دفتر پرانستل شو، په جوماتو نوکی په منظم ډول درس قرآن پیل شو اوهغه جوماتونه چه دروسانو دوحشیانه بمباری په وجه شهیدان شوی وو، له نوی سره جوړشول او په اسعدآباد کی یو لوی جامع جومات جوړشو. دکوکنارو په کرلو باندی سخت بندیز ولګید او دمخدره موادواستعمال اوخرڅلاو جرم اعلان شو. او هغه وخت چه داسعدآباد دښار دکاندارانو اسلامی شریعت او امارت ته داحترام دڅرګندولو په خاطر په رضاکارانه ډول مخدره موادو او سګرټو او نسوارونه اور واچاوه او وئی سوزول، داسلامی امارت له خوا ورته معاوضه

ورکړی شوه. لنډه داچه د اسلامی امارت قیام او په سیمه کی دمحمدی شریعت انفاذ دشهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه-الله) هغه تل پاتی کارنامه ده چه زموږ دهیواد تاریخ به ئی په خپلو ویاړلو پاڼوکی ثبت کړی.

داسلامی امارت له تشکیل نه وروسته دکونړ له هر اوسیدونکی سره بیله کوم تنظیمی، ژبنی او قومی توپیراو امتیاز نه پوره انصاف اوعدل کیده، دسیمی امنیت په ډیر ښه شان تأمین شو،دقضاء،ښوونی او روزنی، امنیت، روغتیا، نشرواشاعت او تجارت دفترونه فعال شول، دکونړ بیا ودانولو پروګرامونه تر لاس لاند ی ونیول شول او خیریه مؤسسو ته بلنه ورکړی شوه چه د سیمی په تعمیر او ترقی، دسرکونو او پلونو په جوړیدلو او دکرنی دځمکو په آبادولو کی له خلکو سره مرسته وکړی، دخلکو دعامه اړتیاؤ دپوره کولو او دغذائی موادو دکمبودله خطر څخه دنجات لپاره، اسلامی امارت اسعدآباد ته نږدی زراعتی فارم او دچرګانو فارم جوړ کړل چه خلکو ته به ئی په ارزانه بیه سبزی جات او چرګان وراندی کول.

په کونړ کی دحکمتیار ډلی په دی وجه چه دانتخاباتو په ترڅ کی ئي دجماعة الدعوة په مقابل کی ماته وخوړه او دامارت دقیادت نه محرومه شوه، دنفاق او ګډودی او تخریبکاری لاره غوره کړه او غوښتل ئی چه اسلامی امارت خپلو جهادی اهدافو ته درسیدلو په لارکی ناکام کړی. په دغه دوران کی دحزب اسلامی دشورا ځینوغړواو قومندانانو چه په حزب کی داوچتو عهدو او منصبونو لرونکی وو، دخپل اسلامی مسؤلیت دسرته رسولو په منظور له هغو حزبیانو سره چه پخوا ئی داسلامی امارت سره تعهدات کړی وو، هم خبری وکړی، خو دغه خود غرضه حزبیان دخپلو شخصی ګټو دتحفظ په غرض له خپلو کړو تعهداتونه منکر شول او دمخالفت لار ئی غوره کړه، نو دحزب اسلامی دغومؤمنو قومندانانو او دولایتی شورا ځینو غړو د خپل اسلامی او شرعی مسؤلیت په بناء له اسلامی امارت سره بیعت وکړ چه داسلامی امارت دبقا لپاره به هر ډول مالی او ځانی قربانی ورکوی، دغه وروڼه له اسلامی امارت سره تربیعت وروسته دامارت داجرائیه شورا په غړیتوب ومنل شول او ددغو مجاهدو وروڼو له راتګ نه وروسته دنورو تنظیمونو قومندانانو او مشرانو هم دکونړ په سطحه خپل بیعت له اسلامی امارت سره اعلان کړ. دحکمتیار ډلی ددی پرځای چه دصمیمیت او ورورولی فضاء ئی رامنځته کړی وای، داسلامی امارت په مقابل کی ئی خپل مخالفت نورهم زیات کړ اوله شر اوفساد نه ډك قدمونه ئی پورته کړل او په داسی وخت کی چه دخیر غوښتونکو مسلمانانو او داسلام او جهاد دخواخوږو او دردمندو له خوا ددغه اختلاف دله منځه وړلو لپاره هلی ځلی روانی وی اوداکوښښ کیده چه داسلامی امارت دغه خطر دسولی او امنیت ا و اسلامی اخوت دیونمونوی ټاټوبی په توګه پاتی شی، داسلام دښمنانو خپله کرغیرنه او خونړی توطیه په کار واچوله او په هغه اقدام کی بریالی شول چه ددوی په زعم اوفکر داسلامی امارت د له منځه تللو او دقرآن او سنت داسلامی نظام د رانسکورولو شوم او ناوړه هدف ته درسیدو وسیله ګڼل کیده او هغه داسلام دمفکر او امام الجهاد مولوی جمیل الرحمن(رحمه الله) دشهادت غمګینه پیښه وه چه هیچا باور نه شوکولی چه داسلام دغه نومیالی زوی او دافغانستان دجهاد دغه ستر رهنما دداسی چا له لاسه په شهادت ورسیږی چه ځان ته مسلمان وائی او خپل وحشیانه هدف ته درسیدو لپاره له مبارك قرآن نه دقتل دوسیلی کار اخلی.

دافغانستان دجهاد ټولو خیروونکو په خپلو راپوروونکی لیکلی دی چه:

دالشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) قتل دافغانستان دجهاد په خلاف د یولوی او منظم سازش او دسیسی یوه کړی وه چه د اسلام دښمنانو په خاصه هوښیاری او زرنګی جوړه کړی وه.

دشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دقتل لپاره عبدالله رومی نومی یو مصری ته تربیت ورکړی شوی و. چه دمصر داخوان المسلمین دتنظیم غړی و. دالجهاد دمجلی کارکن ؤ، نوموړی ته دتربیت په دوران کی دسلفي تحریك په مقابل کی نفرت اوکرکه په ذهن کي کرلي شوی وه او بلآخره داسلامي حکومت دتأسیس دشمنانوددغه ناوړه جرم ارتکاب ته هڅولی وه.

د۱۹۹۱کال داگست دمیاشتی په دیرشمه نیټه دجمعی مبارکی په ورځ عبدالله رومی په باجوړ کی دشهید شیخ جمیل-الرحمن(رحمه الله) هستوګنځی ته راغی. په دغه وخت کی دعربی مسلمانو وروڼو یوه جرګه دجماعة الدعوة او حزب اسلامی ترمنځ داختلافاتو دلیری کولولپاره له مولوی صاحب سره په خبرواترولګیاوه.دمولوی صاحب حفاظتی ګارډ دافکر وکړ چه دغه سړی هم دسولی دجرګی غړی دی، په دی وجه د هغه له تالاشی اولټون څخه منصرف شول، هسی خو په عامو وختو نو کی هم دعربی میلمنو تالاشی او لټون نه کیده او د همدغه رعایت اوامتیازنه دناوړی استفادی لپاره یو عربی شخص تاکل شوی ؤ.

دواقعی دعینی شاهدانو وینا ده چه له غرمی نه وروسته په پاوکم یوه بجه مولوی صاحب دجمعی دلمانځه داداء کولو په نیت اودس وکړ او بیا په یوه چوکی کیناست او له یو تن جهادی قوماندان سره ئي خبری کولی، لائی خبره پای ته نه وه رسولی چه عبدالله رومی قرآن شریف په لاس دمولوی صاحب لور ته په د اسی انداز کی راروان شو چه ګومان کیده دکومی مسلی پوښتنه تری کوی، کله چه مولوی صاحب مخ ورواړاوه او غوږ ئی دخبری اوریدلو لپاره ورنږدی کړ، هغه بدبخت ورباندی دتومانچی دری دزی وکړی،مولوی صاحب په لوړ آواز(الله اکبر) ووایه او درنګ شیبی له دشهادت له عظیمی مرتبی سره دخپل حقیقی مالك په حضور مشرف شو، (انا لله وانا الیه راجعون).

دشهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) ژونددااسلافو دژوند یو غوره مثال ؤ. هغه خلیق، بردبار، فیاض او علم دوست شخصیت ؤ، دهغه کوشش دا وه چه خپل ژوند دقرآن او سنت سره مطابق تر سره کړی، دعاجز او منکسرطبیعت لرونکی ؤ. دسهار په اتو بجو به دمجاهدینو، طالبانو او علماؤدخدمت لپاره له کوره را بهر شو او له هغو لیکو سره به ملګری شو چه دمقدس جهاد دجګړی کونډو او یتیمانو به د ده دکورد دروازی په وړاندی جوړی کړی وی. هغه به چه دشهیدانو کونډی رنډی او یتیمان لیدل نودسخت درد او غم احساس به ئی کاوه او څومره ئی چه له وس اوتوان نه پوره وه، د کونډو او یتیمانو داحتیاجاتو په رفع کولو کی ئی ورسره مرسته کوله، ورځ به ئی دجهاد د سنګردارانو په تنظیم،له علماؤ سره په مشورو اود جهادی چارو په انسجام کی تیره شوه، دشپی تر دولسو بجو پوری به ئی خپلی جهادی او دفتری چاری سرته رسولی، بوډی به ئی دمجاهدینو او میلمنو سره خوړله، په خوراك څښاك او ناسته ولاړه کی دبی ځایه تشریفاتو او خودنمائی سخت مخالف ؤ.

دقرآن مبارك له حفظ سره ئی د زړه مینه درلوده ، په ورستیو کلونو کی ئی دزیاتو جهادی مصروفیاتو سره سره دالله تعالی کلام په خپله پاکه سینه کی حفظ کړ، دسفر په دوران کی به ئی په موټر کی هم قرآن شریف تلاوت کاوه او دشپی یوه برخه به ئی د تهجد په لمانځه تیروله.

هغه په خپل ژوند کي دزرګونویتیمانو دکفالت بندوبست وکړ، خو دخپل اولاد لپاره ئی هیڅ اثاثه جمع نه کړه، له میلمنوسره ئی زیاته مینه وه او پخپله یو شفیق دوست ؤ، دمیلمنو به ئی زیات عزت کاوه او په خاصه مهربانی سره به ئی رخصتول. شهید مولوی صاحب(رحمه الله) د حسنه اخلاقو یو ژوندی مثال ؤ.زمونږ شهید مشرته دجماعة دجهادی،

علمي او خیریه چارودسمون او انسجام لپاره دملل متحد له مرستو څخه هیڅ برخه ورنه کړی شوه، خو هغه دیو باوقار مؤمن مجاهد په حیث دجماعة ټولي چاری دمسلمانانو د اعانو او عطیاتو په وسیله مخ په وړاندی بوتللی او په اروپائی اوامریکائی دربارونو کی ئي دذلت سر ټیټ نه کړ.دیو مؤمن اونومیالی مجاهد په حیث دنړی دستر مادی طاقت په وړاندی وجنگید او دنومیالی او سرلوړی مجاهد په حیث له دنیا نه رخصت شو.

دجهاد په اوږده موده کی ئی نه له چا څخه دیکته واخسته او نه ئي دمرستی غوښتلو لپاره غیر مسلمو سفارتونو او مراجعوته لاس اوږد کړ. دهغه لویه آرزو دالله تعالی په حُمکه دالله تعالی دنظام حاکمیت ؤ او دغی آرزو ته درسیدلو لپاره یوازی او یوازی دالله تعالی مرستی او نصرت ته سترګی په لاړ، داچه نومړي دافغانستان دجهاد اوقربانیوپه سرد چا سره میز ته نه حاضریده اونه ئي د شرعي تعلیماتوڅخه ذره انحراف ته زړه ښه کاوه، نو پدي بناء شهید له پخوا څخه دطواغیتو اومستکبرینو دسترګو آغزي ؤ، په آخرني وختونو کي په ډول ډول فریبونو له مستقیم خط څخه دشهید دبي لاری کولو کوشش وشو، مګر دجهاد امام شهادت ته تر جیح ورکوله او انحراف ئي ونه مانه، شهید مولوی صاحب (رحمه الله) خپل پراخ اسلامی فکر او بین المللی جهادی نظریه د ډلو ټپلو او تنظیمی خنځیرونو په جال کی نه ښکیلوله، هغه دافغانستان هر مجاهد په هر جهادی تنظیم پوری چه مربوط وُخپل مجاهد ورور ګاڼه او دضرورت په وخت کی ئی ورسره نقدی اونظامی مرسته کوله.

ددی لپاره چه جهاد په خپل اسلامی خط وسیر باندی روان وی، شهید مولوی صاحب(رحمه الله) دمجاهدینو د تربیت لپاره یو ځانګړی کورس جوړکړی ؤ چه په هغه کی دعلماوُ له خوا داسلامی جهاد داصولو، فرایضو او غوښتنو په باب لکچرونه او بیانیی ورکول کیدي. شهید مولوی صاحب(رحمه الله) به همیشه دا توصیه کوله چه مؤمن مجاهد باید له هر څه نه وړاندی داسلامی اصولو په وسله سمبال شي، که داسلام له مجاهدسره داسلامي هدایاتو وسله په لاس نه وی، نویوازی په توره او ټوپك داسلامی جهاد کاروان منزل ته نه شی رسیدلی او همدا اسلامی ایدیولوژی ده چه مجاهدینوته قوت اواستحکام وربخښی.

هغه علمی اداری چه دشهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) له خوا دافغانستان دځوان نسل دسالم اسلامی تربیت له پاره پرانستل شوی په لاندی ډول دی :

۱- څلور سوه دینی مدرسی چه ۱۲۵ئي دافغانستان په داخل او نوری ئی دمهاجرینو په کمپونو کی دی او دیرش زره طالبان په کی په زده کړه بوخت دی.

۲-المعهد الشرعی (پیښور)

۳- دشرعیاتو فاکولته

٤- دحدیثو فاکولته

٥-جامعة الدعوة الی القرآن والسنة (پبی)

٦-دارالحفاظ(چکدره – ضلع دیر) چه هر کال تری سوونه طالبان دقرآن دحفظ شهادتنامی تر لاسه کوی

۷-جامعة السلفیه (تیمر گره - ضلع دیر)

۸-الجامعة الثانویه (باجوړ)

۹-المعهد الشرعی الثانی (پیښور)

له دی نه علاوه یو شمیر دار الایتامونه هم جوړ شوی چه یتیمو ماشومانو ته پکی دتعلیم او تربیی او کفالت زمینه برابره ده.

دمولوی جمیل الرحمن وژل، یوازی دافغانستان دیو مجاهد مشر وژل نه دی، دا مسئله دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة دجهادی تنظیم دامیر دقتل په نوم هم نه شی خلاصه کیدای، بلکه دهغی ستری توطیی په نوم باید وپیژندل شی، چه کفری او طاغوتی طاقتونوداسلامی امت دبی هوشه کولو او دسیاسی او جهادی ډگر څخه دواقعی مسلمانانو دتجریدولو لپاره په پوره پوهه، تدبیر او زرنگئ سره تیاریړی او عملی کیږی. دجمیل الرحمن په شهادت داسلام دښمنانو داهوسایی او دادگیرنه احساس کړه، چه که اوس افغانستان ازاد هم شی، نو لرټرلږه خو داوشول چه دراشده خلفاوتاریخ به په کی راژوندی نه شی اونه به په کی داصحاب النبی کار نامی تکرار شی.

دافغانستان دجهاد یو تن انصارخیږونکی د مولوی جمیل الرحمن دشهادت په باب په خپله اوږده تبصره کی ولیکل« زمونږ دښمن هوایی غشی نه ولی، بلکه په پوره سوچ اوفکر سره خپله نښه ټاکی، دافغانستان مجاهد شهید شیخ جمیل الرحمن داسلام دتیگ او مکار دشمن دغشی نښه شو، خو ددی خبری وجوهات او تاویلات دلمر په شان ښکاره دي، ټول پوهیږی چه جهاد کله او چا پیل کړ؟ له ربښتیا او سمی پلټنی څخه دانتیجه راوځی، چه دجهاد بنسټ ایښودونکی شهید شیخ جمیل الرحمن ؤ، نودښمن غوښتل چه ددغه ستر مجاهد او مسلمان مبارز په له منځه تللو سره دجهاد روح محوه کړی».

شهید شیخ جمیل الرحمن له خپل شهادت نه لږ څه مخکی په دی پوه شوی ؤ، چه په کونړ کی داسلامی امارت ټینگښت، داسلام ددښمنانو او شخصی مفاد پالونکو عناصرو لپاره دزړه رنځ گرځیدلی دی. شهید جمیل الرحمن به دمنتخب اسلامی امارت له مقام څخه په لوړاوازویل چه: ای مجاهدینو ورونو! راشی چه تاسو ته دافغانستان په لومړنی آزاد شوی ولایت کی داسلامی امارت قیام دروښایم. هغه ولایت چه په عملی ډول په کی محمدی شریعت قایم او نافذ دی، نو ای ورونو له هر ډول تعصب او تنگ نظرئ نه ډډه وکړئ او دغه ولایت خپل مرکز وټاکئ او له همدی ځایه دافغانستان دبشپړی آزادئ لپاره عمومی قیام وکړئ. دغه ځمکه له روس، امریکی اوله هغو دانډیوالانو څخه پاکه کړئ او دسوچه اسلامی حکومت څخه په کی دفاع وکړئ. دغه ناره په اصل کی هماغه ناره وه، چه زمونږ دپیاوړي او مجاهد مشرشیخ جمیل الرحمن دشهادت موجبات یی برابر کړل.

دنړئ زبر ځواکونو غوښتل چه له جمیل الر حمن څخه هم دخپل سیاسی شطرنج یوه مهره جوړه کړی او دمفاد پالو رهبرانو په شان تری اراده او تصمیم سلب کړی، خو دغه ارزو یی سرته ونه رسیده. دځوکئ او رتبی غوښتونکی تری هم نااامیده وو، ځکه چه په اسلام کی جاه طلبی منع ده او اسلامی اصول دشهید شیخ جمیل الرحمن د ژوند شعارؤ. نړئ خورو طاقتونو ته یی دمرستی لاس هم نه و اوږد کړی، دی خبری ته هم دعقل او شعور ارتکاز ضرور دی، چه دجهاد په اوږد بهیر کی هیڅکله هم دکوم گوند مشر نه دی وژل شوی، نو ولی په جمیل الرحمن باندی دمرگ گولی وچلیدی؟ دغو ټولو پوښتنو ته به سم او منلی ځواب یوازی همداوی چه داسلام دسر لوړی او په ټوله نړئ کی داسلام دنفاذ لپاره له جهاد او کوشش څخه پرته شیخ جمیل الرحمن بل کوم جرم نه ؤ کړی، داسلام سرلوړی دهغه ارزو وه او پان اسلامیزم دهغه دمبارزی او مقدس جهاد سرمنزل.

روح دی یی ښاد وی او دعوت دی یی عام

انا لله وانا الیه راجعون

دافغانستان په اسلامي جهادباندې د شهيد الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله) د شهادت أثرات.

د «شورش» ليکنه

له کومه وخته چه دافغانستان په خاوره کې دکفر،فساداو الحاد پر ضد اسلامي جهاد پيل شوی دی تر نن وخته پورې دافغانستان مؤمن او مجاهد ملت په پوره ميړانه دهر ډول مشکلاتو، کړاونواو شهادتونو په منلو سره له خپلې حقې داعيې څخه دفاع کړې ده. چه په نتيجه کې نړۍ خور کمونيزم له رسوا شکست سره مخامخ او دافغانستان دمؤمن ملت دقطعي آزادۍ د صباؤن لمر دراختلو په حال کې دی. دکفر، ظلم اودهريت تياری لحظه په لحظه دنابودۍ کندی ته سپارل کيږي.

په نړۍ واله سطحه د افغانستان اسلامي جهاد خپل تاريخي عظمت تر لاسه کړی، او د افغانستان مؤمن ملت ته يې سر لوړی او افتخار وربه برخه کړی دی.

دا څرګنده او انکار نه منونکی خبره ده چه دافغانستان اسلامي جهاد يو اتفاقي او تصادفي عمل نه دی. بلکه په خپل پس- منظر کې دګينو حقايقو او واقعيتونو په بنياد يو هدفمند او په اسلامي فکر او عقيده ولاړ تاريخ جوړونکی جريان دی، چه دځينو اسلامي شخصيتونو د اګاهانه رهبرۍ په نتيجه کې پيل او د نوموړو شخصيتونو د اخلاص،

قربانۍ اوسالمې مکتبي رهبرۍ په لرلو سره په طبيعي توګه دخپلې فتحې او برې په لور په پوره اطمينان خپل تاريخي مراحل يو په بل پسې طې کوي او دالله تعالی په نصرت دنهايي برې په درشل کې قرار لري .

هغه شخصيت او هستې چه دافغانستان د اسلامي جهاد دتاريخي حقايقو په نظر کې نيولو سره سم دانسان په ذهن کې مجسم کيږي او داسلامي جهاد د عالمانه رهبرۍ تار يخي شرف ئې په بر خه شوی. هغه مظلوم شهيد الشيخ جميل الرحمن(رحمه الله) دی. چه دنوم له يادولو سره ئې سم دحق د لارې ددعوت او داسلامي جهاد دبنسټ ايښودنې مفاهيم دانسان په ذهن کې ثبت کيږي. چه هردوست او دښمن ته ئې دشخصيت دمعرفي کولو کوم ضرورت نه پيښيږي. بلکه هر چاته په ډاګه او څرګنده ده، چه شهيد شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) داسلامي جهاد د ودانۍ دبنياد هغه تيګه وه چه داسلامي جهاد ټولې ودانۍ په هغې سره تعمير موندلی دی او دخپل شهادت تر سرحده پورې يې دحق دلارې ددعوت اوداسلامي جهادله پت سره خپله وفاداري په ثبوت رسولې ده .

اوس سوال دا پيداکيږي چه د شهيد الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله) په شهادت سره دافغانستان په اسلامي جهادباندې چه په يوه حساسه او پر يکنده مرحله کې قرار لري څه إثرات مرتب کيد لی شي؟

ددې سوال ځواب بنکاره او څرګنددی. او هغه داچه لمړی بايد هغه بارزفکتورونه وپيژندل شي چه د شهيدالشيخ جميل الرحمن (رحمه الله) په ژوند پورې تړلي، لازم اوملزوم دي. نو بيا محترم لوستونکی کولی

شی چه ددغو فکتورونو په نظر کی نیولو سره په اسلامی جهاد داغیزی دعواملو په تشخیص کی مو فقانه قضاوت وکړی چه په لاندی ډول ئی د لوستونکود تو جه په خاطر یادونه ضروری گڼو:

١- شهيد الشيخ جميل الرحمن

(رحمه الله) له هرڅه نه دمخه د اسلام دصحیحی عقیدی (قرآن اوسنت)هغه نه ستړی کیدونکی بلندوی او داعی ؤ، چه دوخت فاسدو او ظالمو حکومتونو او دهغوی حامیانو او درباری نوکرانو ونه شوکولی چه نوموړی دشهادت په تهدید سره له خپل حق دعوت څخه منع او یا منحرف کړی او له خپل په حق ولاړ دریځ څخه ئی شجاعانه دفاع کړی او دخپل دعوت دشمنان ئی د تل لپاره له ناامیدی،سره مخامخ کړی، د سازش او معامله گرئ له ذلیلو اوصافو څخه یی ځان په کلکه ژغورلی اود خپل اسلامی دعوت په لاره کی ثابت قدمه پاتی شوی دی.

٢- شهيد الشيخ جميل الرحمن

(رحمه الله) د اسلامی جهاد باني اوپه سنگر کی حاضر مجاهدؤ، چه دهغه دشرعی فتوی او اگاهانه جهادی قیادت په نتیجه کی دافغانستان دفاسدو او دهری حکومتونو پر ضد دافغانستان دمؤمن ملت پا څون په ملی او بین المللی سویه داسلامی جهاد په عنوان شرف اوافتخار تر لاسه کړ اودټولو اسلامی تحریکونو او مسلمانو ملتونو د تائید او ملاتړ موجب و گرځید.

٣- شهيد الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله) داسلامي جهاد هغه ديني او علمي سرمايه وه، چه دالله ورکړي ديني دانش او بصيرت په اساس ئي داسلامي جهادبنياد په هغو اسلامي اساساتو بناء او رهبري کړ، چه دوخت په تيريدلو سره دداخلي او خارجي دشمنانو دسيسو او توطئو ونه شو کولی چه دغه تاريخ جوړونکي اسلامي جهادله اسلامي وقاراو حيثيت څخه محروم او يا يی له خپلي لاري څخه بي لاري کړي.

٤-شهيد الشيخ جميل الرحمن(رحمه الله) د حق د دعوت او داسلامي جهاد دمنطقي نتا يجو دترلاسه کولو په هڅه کي دهغه اوسپنيزي ارادي اواسلامي جرأت څښتن ؤ،چه ددنيا جاه وجلال، مقام او منصب اونورو هر ډول دنيوي فرمايشاتو او تطميع ونه شو کولی چه داسلام داساساتو په سر ئي سازش او معا-
-مله کولوته مجبور کړي. دخپل غوځ اسلامي دريځ څخه ئي په شجاعانه توگه دخپل شهادت په بدرگه دفاع وکړه.او داسلامي جهاد دلاري دشهيدانو، معيوبينو، کونډو او يتيمانو دپت د ساتلو او دهغوي دشرعي ارمانونو د تحقق په خاطر ئي دشهادت پتمني غيږي ته ځان وروسپاره. (انا لله وانا اليه راجعون)

٥- شهيد الشيخ جميل الرحمن

(رحمه الله)داسلامي جهاد او دحق ددعوت هغه مخلص سپاهي ؤ، چه دخپل متين ايمان په اتکا ئي دافغانستان د کنړونو داسلامي امارت بنيادکيښود. حدود الله ئي نافذ کړل، په منطقه کي ئي امن قايم کړ او داسلامي شريعت تطبيق ته ئي عملي جامه ورواغوستله، چه دشهيد دغه اقدام داسلام ددشمنانو او داخلي منا فقانو لپاره د خطر زنگ او په افغانستان کي دغير اسلامي صبغي اومفسدو لرونکو حکومتونو لپاره يو چيلنج وگرځيده، چه په خپل دغه تاريخ سازعمل سره ئي داسلام ددشمنانو په سترگو کي خاوري وروشيندلي او دافغانستان دمسلمان ملت داسلامي جهاد غايه اوهدف ئي عملاً نړيوالوته په داگه کړ.

٦-که ووايو چه په اسلامي نړۍ او مسلمان امت کي شهيد الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله) د گوتو په شمار شخصيتونو کي يو منلی شخصيت ؤ، نو مبالغه به مونه وي کړي. چه د اسلامي جهاد دځلانده آسمان په تندي هغه رڼا ورکونکي ستوري ؤ.چه دلارورکولپاره لاربښود او دځان ورکولپاره دخودئ احساس ؤ.

٧- شهيد الشيخ جميل الرحمن

(رحمه الله)د اسلامي امت دوحدت په لارکي دلوموړي صف هغه مخلص کار کن ؤ،

چه د نشنلیزم ، فاشیزم او پارټي ایزم اصطلاحات ئي له اوله څخه مسترد کړي وو او هغه ئي دشرك په منصب کی پیژندل او بوتان ئي گڼل.

په پورته ډول په مختصره توگه د شهید الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) د ژوند دخصوصیاتو په رابطه لوستونکو ته هغه حقایق ځرگند شول چه هردوست اودشمن تري انکارنه شي کولی، نو اوس به درنو لوستونکو ته دهغه اثراتو او آغیزو دپیژندلو لاره هواره شوي وي، چه د شهید الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)دشهادت په وجه په اسلامي جهادمرتب کیږي.لیکن مونږد درنو لوستونکو سره د همکاري په روحیه لاندي ځوحقایق په گوته کوو:

۱- دالشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په شهادت سره که له یوی خوا ټول اسلامي امت له خپل یوخواخوږي، پټمن او برمیال وروږځخه محروم شوي، نوله بلي خوا داسلامي جهادسمسور بڼ خپله راتلونکي دمعا مله گرو عناصرو په لاسونو کي له خطر سره مخامخ گڼي.

۲- داسلامي جهاد هغه پټمن لاروي چه خپلي آینده ته په اسلامي دید گوري،له یوه ریښتیني او مخلص جهادي قیادت څخه دشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) شهادت په وجه ځان محروم گڼي.

۳- دقرآن اوسنت داسلامي دعوت هغه وړانگین او روښانه مشال، چه تیارو زړونوته ئي دالهي هدایت دنور رسولو وظیفه په غاړه درلوده، په داسي حساسه او نازکه موقع کي خاموش شو، چه دقرآن اوسنت په مخ کي دخنډ شوو عناصرو دشیطاني پلانونو د رسوا کیدلو او خنثي کیدلو با وجود بیا هم دقرآن او سنت په خلاف دشیطاني دسایسو او تو طئولړۍ روانه ده.

٤- شهید الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دافغانستان داسلامي جهاد هغه ممثله څیره وه،چه داسلام او مسلمانانو دعزت او عفت پا سداري تري له وړایه ځرگندیده، لیکن دهغه په شهادت سره داسلامي جهاد لمن له یوي لوني سرمائي څخه خالي پاتي شوه .

٥- شهید الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)داسلامي امت تر منځ داسلامي اخوت او ورورولۍ د رشتود ټینگولو هغه مخلص کارکن ؤ، چه جغرافیوي، ژبني او نژادي سرحدونه ئي ړنگ کړي وو او په همدي ډول یي عمل دخارجي اوداخلي دښمنانو دزهرجنو تبلیغاتو هدف گرځیدلي ؤ. چه د الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) په شهادت سره داسلامي جهاد دغی غایي اوهدف ته دزیات نقصان د وړپیښیدلو خطر متوجه دي .

٦- دځمکي له مخ څخه دفتني او فساد دمکملي نابودۍ تر سرحده پوري د شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) اسلامي دریځ دهغه په اعمالو کي تمثیلیده، چه په نړیوال استکبار ئي آرام حرام کړي ؤ، خو د شهید الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په شهادت سره داسلام دشمنان ددغه چلنج په وړاندي خپلي آیندی ته داطمنان په نظر گوري .

د پورتنیو حقایقو په نظر کي نیولو سره دسپیڅلي ایمان او د ویښ ضمیر خاوندان په دي پوره یقین او باور پیدا کوي، چه دالشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) شهادت داسلامي امت او دافغانستان داسلامي جهاد لپاره لویه ضائعه گڼل کیږي. لیکن هغه تگلاره چه شهیدالشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) غوره کړي وه ، موجوده او باقي ده. ددغي تگلاري په تعقیبولو سره به انشاءالله چه دافغانستان اسلامي جهاد دداخلي او خارجي دشمنانو له ناوړه اغراضو څخه محفوظ پاتي شي او هغه نیمگړتیا چه د شهیدالشیخ (رحمه الله) د شهادت په وجه رامنځ ته شوي، الله (جل جلا له) ته خواست کوو چه دغه نیمگړتیا په خپل فضل او کرم سره پوره کړي .

(امین، یارب العلمین)

دشهيد جميل الرحمن (رحمه الله) قتل او دکنړ پر اسلامي إمارت يرغل دينځلسمي پيړئ عظيمه فاجعه ده

(مجلة الدعوة- ابو طلحه)

دافغانستان دجهاد ستر بلندوی قائد شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) د۱۹۹۱میلادی کال داگست په دیرشمه نیټه دجمعی په ورځ د پاکستان په سرحدی سیمه باجوړ کی قتل کړای شو، په باجوړ کی شهید مولوی صاحب خپل دفترونه جوړکړي وو اوعارضی هستوگنه ئی په باجوړکی وه،شيخ جميل الرحمن(رحمه الله)یو مصری شخص عبدالله رومی د تفنگچی په ډزوکولو هغه مهال قتل کړ، چه د جمعی د لمانځه لپاره ئی ځان تیاراوه.

له بیان شوواقیعاتوسره سم عبدالله نومی شخص دسوله کوونکی جرگه۔ گړ په پرده کی خپل ځان مولوی صاحب ته ورساوه، تردیره وخته پوری له هغه سره ناست ؤ، اوکله چه سوله کوونکی راغلی جرگه بیرته لاړه،نودی دقرآنکریم په تلاوت مشغول شو.شیخ صاحب دعربوله ځوانانو سره ډیره مینه لرله اوهغوی ته به ئی دسوال اوځواب کولو لپاره بشپړه آزادی اواجازه ورکوله، د شیخ صاحب ځارونکی(حارث)ددغه شخص پلټنه(تالاشی) هم له دی امله ونه کړه اوهغه له فرصت څخه په استفادی کولوسره هغه شهیدکړ، اوداخبره بیخی غلطه ده چه دشیخ صاحب قاتل دهغه نږدی خپلوان ؤ او دهغه دعربانو دگروپ خپل مجاهد ؤ، دغه زهرشیندونکی پروپیگنډه د پاکستانی اخبارونو له لاری څخه خپره شوی ده.پداسی حال کی چه قاتل هیڅکله هم دشیخ صاحب دمجاهدینو په گروپ کی شامل شوی نه ؤ، بلکی څرنگه چه ویلی شوی دی، قاتل دمصرد سیاسی تنظیم اخوان المسلمین غړی ؤ چه دشیخ ځارونکی په ځوابی ډزو سره هغه قتل کړ.

ددغه وحشیانه قتل مضرات اومقاصد څه دی؟ پدی باره کی مونږ هیڅ ډول قیاس آرائی کول نه غواړو، البته داخبره څرگنده ده، چه دغه قتل پداسی مهال کی وشو چه د شیخ جمیل الرحمن جماعت دحکمتیارد اسلامی حزب دیرغلگری لښکر کشئ سره مخامخ ؤ.

شیخ جمیل الرحمن دمحمد داؤد دحکومت له مودی څخه راهیسی جهاد پیل کړی ؤ او هغه دافغانستان په جهاد کی ممتاز مقام او حیثیت درلود. شیخ دجهاد عقیدوی صبغه خپله کړه او په داگه یی وویل چی زمونږ جهاد دځمکی دنیولو په خاطر نه دی،بلکی

دالله تعالی دکلمی دلوړولو په خاطر دی.اوپه همدغه مسئله هغه د افغانستان دجهاد له نورو مشرانو سره مخالف ؤ او هغوی ته به یی ویل:که چیری مونږ دافغانستان لپاره وجنګیږو نو زمونږ جهاد غیر مقبول او غیر شرعی دی. اونه مونږ ته لازم دی چی دبیلابیلو هیوادونو پولی وټاکواوخپل جهاد محدود کړو، بلکی له ټولی ځمکی څخه دکفرحکمرانی پای ته رسول او دطاغوتی ماتو نسکورول زمونږ فرض او ذمه واری ده. هغه به ویل چی دغه عظیم کار یوازی دتوحید پر اساس کیدلای شی اوبس. پر مونږ لازم دی چی دخالص توحید او په بشپړه توګه دسنت په اتباع سره خپل جهاد درسول الله صلی الله علیه وسلم پر طریقه سم او برابر کړو.

دمولوی جمیل الرحمن(رحمه الله) دغه نظر ته دخودغرضو له خوا دوهابیت نوم ورکړای شو، او ورسره دا پروپیګنډ هم وشو چی وهابیت یوه لویه فتنه ده.چی پدی توګه دافغانستان خوش باوره او ساده لوح مجاهدین د شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) اودهغه دجماعت په خلاف دافغانستان دځینو هغو لیډرانو له پلوه تحریک کړای شول، چه له شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) سره یی خصمانه چلن غوره کړی ؤ او دهغوی دمخالفت یوازینی عامل اوسبب صرف عقیدوی مسئله وه.

شیخ صاحب دجهاد په دوران کی د خپلی کروړلی عقیدی دترویج اوتتمیم لپاره زیاتی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی وکړی چه په نتیجه کی ئی دمجاهدینو یو لوی جماعت جوړکړ، چه اوس هم په افغانستان کی د سلفی جماعت په نوم په جهاد کی مصروف دی، شیخ صاحب دکنړولایت د دره پیچ دسیمی اوسیدونکی ؤ، که څه هم دبدخشان،کندهار،ننګرهاراودافغانستان په نورو ولایتونوکی د شیخ نوم اونفوذ خپورشوی ؤ خوله ټولوڅخه زیاته دهغه د دعوت حلقه دکنړ په ولایت کی خپره شوی وه.

شیخ صاحب لوئ لوئ دینی مدرسی جوړی کړی دی، چه په هغوکی یی د کتاب الله اوسنت پیروان وروزل، د افغانستان په سخته ځمکه کی الله تعالی دهغه په دعوتی کارکی ډیر برکت واچاوه اوډیر په چټکتیاسره دهغه دعوت خپور شو،که څه هم په جهاد کی دهغه دمصروفیت په سبب او داضطراری حالاتو له أمله دوګړو(افرادو)په جوړولو اوتألیف کی پوره پوخ والی نه ؤراغلی، خوله دی سره سره ئی بیاهم دتوحید پرعقیده او پرنبوی سنتوباندی په زرګونو ځان قربانوونکی فدائیان تیارکړل.الله تعالی مونږ ته هم دا زمینه برابره کړه چه دهغوی په منځ کی د دعوت کاروکړو،ما همیشه لیدلی دی چه دشیخ صاحب دجماعت افراد دعقیدی دعوت ورکوی او په دی لاره کی ئی دایثاراوقربانئ خوراغوره نمونی وړاندی کړی دی اووړاندی کوی یی.

د عقیدی دغه څرګندتوپیرؤچه کله الله تعالی دشیخ صاحب جماعت ته دکنړ ولایت فتحه عطاءوفرمایله نوهلته ئی دالله تعالی دحکم دنفاذ هڅه وکړه اوداسلامی امارت دقیام لپاره ئی دینی اصلاحات جاری کړل، په کنړکی ئی دحدود الله دقائمولو اعلان وکړ.اوپرمخدراتوئی پابندی ولګوله. داخبره له شك اوویری څخه پرته کولی شو چه، دکنړولایت یوازینۍ هغه سیمه ده چه هلته اسلامی حکومت قائم کړای شو، او دیوشرعی حکومت دغو ښتنو(تقاضاؤ) پوره کولو بشپړ هاند(کوشش)وکړای شواو دغه کار الله تعالی له شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)څخه واخست اوپه دویم قدم کی له مولنا

دشهید جمیل الرحمن (رحمه الله) قتل او دکنړ پر اسلامي إمارت یرغل دېنځلسمې پیړۍ عظیمه فاجعه ده

(مجلة الدعوة- ابو طلحه)

دافغانستان دجهاد ستر بلندوی قائد شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) د۱۹۹۱میلادي کال داگست په دیرشمه نیټه دجمعې په ورځ د پاکستان په سرحدی سیمه باجوړ کی قتل کړای شو، په باجوړ کی شهید مولوی صاحب خپل دفترونه جوړکړی وو اوعارضی هستوگنه ئی په باجوړکی وه،شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)یو مصری شخص عبدالله رومی د تفنگچې په ډزوکولو هغه مهال قتل کړ، چه د جمعې د لمانځه لپاره ئی ځان تیاراوه.

له بیان شوواقیعاتوسره سم عبدالله نومی شخص دسوله کوونکی جرگه- گړ په پرده کی خپل ځان مولوی صاحب ته ورساوه، تردیره وخته پوری له هغه سره ناست ؤ، اوکله چه سوله کوونکی راغلی جرگه بیرته لاړه،نودی دقرآنکریم په تلاوت مشغول شو.شیخ صاحب دعربوله ځوانانو سره ډیره مینه لرله اوهغوی ته به ئی دسوال اوځواب کولو لپاره بشپړه آزادی اواجازه ورکوله، د شیخ صاحب څارونکی(حارث)ددغه شخص پلټنه(تالاشی) هم له دی امله ونه کړه اوهغه له فرصت څخه په استفادی کولوسره هغه شهیدکړ، اوداخبره بیخی غلطه ده چه دشیخ صاحب قاتل دهغه نږدی خپلوان ؤ او دهغه دعربانو دگروپ خپل مجاهد ؤ، دغه زهرشیندونکی پروپیگنده د پاکستانی اخبارونو له لاری څخه خپره شوی ده.پداسی حال کی چه قاتل هیڅکله هم دشیخ صاحب دمجاهدینو په گروپ کی شامل شوی نه ؤ، بلکی څرنگه چه ویلی شوی دی، قاتل دمصرد سیاسی تنظیم اخوان المسلمین غړی ؤ چه دشیخ څارونکی په ځوابی ډزو سره هغه قتل کړ.

ددغه وحشیانه قتل مضمرات اومقاصد څه دی؟ پدی باره کی مونږ هیڅ ډول قیاس آرائی کول نه غواړو، البته داخبره څرگنده ده، چه دغه قتل پداسی مهال کی وشو چه د شیخ جمیل الرحمن جماعت دحکمتیارد اسلامی حزب دیرغلگری لښکر کشۍ سره مخامخ ؤ.

شیخ جمیل الرحمن دمحمد داؤد دحکومت له مودی څخه راهیسی جهاد پیل کړی ؤ او هغه دافغانستان په جهاد کی ممتاز مقام او حیثیت درلود. شیخ دجهاد عقیدوی صبغه خپله کړه او په داگه یی وویل چی زمونږ جهاد دځمکی دنیولو په خاطر نه دی،بلکی

وکړای شو؟

نن سبا دگردی اسلامی نړۍ اهل حدیث په سخته او لویه پریشانۍ او اضطراب کی مبتلادی، چی د دوی د ړاړ اوسکون یوازینی صورت دا کیدلای شی، چی دافغانستان جهادی تنظیمونه په خپل دریځ کی بدلون راولی او داهل حدیثو په خلاف خپل ظالمانه فعالیتونه په هر اړخیزه توگه بند کړی. دغه راز د پاکستان حکومت اودهغه انډیوال تنظیم جماعت اسلامی ته په کار دی چی له یرغل کوونکوسره دمرستی کولو پر ځای هغوی له تجاوز او یرغل څخه منع کړی که څه هم اوس خو ډزبندی شوی ده،مگر سره له دی هم حالات خورا زیات بوږ نوُنکی دی اوتاو تریخوالی موجود دی داهلحدیثو کورونه تالا او چور کړای شوی دی، دخلکو کورونه ویجاړ کړی شویدی. دکورړونو روپیو اسبابونه اواثاثی لوټ کړی شوی دی او د دغه تشویش ناك حالت د پای ته رسولو له پاره دسعودی عربستان حکومت هم دکعبی دامام شیخ صالح او عبدالله ترکی په مشری یو لوړ رتبه واکمن وفد رالیږلی دی او هغوی له دواړو خواوُ سره دارتباط نیولو په توگه دحالاتو دکنټرولولو هلی ځلی کړی دی، او پر یو تړون باندی یی دجماعةالدعوة داوسنی امیر مولاناسمیع الله او دحزب اسلامی دامیر گلبدین حکمتیار۔ څخه لاس لیکونه اخستی دی، چی په دغه تړون کی ویلی شوی دی.د کنړ په ولایت کی دی سم له لاسه وینی تویول بند اومحاصری ته دی خاتمه ورکړای شی، خوراك اوداړتیاوړنورشیان دی ولیږل شی، اوله خپل منځی اختلافاتو پیل کیدوڅخه دمخه، چه جماعت په کنړ کی کوم حقوق لرل هغه دی اعاده کړای شی.

دغه رازد دغه وفد دهلو ځلو په نتیجه کی دیوی داسی محکمی په جوړلو هم اتفاق شوی دی،چه هغه به دمنازعاتو فیصلی کوی .چه له دغه تړون څخه دښو اومثبتونتائجو هیله کیدلای شی.مگر دمصالحت اودحلاتو دکنټرولولوهلی ځلی په هغه صورت کی کامیابید لای شی،چه ټول اړخونه مرسته پکی وکړی، دامریکا اودهغه دحواریونو دجړوله غزولو څخه ځان وژغوری اودوی ته په کار دی چه د افغانستان دجهاد دنتائجو له ابته کولو څخه د ژغورنی په تکل سره متفق شی.

په دغه نازك پړاوکی که چیری له اهل۔ حدیثو سره د دښمنۍ کولو دریځ ته ادامه ورکړای شی،نوله دی څخه په افغانستان کی یوازی دامریکا پلانونه کامیابیدلای شی،دآزموینی په دغه سخت پړاو کی له اهل حدیثو حضراتو څخه هم داهیله کوو چی دوی الله تعالی ته په بشپړه توگه رجوع وکړی، داستقامت اوثبات دوعاگانی وکړی اوخپلو اشتباهاتوته پاملرنه وکړی اوهغه اصلاح کړی، دالله تعالی مرسته اونصرت نږدی دی، نااُمیدی اوپریشانی ونه کړئ، ځکه چه الله تعالی دخپلو مخلصو بندگانو قربانی نه ابتکوی اونه ئی یواځی پریږدی، بلکه په خپلو بندگانو آزموینه کوی اوکله ناکله ئی سخت ځپیء څو دایمان لرونکوایمان نورهم کره او پوخ شی اوهغوی د پرمختللو له پاره ښه چمتوشی، الله تعالی دی مونږ پخپل حفاظت کی وساتی او دخپلی رضامندئ لپاره دې مونږ قبول کړی.

(آمین یارب العلمین)

دافغانستان له آسمانه څخه ځلیدونکی ستوری ډوب شو. (مجلة الدعوة-۱۹۹۱).

دافغانستان دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة او دکنړ داسلامی امارت دامیر ښاغلی شیخ ـ جمیل الرحمن (رحمه الله) افغانی پرقتل باندی دکویت دجمعیة احیاء التراث الإسلامی له پلوه دخواشینی مکتوب چه ښاغلی عارف جاویدمحمدی دالدعوة مجلی ته رالیږلی دی. مونږ ئی پښتو ترجمه گرانو لوستونکوته وړاندی کوو.

«من المؤمنین رجال صدقوا ماعاهدو الله علیه فمنهم من قضی نحبه ومنهم من ینتظروما بدلوا تبدیلاً »(الایة)

ترجمه:-له مؤمنانو څخه ځینی هغه وګړی دی،چه له الله تعالی سره ئی کړی ژمنه رښتیانی ثابته کړه،له هغوی څخه ځینی هغه دی چه خپله دنده ئی سرته ورسوله اوځینی نورانتظارکوی او پخپل عزم اواراده کی ئی هیڅ بدلون ونه کړ، داحیاء التراث الاسلامی جمعیت اونورهغه تنظیمونه چه د دعوت الی الله په ډګرکی کارکوی، ټول دشیخ جمیل الرحمن پرشهادت دزړه له کومی غمجن دی، باغیانود کنړ دآزاد ولایت په چاروکی مداخله وکړه اود دغه مامون ولایت په مختلفو سیموکی ئی ډیر وګړی زخمیان کړل اود ډیرو مؤمنووګړو پاکی وینی ئی وبهولی.

شیخ (رحمه الله) دخلیج په اوسنی جنګ کی د کویت دحکومت د دریغ تائید اوملاتړ کړی و اوشیخ (رحمه الله) دسلفی منهج لرونکو علماؤ له جملی څخه و او یو باعمله عالم و.

شیخ (رحمه الله) له ټولو څخه دمخه دروس په خلاف دجهاد توغ اوچت کړاو کنړ ولایت له بشپړی آزادی څخه وروسته ئې هلته داسلامی امارت تهداب کیښود او په بشپړه توګه یی شریعت نافذ کړ، چه دهغه له اُمله داسلام دمجاهدینولپاره کنړ دجهاد یوه لویه اوکروړلی کلا جوړه اوثابته شوه، شیخ (رحمه الله) په افغانستان کی دننه دعلم درڼا عام کولوتیاری ونیو اود دغه مقصد لپاره ئی د ځلوروسوو څخه زیاتی اسلامی مدرسی جوړی کړی، چه په هغوکی دتوحید ی عقیدی او علوموزده کړه کولی شی.

داحیاء التراث الاسلامی جمعیت داسلامی نړۍ دستر قائد او دافغانستان په آسمان کی دراختلی دغه ځلیدونکی ستوری اود جهاد د عظیم اتل پرقتل باندی ډیر غمجن اوخواشینی دی، او داسی محسوسوی چه دغه کارصرف د هغو کسانوله پلوه وکړای شو، چه دبغاوت وروستی توپ ئی وهلی دی او د هغو خلکو کاردی چه د هغو دنده فساد او دوکه ورکول دی، چه په ډاګه سره له کتاب الله او سنت څخه منافی دی.

په پای کی مونږ دلاندنی آیت په نظرکی نیولو سره دا دعاءکوو چه الله تعالی دی خپل دغه بنده ته په جنت الفردوس کی پراخه مقام عطاء کړی. آمین!

«ولاتحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله أمواتا بل أحیاءعند ربهم یرزقون» (الایة)

ترجمه: اوتاسی د هغه چا په هکله دمړوشوو گومان مه کوی، چه دالله تعالی په لاره کی قتل کړای شوی دی، بلکی هغوی ژوندی دی اوهغوی ته روزی ورکول کیږی.

Shakh Jamil-ul-Rahman

شیخ سمیع الله یوی مطبوعاتي غونډې ته دوینا په ترڅ کې وویل:

شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) چه د جماعت لپاره دقرآن اوسنتو پر اصولو کومه برنامه او پالیسي وضع کړې وه مونږ دهماغې پالیسۍ او کرنلارۍ پابند یو.

کله چه شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) یو شرعي حکومت جوړکړ، نو اقتدار غوښتونکي او په دولت میئنان سخت وارخطاء شول.

دشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) خلف او دجماعة الدعوة نوی منتخب امیرشیخ سمیع الله د ۱۹۹۱میلادی کال دستمبر په دریمه نیټه په پیښور کی دجماعت په دفترکی یوی مطبوعاتی غونډې ته وینا وکړه، چه په هغې کی ئی دشیخ جمیل-الرحمن(رحمه الله) دقتل په اړوندپه ځینی واقعیاتو، شواهدو او دپردی ترشاپه ځینو حقایقو رڼا واچوله، هغه وویل:د پیښنی له ځای څخه ددری سوه مترو په واټن پرعمومی سرک تیارسټارټ کړی یك آپ موټرهم ولاړو، مګردقاتل دحالت په لیدلو سره غائب شو او داخبره بیخی غلطه ده چی قاتل دشیخ صاحب دوست ؤاو یاهغه په دغه ورځ په یوه کاسه ډوډۍ ورسره خوړلی وه.

شیخ سمیع الله وویل:له دی کبله چه دافغانستان په جهاد کی عربوهر ډول قربانۍ ورکړی دی، جماعة الدعوة په دوی باندی بشپړاعتماد کړی اوکوی یې، مګردښمنانو د یوتن عرب په استعمالو-لوسره زمونږ او دمخلصو عربو ترمنځ دکرکی او نفرت پیداکولو هلی ځلی وکړی، چه له نیکه مرغه کامیابی نه شوی اونه به کامیابی شی.

ده وویل:کله چه شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)دبی شمیره قربانیو ورکولو په نتیجه کی دکنړ ولایت آزادکړاو داسلامی امارت په نوم یی یو شرعی حکومت قائم کړ، اسلامی شریعت او حدودئی نافذ کړل نو دافغانستان دجهاد د نتائیجو او وسائلو لوټماران او اقتدار غوښتونکی سخت وارخطاء شول. پداسی حال کی چه شیخ صاحب دکنړ په آزاده سیمه کی داسی شرعی حکومت جوړاو قائم کړی ؤ، چه دافغانستان په تیرنیږدی تاریخ کی ئی مثال نه میندل کیږی. ده وویل:ځینی تبلیغاتی خپرونی شیخ صاحب او دهغه شخصیت تورن اوبدنام کوی اوهغه دوهابی او ګمراه شخص(دنوی دین ایجاد وونکی) په نوم معر فی کوی اواصل حقیقت ته غلط رنګ ورکوی. پداسی حال کی چه شیخ صاحب صرف د کتاب الله او سنت متبع ؤاودیو منظم اسلامی جماعت امیرؤ، دجهاد پردندوسربیره دکوندو اویتیمانو کفالت ئی کاؤ، دمهاجرینو دسوکالۍ اوهوساینی دخدمتونو اندازه لدی څخه سنه جوتیږی چه دشیخ لخواپه جوړو شوو مدارسوکی۲۸زره طالبان تعلیم کوی.

ده وویل:شیخ جمیل الرحمن شهید چه دجماعت لپاره دقرآن اوسنتو پراصولو کومه برنامه او پالیسی وضع کړی وه.مونږ دهماغی پالیسۍ او کرنلاری پابندیو اوددغه رسالت تر بشپړتیا پوری مونږ په هماغسی پالیسۍ عمل کوو او هغه به جاری ساتو.

س:- آیا د کنړ په ولایت کی له جماعت الدعوة الی القرآن والسنة څخه پرته نورتنظیمونه هم موجوددی؟

ځواب:په کنړکی خواصلی ځواك او طاقت یوازی جماعة الدعوة الی القرآن والسنة دی اوکله چه دغه جماعت داقتدارواګی ترلاسه کړی، نو دژوند په هره څانګه کی ئی په ډیره چټکتیا اوزحمت ګاللوسره دعوامو لپاره ګټور پلانونه جوړکړل.مګرله دی هرڅه سره سره په دی ولایت کی داوه نورو جهادی تنظیمونو موجودیت هم یو حقیقت دی. همد غه تنظیمونه ووچه عبوری حکومت ئی منځ ته راوړی چه دهغه له ناکامی څخه وروسته عوامو دا وانګیرله،چه داسلامی حکومت دقیام لپاره د یوی واحدی اسلامی اداری قیام ته ضرورت دی. هماغه ؤ چه داسلامی إمارت قیام منتخب کړای شو او منځ ته راغی چه په هغه کی موجوده اوسنی حکومت یعنی جماعة-الدعوة الی القرآن والسنة انتخاباتی کامیابی ترلاسه کړه، مګر یو شمیر پراقتدار مئینوګړو مخالفتونه ورسره شروع کړل،خو بیا هم اکثریت مجاهدو قومندانانو په شرعی طریقه بیعت وکړ.او دکنړ په ولایت کی اسلامی إمارت قائم کړای شو، اوله تیرونهو میاشتو راهیسی دخپلو ورسپارل شوو دندود اداُکولو هڅه کوی.

س:- دلته ډیر مهم مسائل (ضروریات) څه دی؟

ځواب:مونږ له هرڅه نه زیات جهاد او امنیت ته ارزښت ورکوو او دغه دواړه بنسټیزی چاری ګڼو. دجهاد لپاره د شپږزره مجاهدینو منظم فوځ هروخت تیاردی دامنیت قائمولولپاره دوه زره عسکرتل دتیارسئ او غورځنګ په حالت کی اوسیږی، له دی څخه دمخه پخوانیو خپل منځی اختلافاتو،دځمکو په سر خپل منځی شخړو او دجهاد په دوران کی لوټ ماری او قتلان ددی سیمی داډ او سکون تالا کړی ؤ.چه اوس دالله تعالی په فضل او کرم سره ګډوډی اوخودسری ختم کړای شوی ده اوخلك په ډاډه زړه ژوندکوی.

همدا رنګه د ښوونی اوروزنی مسئله هم داهمیت وړده، داځکه چه له دیارلس کلن جهاد څخه وروسته نوی نسل پر اسلامی اونوروعلومو سمبالول دحکومت ذمه واری ده.

کرهنه اوتعمیرات هم اساسی غوښتنی او ضرورتونه دی، که څه هم زمونږوسائل محدود دی، مګر مونږ زیار باسو چه دغه مهم سکتور هم ژرترقی اوپرمختګ وکړی، دمرستو خارجی مؤسسی تش په نوم دی او مونږ په خپلو داخلی وسائلو ګزاره کوو. مونږ دکنړ له عوامو څخه غوښتنه کړی ده چی دولایت په تعمیر کی په زړه پوری داوطلبانه ونډه واخلی.زمونږ خپلی کلاسیکی روایتی کړنلاره او کړندود دخارجی ماهرینوله فرمولونو څخه زیات اغیزمن اوتل پاتی دی،لوئ لاری، پلونه، ښوونځی او روغتونو نه په پخوبنسټونو جوړولی شی.

دکنړ ولایت څوارلس ولسوالی لری، شپږ تانی اوپنځه چونی لری اوپردی سربیره دولایت په مرکز اسعدآباد کی یو هوائی ډګر هم لری.

س:دجلال آباد دنه فتحه کید لو اصلی عوامل اواسباب څه وو؟

ځواب:بهرنئ چلوتی جاری وی مګراصل سبب صرف په مجاهدینو کی بی اتفاقی وه، نفاق او بی اعتمادی هغوی ناکام کړل،بل داچه نجیب دجنګی ځواك پرځای د دولت طاقت استعمال کړ، چه ځینی قوماندانان په پیسو واخستلی شول او له هغوی څخه اشتباهاتو سراوچت کړ،

س:-دافغانستان له لپاره دامریکا مرستو څه کردار اداءکړ؟

ځواب:دامریکا کومك په حقیقت کی خورا زیانمن أثرات رامنځته کړل، اوهغه داچه په مجاهدینوکی له امریکائئ کومك څخه دمخه دجهاد کومه جذبه وه، هغه ورو ورو په ختمیدوشوه، مجاهدینو پرمالی مرستو اتکاء وکړه چی پدی توګه کروړلی باورمخ په زوال شو،زه په اطمنان سره ویلی شم چه له امریکایئ مرستو څخه پرته به هم جهاد جاری وی، امریکا له اسلامی حکومت څخه په ترهه کی ده، له همدی کبله هغه ګومان کوی چه که دده کومك بند کړای شی نو داسلام بهیربه هم ودریږی، مګر داسی به هیڅکله هم ونه شی.

ښاغلی شیخ صاحب! زه ستاسی څخه ډیر ممنون یم چه له خپلو مهمو مصروفیتونو سره سره مو ماته وخت راکړ اوله خپلو مجاهدانه افکاروڅخه مو مستفیدکړم زما دعا ده چه الله تعالی دی ؛ تاسی پخپلو عظیمو مقاصدو کی بریمن کړی، امین! مننه!

شیخ سمیع الله:زه په خپله او دکنړمجاهد عوام ستا سی څخه مننه کوو،چه دلته موتشریف راوړ اوزمونږ له حالاتو څخه مو خبرتیا ترلاسه کړه. مننه! په الله جل جلاله مو سپارم.

دتوحيد دباغ مليار الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)

دبختيار خټک ليکنه

زه ئی وينم چه لاهغسې روان دی
په واورينو کوهسارونو
دافغان په افقونو
دتوحيد بيرغ په لاس کې
شهادت رنګين لباس کې
په انتظار ئی شهيدان دی
دشهيد داستقبال څه تياری دی عليين کې
مفسرؤمجاهد ؤ
دکراړې شپې زاهدؤ
داسلافونمونه وه
دقرآن سنت وزمه وه
هم مؤمن باصفاؤ
هم بی رويه بی رياؤ
نګهبان دشريعت ؤ
آرزومن دشهادت ؤ
داسلام سر بلندي
بس يو الله ته بند ګي
دائی آرمان دائی کمال ؤ
هم سلطان دقال وحال ؤ
هغه رڼ شانې سحر ؤ

دنيکۍ باد معطر ؤ
زمانی ورپسی ګوره اوس دا وران وران محفلونه
هغه وارث دانبياء ؤ
هم سرخيل داولياءؤ
علماؤته عقيدت ؤ
دمحراب منبر زينت ؤ
دمسکينانو پشتيبان ؤ
دکونډو رنډونګهبان ؤ
درحمت دباغ نسيم ؤ ،مړې غوټۍ به په مسکاشوې
هغه زمری دکوهستان ؤ
دجهاد روح روان ؤ
دافغان جهاد سالارؤ
دباطل دسترګو خار ؤ
مؤسس دجماعة ؤ
هم بانی دامارت ؤ
شريعت ئی نافذ کړی
دکنړ په ولايت ؤ
اوس به ګوروهغه باغ د پيغمبر شی څوک ساتلی !

قطعه

په نظر دي رانجه شوي کاڼي ګــوره
چه شبکوروته ئی سم بصيرت ورکړ
دتوحيـــد دباغ ګلونـــه دي سمـــوردي
چه فيضان ورته دا ستاکرامت ورکړ

ضرورت مسلمانان به یک إمارت اسلامی

نوشته: مولوی حمید الله «بدخشانی»

تاریخ گواه ست که پیش از پیاده شدن حکومت اسلامي در جزیرة العرب دنیای شرق وغرب بشمول جزیرة العرب مملو از وحشت وبربریت بود، ترحم وعطوفت باخویشاوندان، یتیمان، بیوه زنان و بیچاره گان وجودی نداشت،عدل وانصاف در میان جامعه بشری سراغ نمیگردید. حکومت های مقتدر چون قیاصره واکاسره همیشه در پیکار میان خود بودند. حکومت های کوچك در زوایه های خمود بلکه آله دست حکومت های مقتدر آن زمان بودند وبا حیات ایشان بازی می کردند، تا حدی که خلافت در کرهٔ زمین را درهم وبرهم نمودند ومسئله تهذیب الأخلاق، تدبیرالمنزل و سیاست المدني راکه از انبیاي سابق علیهم الصلوات والسلام بیاد گار مانده بود، در زاویه فراموشی گذاشته، بجای اینکه زمین از دست شان آباد می گردید وخلافت آدم علیه السلام را تعقیب میکردند. واز قوانین زیبای گذشته صلوات الله علیهم پیروی میکردند، همه را خیرباد گفته، بندهٔ هویٰ وهوس خود گردیدند چون خلافت آدم علیه السلام از پیشروی باز ماند وسیر تکاملی خود را طی ننمود،در حالیکه این خلافت خلافت آخری است تابه انقراض عالم،لذا پروردگار متعال برای تکمیل خلافت زمین به علم قدیم خویش خواست تا یك حکومت اسلامی جهان شمول بلکه یك امارت اسلامي در سر تاسرگیتی قائم نمایدتا وحشت وبربریت را از میان بردارد وعدل وانصاف راکه یکي از وظائف مقدس انبیاءعلیهم السلام است، بر کرسي عمل پیاده کند. رب العزت از طریق فضل وکرم خویش برای ادارهٔ این حکومت وامارت اسلامي پیامبر أمي حضرت خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم را برگزید وبرای اداره مملکت وجهان کشائی وتنظیم امور دیني ودنیوی وپیش برد ضروریات حیاتی وپخش عدل ومساوات در میان ساکنین کرهٔ زمین بطوریکه امتیاز وبرتري نباشد عربی را بر عجمی ونه عجمی را بر عربی ونه سفید پوست را بر سیاه پوست وزرد پوست ونه شرقی را بر غربی ونه غربی را بر شرقی بلکه اخوت نسبی را در نظر نگیرند وآن را با اخوت اسلامي تبدیل نمایند وهمه بعنوان فرزندان اسلام یاد ونام گذاری شوند ومسئله تبعیض نژادی ولسانی را یك قانون اساسی جهان شمول که عبارت از فرقان حمید است بهمراه شرح وتفصیل آن که عبارت از سنت نبوی صلی الله علیه وسلم است بدست

رس این سفیر وپیغام رسان خویش صلی الله علیه وسلم قرار داد، تا به پیروان خود طرز حکومت داری، وسوق الجیشی وجهان کشائی وطریق زیست باهمي و ...... و ....و، برایشان تعلیم ویاد دهانی کندودرمدت بیست وسه سال از عمر نبویش چنان درس تعلیم کرد که یك ملت بی سواد- محرَم از علم ودانش را- دماغ زمام داری- جهان کشائی- تهذیب الأخلاق،تدبیر المنزل، سیا ست المدنی،بخشید(رضي الله عنهم)

ازین رو هر مملکت واقلیمی را که فتح کردند، مواد این قانون اساسی را بحیث امیر امارت اسلامی مورد تطبیق قرارداد ند وساکنین سر زمین مفتوحهء خویش را از حیات سر شار بهره مند وبه امور انفرادی و اجتماعی ایشان را آشنا گردانیدند.

برای هر عاقل وخردمند معلوم است که برای هر حکومتی که باشد. چه حکومت توده ای- چه دیموکراسی، چه حکومت اسلامی، یك مرکز معیْن ومشخص امری است ضروریو اجتناً- -ناپذیر. -لذا سرورکائنات صلی الله علیه وسلم مرکز وعاصمه جزیرة العرب که سر زمین مفتوحهء عصر نبوت است - مدینه طیبهْ را قرار دادند. از عقل مندان عصر کنونی باید پرسیده شود که این مرکز آیا مرکز امارت اسلامی وعاصمهء حکومت پیرو کتاب وسنت گفته می شود ویا چیز دیگر؟

اگر مرکز امارت اسلامي وحکومت پیروکتاب وسنْت گفته می شود باید تمام مجاهدین ورهبران اسلام در جهان چه افغانستان وچه ممالك اسلامی دیگر ازیك امارت اسلامی پیروی کنند- تا عزت از دست رفته ایشان دوباره بدست آید، اگر مسلمانان جهان بمعنای امارت اسلامی پی برند، هر گزدم از جمهوریت ومشروطیت نخواهند زد وهر گز مفتی اعظم مسلمان ها امریکا وروس وقاضی ایشان جامعه ملل متحد نمی گردید علامه اقبال مرحوم چه خوب گفته است

. برفتند تا روش رزم درین بزم کهن*
دردمندان جهان طرح نو انداخته اند
من ازین بیش ندانم که کفن دزدی چند*
بهرتقسیم قبور انجمنی ساخته اند

زیرا همه خوبیهای قوانین جهان ، درقانون امارت اسلامی موجود است لکن خوبیهای این قانون امارت اسلامی در قوانین دیگر وجود ندارد پس به مسلمانهای جهان عموماً- وبه افغانستان بخون کشیده خصوصاً لازم است که از یك امارت اسلامی پیروی کنند ودست از جامعه ملل بر کشند، قاضی ومفتی خود، این قانون اساسی سماوی را قرار بدهند وبس!

واگر امارت اسلامی گفته نمی شود بلکه چیز دیگری گفته می شود، شما بفرمائید تعبیر کنید تا از آن پیروی کنیم، در غیر آن سر پیچی ازامارت اسلامی سر پیچی از کتاب وسنت است، کسي که سر پیچی میکند از دائرهء اسلام بیرون است.

آخرین فرمایش سرور کائنات علیه الصلاةوالسلام:«ترکت فیکم أمرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتا ب الله وسنتی» حکومت امارتی که بنایش برکتاب وسنت بوده باشد، همانا حکومت وامارت اسلامی است، چه کوچك باشد مانند مدینه طیبه- وچه بزرگ مانند جزیرة العرب وممالك مفتوحهءدورهء خلفاي راشدین (رضوان الله علیهم اجمعین)انکار این قضیه انکار از بداهت واز وجود آفتاب است، امارتی که بناءبر قوانین وضعي وتراشیده فکر بشراست، ویا بناءبر کتب مخلوق است در حالیکه فیصله بر کتاب وسنت را مجاز نمیدانند، وآنرا حکومت اسلامی میخوانند. حکومت وامارت اسلامی آن حکومتی را گویند که اجراءت امور مملکتی مبتنی بر قرآن وسنت بوده باشد وکار-

-کنان آن عالم وعامل به قرآن وسنت باشند وخویش را به قدرتوان پیرو سلف صالحین از صحابه وتابعین وتبع تابعین انگارند.

إن الله یرفع بهذا الکتاب اقواماً یضع به آخرین، این است معنی حکومت وامارت اسلامی، اگر حکومتی چنین نباشد بلکه مبتنی بر قوانین وضعی وکتب ساخته وبافته بشر باشد وکارکنان آن حکومت فهم ودانشی بر کتاب وسنت ندارند- این چنین حکومت را حکومت اسلامی وامارت اسلامی خواندن بکلی غلط وسفسته است.

امروز ناقصان بحدی رسیده اند کز خود را ئی به حرف سلف خط کشیده اند اگر بفرض محال! این حکومت را اسلامی میخوانید، لازم می شود که اسلام به دو قسم بوده باشد، اسلام پیرو کتاب وسنت - اسلام پیرو قوانین وضعی وکتب ساخته ویافتهء بشر - این تقسیم محال- والمستلزم علی المحال محالءباید غلط فهمي نشود حکومت اسلامي وامارت اسلامي حکومتی رامیگویند که اجراءت امور دیني و دنیوی مردم وملت بروفق کتاب الله وسنّت سرور کائنات صلی الله علیه وسلم انجام پذیرشود، بودن یهود ونصاری- مجوس وبودا در مملکت اسلامی منافی حکومت وامارت اسلامی نیست، چنانچه سر زمین شام، عراق، خراسان بلخ، کابل و....و... درعهد خلفای راشدین(رضي الله عنهم) که مملکت اسلامی بود- واقوام وگروههای مختلف چون اسلام بهره مند بودند.

حکومت اسلامي حکومتي رانمی گویند که مردم آن سر زمین همه مسلمان بوده -باشند، وإلا لازم می شود که بجز جزیرة العرب دیگر ممالك مفتوحه را مملکت اسلامی وحکومت اسلامی گفته نشودء حتی حکومت حضرعبد الرحمن بن سمرة (رضي الله عنه) را در کابل حکومت اسلامي خوانده نشود، این کاری است سفیهانه ودور ازخرد.

به خاطر داشته باشید! مسلمانهای جهان غالباً از مدتی است که روش امارت را خیرباد گفته از قوانین نصاری واز دیموکراسی آنها پیروی میکنند، لذا بندی خانه ها مملو از محبوسین است، چه در حقوق الله وچه در حقوق العباد، از حدود وقصاص خبری نیست، چون در مسائل میراث مجبور گردیدند آنرا در قوانین مملکت داری خود پذیرفته، واین قوانین خود را نظیر معجون ساخته - نه به آن قوانین اسلامی گفته می شود- ونه به آن قانون اروپائی بلکه منزلة بین المنزلتین است، نه این است ونه آن- بلکه شبیه قانون جنگل است،

إنا لله وإنا إلیه راجعون

ای مسلمانان جهان! وای مردم سرزمین بخون کشیدهء افغانستان!!

تارجوع به یك امارت اسلامی نکنید وخود را از سرنو پیرو این قانون سماوی نگردانید -و ازدل وجان چنگ بر این مادهء قانون نزنید که اوتعالی میفرماید: واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولا تفرقوا (ترجمه) چنگ بزنید همگان چه عرب وچه عجم چه افریقائی وچه ایشیائی وچه اروپائی به قانون اساسی خدا، وجدائی طلب نشوید در امور دینی ودنیوی ودر کارهای سیاسی واجتماعی و ...... و... ، اگر چنین کردید عزت وآبروفتح ونصرت به استقبال تان می آید وعزت از دست رفتهٔ تان دوباره بدست می آید- واگر چنین نکردید ماجرای یهود بر سرامت مسلمه خواهد آمد- وسرزمین های مفتوحه روز بروز تنگ ترمی شود- وهمه ساکنین آن محتاج دروا زه نصاری خواهند گردید-نعوذ بالله من ذلك.

ناگفته نماند - اسلام سرحد ومرزی بخود نمی پذیرد، قانون اساسی اسلام میخواهد که همه ساکنین کرهء زمین درسایهء اسلام وسلامتی زندگی کنند،

واز مزایاي این قانون بهره مند گردند -لذا اگر درمحیط وخطئه تشکیل امارت اسلامی اعلام می گردد، معنی آن را ندارد که این امارت محدود ومحصور به همان جای ومقام است، تا پروپاگند تجزیه طلبی به میان آید- بلکه مرکزانقلاب وبیشبرد امارت اسلامی است، به اطراف واکناف کرهء زمین

ایك هو مسلم حرم کی پاسبانی کے لے
نیل کے ساحل سے لیکرتابه خاك کاشغر

بطور مثال:امارت اسلامی ایکه در ولایت کنر از طرف یك عالم متبحر، مجاهد که پیرو نقش قدم سلف صالحین رضي الله عنهم است اعلام گردیده جزاه الله خیرا الجزاء جزاه الله خیرالجزاء-محصور به ولایت کنرنیست بلکه امارت اسلامي افغانستان آزاد است وشاید در اثر مجاهده وجانبازی های مجاهدین اسلام پا فراتر نهاده سر تاسر خاك افغانستان را فرا گیرد.

وهمه ساکنین این مرز وبوم از مزایای قرآن وسنت بهره ورگردند پس چه نقصان است که همه مجاهدین وملت افغانستان عزیز از امارت اسلامی حمایت کنند، وقرآن وسنت را دستور العمل حیاتی خود قرار داده و--- بصورت دسته جمعی شراب توحید وسنت را به سر کشیده مست ومستانه افغانستان عزیز را از لوث ملحدین پاك نموده، یك کشور اسلامی تحت قیادت امارت اسلامی یعنی حکومت قرآن وسنت در میان ممالك جهان عرض اندام کند.

بیائید تا دست از تعصب برداریم وهم عصری وهم زمانی که مادهء مشا جرات ها وکمشکش ها وخود نمائی ها است در آغوش تغافل بگذاریم وقاعدهء «واعتصموا بحبل الله» را مورد عمل قرار دهیم تا رضا مندی خدای متعالی نصیب همگان گردد.

اگر کسانیکه درین امارت اسلامی انتقاد میکنند ومیگویند که این امارت امارت سلفی ها یا وهابی ها یا اهل حدیث است ، أئمهء أربعة از جملهء سلف وخیر القرون اند، از بیروی قرآن وسنن سر پیچی نداشتند- حتی حضرت امام ابو حنیفه رضي الله عنه فرمودند:إذاصح الحدیث فهو مذهبی، و إذا جاء الآثر من الصحابة فنأخذ به، محمد بن عبدالوهاب نجدی رحمه الله حنبلی مذهب است کسی که تاریخ این مجدد دین را نمیداند- رجماً بالغیب سخن میگوید اللهم فاهدیهم فإنهم لا یعلمون.

مذهب اهل حدیث مذهبی است ازعصر نبی کریم صلی الله علیه وسلم ومذاهب چهارگانه دوصد سال بعد از عصر نبوت آغاز گردیده، پس کدام یکی ازین مذاهب سزاوار پیروی نخستین است؟ علی الخصوص اختلافات مذاهب، تالیفات رطب ویابس اختلافی بی شماریکه درین امت مسلمه به وجود آورده که باعث نفاق وشقاق ودرد سر جهانیان گردیده، ورفع این اختلاف را شخص سرور کائنات صلی الله علیه وسلم کرده وبه دیگران نگذاشته ، فرموده:

فعلیکم بسنتی وسنة الخلفاءالراشدین المهد یین، پس بیائید از تعصب نژادی ، لسانی دست بردار شویم- از کیه تامیه، بصورت دست جمعی برای مؤسس امارت اسلامی «یعنی حکومت قرآن وسنت» حضرت مولانا جمیل الرحمن (رحمه الله) دعاگوئی نمائیم .

والسلام علی من اتبع الهدی

دجماعة الدعوة امير شيخ سميع الله د«زندگى»له مجلى سره په مركه كى:

په روسي فدراسيون كې دمنځنۍ آسيا داسلامي هيوادو ګډون داسلامي نړۍ دناعاقبت انديشۍ نتيجه ده.

دافغانستان دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة امير محترم شيخ سميع الله په دى ورو ستيو وختو كى دپاكستان د (زندگى) مجلى له خبريال سره مركه كړى، چه مونږ دلته ددغى مركى لنډ متن خپروو :

پوښتنه: په اسلام آباد كى دروسى فدراسيون له هيئت سره ستاسو خبرى په كومو موضوعاتو وشوى؟

ځواب: دروسى فدراسيون له هيئت سره زمونږ دخبرو موضوع دروسانو دجنگى قيديانو د پريښودلو په باب وه، كه څه هم په دغه برخه كى څه فيصله ونه شوه خو دمسايلو دحل لپاره ديو ګډ هيئت دتشكيل ضرورت احساس شو،تر څو دخپل منځى افهام اوتفهيم له لیارى دنجيب پر ځاى داسلامى عبورى حكومت دتشكيل لپاره لاره هواره كړى.

پوښتنه: څه فكر كوئ چه دافغانستان مسئله به په نژدى راتلونكى كى حل شى؟

ځواب: كه په نژدى راتلونكى كى دافغانستان مسئله حل شى او كه نه شى،خو دافغان مجاهدينو دخوښى مطابق دمسئلى دحل په باب پوره مطمئين يم، په افغانستان كى ديو اسلامى حكومت دتشكيل نه غير هيڅ ډول نظام او يا دمسئلى كوم بل ډول حل دمجاهدينو دقربانيو او كړاؤنو نعم البدل نه شى كيدلى،كه دجهاد په صفونو كى *له چا څخه داسى كومه كمزورى وليدى شى چه گوندى دذاتى اقتدار يا گټو په خاطر يى دجهاد اهداف له نظره غورزولى دى،نو دا ډول كسان به دمجاهدينو د قهر څخه لرى پاتى نه شى،* زمونږ باور دى چه انشاءالله په نژدى راتلونكى كى به زمونږ په هيواد كى اسلامى حكومت جوړ شى او دكفر او الحاد منحوسه كمپله به ټوله شى.

جماعة الدعوة الى القرآن والسنة دكنړ په آزاد ولايت كى له جهاد څخه داسلامى اهدافو دلاسته راوړلو نمونه داسلامى امارت په شكل كى وړاندى كړه،ددغى اسلامى ادارې لخوا اسلامى شريعت نافذ شو او عملاًوښودل شوه چه دجهاد په صفونو كى داتحاد او استحكام د پيداكولو لپاره دافغانستان په ټولو سيموكى دكنړ داسلامى امارت په شان دشرعى ادارو قيام دوخت او شرايطو ضرورت دى،تر څو افغان مجاهدين دقبيلوى او جاهلى تعصباتو او رسمونو او

رواجونو له تاریکیو او داسلام دښمنه عناصرو دسازشونو او شراو فساد په دامونو کې دښکیل کیدوپه ځای داسلام دحنیف دین په سوري کې ژوند وکړي او دخپلو اسلامي اهدافو دتحقق په لور مخ په وړاندې لاړ شي.

پوښتنه: داسلامي عبوري حکومت دقیام په باب به دامارت اسلامي دریځ او کردار څه وي؟

ځواب: زمونږ دریځ ډیرڅرګند او روښانه دی، **له جماعة الدعوة سره په لاس کې دکتاب الله او سنت رسول صلی الله علیه وسلم دعوت دی، مونږ په ټوله نړۍ کې دقرآن او سنت حاکمیت غواړو او له دغه نه غیر هر نظام جاهلیت ګڼو**، دانسان لپاره لویه نیکمرغي داسلام مقدس دین دی، خلک دالله تعالی په بندګۍ کې داخلول دانسانیت معراج دی، *که په افغانستان کې عبوري حکومت وي او یاوروسته دمستقل حکومت تشکیل، امارت اسلامي به ددغه حکومت نه بیلیدونکې جزءوي*، مونږ دکنړ په ولایت کې داسلامي امارت دتشکیل له لیارې قرآن او سنت نافذ کړي او دټولو مجاهدینو څخه غواړو چه په خپلو خپلو آزادو سیمو کې شرعي اداري جوړې کړي او دآزادو سیمو ټولې چارې داسلامي شریعت په رڼا کې سرته ورسوي تر څو شیطاني طاقتونوته په آزادو سیمو کې دمجاهدینو خلاف دتو طیو جوړولو فرصت په لاس ورنه شي اوپه آزادو سیموکې دمسلمانانو داسلامي نظام دفیوضاتو او برکاتو په لیدلو سره په افغانستان کې داسلامي نظام دټینګښت لپاره خپلې جهادي هلې ځلې ګړندۍاو موثرې کړي.

پوښتنه: دروس دټوټې ټوټې کیدواو په نړۍ کې دورځ په ورځ رامنځ ته کیدونکو تغیراتو په رڼا کې دافغانستان دمسئلې په صورتحال څه تبصره کوی؟

ځواب: دافغانستان دشاوخواحالات په زیاته چټکۍ سره بدلیږي او ددې حساسو شرایطو تقاضاءداده چه دافغانستان دمسئلې اصلي فریق یعنې دافغانستان مجاهدین باید د ډیرې هوښیارۍ او دانشمندۍ ثبوت ورکړي. که جهادي تنظیمونه دیومکمل اتحاد په جوړولو کې کامیاب شي،نو مطلب به یې داشي چه دافغانستان مجاهدین دافغانستان دشاوخوا حالاتو له غوښتنو څخه پوره اګاهي لري. افغانستان زمونږ له نظره دعالم اسلام مسئله ده او عالم اسلام یو واحد وجود دی،په هره اندازه چه اسلامي نړۍ دنړیوال بدلونونو په مقابل کې دخپل فراست،یوالې او تدبر مظاهره وکړي نو ګټور تأثیرات به یې دافغانستان په مسئله باندې هرو مرو څرګندوي او که اسلامي نړۍ له نړیوالو تغیراتوسره سم تدبیر غوره نه کړي نو دافغانستان دمسئلې په حل کې به هم زیاتې ستونزې رامنځ ته شي.که اسلامي نړۍ داسلامي غوښتنو په ځای دغربي هیوادو په شان دملي ګټو پالیسي خپله کړي،نو نه یواځې داچه دمنځنۍ آسیا په اسلامي هیوادو به ناوړه آغیزه وکړي بلکه دغه هیوادونه به دافغانستان دمجاهدینو سره دمرستې په کار کې هم پاتې راشي.

زماپه عقیده په روسي کامنولتو یا فیډراسیون کې دمنځنۍ آسیا داسلامي هیوادو ګډون دنړۍ په اوسنیوشرایطو کې داسلامي نړۍ دکامیاب پلان دنه موجودیت او ناعاقبت اندیشۍ نتیجه ده.

پوښتنه: شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) په داسې وخت کې شهید کړای شو،چه دحزب اسلامي او امارت اسلامي خبرې اترې روانې وې، دغه ناوړه قدم دکومو عواملو په سبب پورته شو؟

ځواب: په امارت اسلامی باندی دحملی په اتمه ورځ شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په شهادت ورسید،په دغه وخت کی ددواړو جماعتونو تر منځ خبری اتری نه وی پیل شوی،بلکه ځینو عربی مسلمانانو دوزیندی کوششونه کول، په امارت اسلامی باندی دحملی نه وړاندی شیخ (رحمه الله)حزب اسلامی ته دعوت ورکړ چه دخپل منځی مسایلو دحل لپاره باید د توپك په ځای اسلامی شریعت ته مراجعه وکړو او څرگنده یی کړه،چه حزب دپاکستان په شمول داسلامی نړۍ په هر گوټ کی چه غواړی اسلامی امارت حاضر دی،چه دکنړ مسئله داسلامی شریعت په وړاندی کیږدی، خو دشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دغه ټول کوششونه دحزب دمشرانو لخوا رد شول،الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دافغانستان دمسئلی اوجهاد په باب دخپل هغه تینگ دریځ په وجه چه دقرآن او سنت په بناء یی غوره کړی ؤ،دډیرو خلکو لپاره دمنلو وړ نه ؤ ،شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) داسلامی اصولو دسودابازۍ او معامله گرۍ تصور هم نه شوکولی، کله چه په کنړ کی داسلامی امارت له تشکیل نه وروسته هغه دټولو تنظیمونو څخه غوښتنه وکړه،چه په آزادو سیمو کی اسلامی شریعت نافذ کړی،ددغه اعلان سره سم داسلام ددښمنانو په وجود باندی لړزه گډه شوه، په جهاد کی دذاتی گټو دغوښتونکو په سترگو تیارۀ راغله او له هرې خوا ددسیسو او تو طیو لړۍ پیل شوه، بالآخره داسلام ددښمنانو دغه ټولی ناوړه هلی ځلی داسلامی امارت دامیرالشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) په شهادت منتج شوی(انّا لله وانا الیه راجعون) شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دغیراسلامی هیوادو دلاس وهنی سخت مخالف ؤ هغه په ټول ژوند کی دغیر اسلامی هیوادو دهیڅ یو شخصیت سره ملاقات ونه کړ، هغه ویره چه هغه احساسوله،نن ورسره دافغانستان جهادی قوتونه مخامخ دی.

پوښتنه:دمجاهدو رهبرانو دخپل منځی اختلافاتو څخه چه افغان جهاد ته کومه صدمه رسیدلی مسؤلیت یی دچا په غاړه دی؟

ځواب: دایو حقیقت دی چه دمجاهدینو دخپل منځی بی اتفاقۍ څخه دجهاد اهدافو ته زیاته صدمه رسیږی، مونږ دهغی لومړۍ ورځی څخه داسلامی اتحاد دجوړولو لپاره هر اړخیز کوششونه کړی دی،تر دی چه مونږ داتحاد دجوړښت نه وروسته دتنظیمونو انفرادی موجودیت هم ردوو، دیو امیر ټاکل او دیو جماعة جوړول زمونږ دټولو دینی فریضه ده،هر څوك چه له دغه اصل څخه غاړه غروی،په حقیقت کی مسؤلیت هم دهغه په غاړه دی، که په کنړ کی دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)د ارزښتناکو کوششونو په نتیجه کی دشرعی اداری دقیام اهداف په نظر کی ونیسو،نو هر چا ته به داحقیقت ښکاره شی چه مونږ داسلامی تنظیمونو تر منځ بی اتفاقی نه شو بر داشت کولای، مونږ دمجاهدینو داتحاد لپاره هر ډول قربانۍ ته تیار یو. دمجاهدینو تر منځ داتحاد دټینگښت لپاره دعلماؤ دشورا تجویزهم دلومړی ځل لپا ره جماعة الدعوة الی القرآن والسنة وړاندې کړی دی.

په نبوي مسجدکی دکنړ دحادثی انگازه

دنبوي مسجد د امام شیخ علي حذيفي (حفظ الله) هغه خطبه چه د شیخ جمیل ـ الرحمن(رحمه الله) له شهادت نه وروسته يی دجمعی مبارکی په ورځ په نبوي مسجد کی ایرادکړه:

دنبوي مسجد امام دحمد او ثنأ نه وروسته وفرمايل:

مسلمانانو! کتاب الله خپل کړئ او وربانډی ایمان او عقیده ولرئ، تر څو دتباهئ او مظالمونه په امن کی پاتي شئ.

مسلمانانو!نن چه په افغانستان کی دمسلمانانو دخپل منځي جگړی اور لمبی وهي،او تباه کوونکی وسلی د مسلمانانو سینی څیروي، دخپلو کوروونو څخه يی وباسي او دامنیت په فضاء کی اوسیدونکی مسلمانان ویرول کیږي او تهدیدیږي، مالونه يی لوټ کیږي.

دجماعة الدعوة الي القرآن والسنة رئیس الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دظلم او عدوان او بغض اوحسد په اساس شهید کړی شو او نور مجاهدین هم په خپلو وینو کی ورغړیدل، ددی ټولو وجه داده چه ځینو رهبرانو دافغانستان خلك دکنړ په ولایت کی دخپلونورو مسلمانو ورونو په خلاف جگړی ته هڅولي دي، دغه افغان رهبران داسی دلیل وړاندی کوی،چه دکنړ خلك غواړي چه افغانستان ټوټی ټوټی کړي.پوښتنه داده چه آیا افغانستان متحدو. چه هغوی ټوټی کړ؟آیا دکنړ خلکو خپله سیمه دداسی کوم بادشاه څخه نیولی ده چه د افغانستان مسلمانانو ورته په اتفاق سره بیعت کړی دی؟ آیا داختلاف په وخت کي دقرآن او سنت لوري ته مراجعه شوی ده؟ اوآیا اسلامی علماء ددی صلاحیت څخه محروم دي، چه خپل منځي اختلافي مسائل حل کړي او هم اعلان کړي چه:ای مسلمانانو! په افغانستان کی دفتنی دغه اور وژل غواړي. تر څو د مسلمانانو وینه او د مسلمانانو ژوند په امن کی شي. ددغه لوی هدف لپاره ددی خبری سخت ضرورت احساسیږي؟ چه دوي باید دکتاب الله اوسنت رسول الله(صلی الله علیه وسلم) په اساس متحد اویو موټی شي او دطاغوت مقابله وکړي.

هغه خوك چه دقرآن اوسنت لوري ته مراجعه نه کوي، اسلامي فیصلی ته سرنه ټیټوي، هغه دمسلمانانو حقوق اوحرمت پایمالوي، له خالص توحید نه کرکه کوي او دشرك او بدعاتو په خلاف جگړه نه کوي نو په دی دی پوه شي چه باطل به هیچیرته هم په امن کی نه شي اونه په معصیت کي اطاعت شته.په امن کی دي هغه افغاني ماشومان، کونډی، شل او گوډ او سپین ږیري او هغه کسان چه ژوند يي دقرآن اوسنت او خالص توحید لپاره وقف دی.

دافغانستان علماؤ اومسؤلو شخصیتونو ته پکار دي چه دمسلمانانو دمسائلو دحل په ترڅ کی له الله(جل جلا له)څخه وویریږي.

په يوحدیث مبارك کی راغلي دي چه دالله تعالي په نزد د گردی نړئ زوال، په ناحقه توگه ديومسلمان دوژلو په مقابل کی بی ـ ارزښته دي، په بل حدیث مبارك کی راغلي چه دخپل وروړ مرسته وکړئ، که ظالم وي اوکه مظلوم. خلکوعرض وکړ: ای دالله رسوله(صلی الله علیه وسلم)! له مظلوم سره خوبه مرسته وکړو، مگرله ظالم سره څنگه مرسته وکړو؟ پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: هغه له ظلم کولو څخه منع کړئ.

اللهم صل وسلم علي سید الا ولین وامام المرسلین نبینا محمد وعلي آله وصحبه اجمعین.

فراست مؤمن

نوشتار: استاد ابو ادریس

«اتقوا فراسة المؤمن فإنه ینظربنور الله» این حدیث را اکثر خطباء بر زبان مي رانند ومسلمانان را درس فراست وزیرکی وهوشیاري میدهند.

این حدیث را اگر چه «حافظ زرقاني»در«مختصر المقاصد الحسنة»، «حسن لغیره» گفته است، ولی حق این است، که ضعیف است، نسبت آن برسول الله صلی الله علیه وسلم روا نیست، چنانچه ضعف آن را علماء فن در کتب ذیل بیان کرده اند:

ضعیف جامع صغیر، کتاب الموضوعات، الفوائد المجموعة، تنزیه الشریعة، المقاصدالحسنة، تمیز الطیب، کشف الإلباس، میزان الإعتدال، ترمذي، تفسیر ابن کثیر، الخلاصة، الدرر، بالآخره تعلیق الباني بر مشکاة.

مگر در باره، فراست مؤمن حدیث صحیح دیگری بروایت بخاري ومسلم وابوداؤد است که رسول الله صلی الله علیه وسلم گفته است: «لا یلدغ المؤمن من جحرواحد مرتین»این حدیث میرساند که «مرد مؤمن از یك سوراخ دوبار گزیده نمیشود» یعني فراست میداشته باشد. این فراست را از طریق ایمان وتقوی کمائی کرده مي باشد، فراست وهوشیاری بدور ایمان وتقوی مي چرخد: هر جاکه ایمان است آنجا فراست است، هر جاکه ایمان نیست آنجا فراست نیست، کسیکه فراست ندارد بتناسب آن ایمان ندارد یعني ایمانش بقدر بي فراستي اش کمزور وزبون است، خلاصه اینکه فراست وزیرکي سالم از مواصفات مؤمنین است. فراست فهم وبرداشت مفید از حوادث وحالات روحي وسیکالوجیکی آدمي هاست، حضرت عثمان رضي الله عنه در باره، مردیکه نزدش رفت گفت:یدخل علی أحدکم والزنا في عینیه یعني بعضی مردم نزدم مي آیند ومن از چشمانش میشناسم که زنا کار است، آن مرد گفت: آیا بعد از رسول الله صلی الله علیه وسلم وحي نازل میشود ؟ گفت: نه خیر، ولکن بعد از وحي فراست وزیرکي هست، و نیز از فراست حضرت عثمان بود وقتیکه فهمید اوباشان از قتل او منصرف نمیشوند، از مقاتله دست کشید، اصحاب کرام در صدد دفاع وي بر آمده بودند، آنها را از دفاع خود منع کردند، تا فتنه زیاد نشود ومردم زیاد کشته نشوند، از فراست اسلامي وی بود که فتنه، مسلمین را بقیمت سرخود دفع کرد.

الله تعالی از مسلمانان زیرك وبا فراست ستایش کرده است که همین ها از آیات بینات استفاده کرده مي توانند، چنانچه فرموده است:«إن في

ذلك لآيات للمتوسمين» (الحجر-٧٥)

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مي گويد:سه تن زيركترين مردم بودند:اول زن فرعون كه گفت: «قرة عين لي ولك لا تقتلوه عسى أن ينفعنا او نتخذه ولداً»، دوم صاحب يوسف كه براي همسرخود گفت:«اكرمي مثواه عسى أن ينفعنا او نتخذه ولداً» سوم ابوبكر صديق رضي الله عنه كه فراست وي در خليفه ساختن عمر رضي الله عنه ظاهرشد، وي در وقت مرگ خود عمر رضي الله عنه را جانشين خود ساخت. از جملهء فراست صادق فراست خزيمة بن ثابت بود چون بر تصديق گفتار رسول الله صلى الله عليه وسلم شهادت داد، اين شهادت وي هنگامي بود كه رسول الله صلى الله عليه وسلم درمعاملهء حقوقي بركسى دعوا داشت، خصم منكربود ورسول الله صلى الله عليه وسلم گواه نداشت، خزيمة (رضي الله عنه) حاضر واقعه نبود و شهادت داد، كه حق بجانب رسول الله صلى الله عليه وسلم است. اين شهادت از فراست وي بود، چون فهميده بود كه دروغ گفتن نسبت به رسول الله صلى الله عليه وسلم محال است يعني رسول الله صلي الله عليه وسلم دروغ نمي گويد.

رسول الله صلى الله عليه وسلم حذيفه بن اليمان را در غزوهء احزاب بحيث جاسوس سوي مشركان فرستاد، حذيفه در حلقه مشركان نشست، ابوسفيان كه رئيس مجلس بود، گفت هر كس بر همپهلوی خود تعارف حاصل كند، حذيفه از خوف اينكه افشاء نشود، چابكدستي كرد از همپهلوی خود پرسيد:توكيستي؟ گفت:فلان ابن فلان. سودمند ترين فراست از عبدالملك بن مروان خليفهء اموی بود، وی شعبي را كه محدث مشهور ومرد زيرك بود، پيش امپراطور روم فرستاد، امپراطور روم بعد از گفت وشنود باو، نيرنگى را بكار برد، تا در ميان مسلمين شقاق واختلاف پيدا شود، پس كاغذي بقدر كارت نوشت و بدست شعبي براي عبدالملك فرستاد، وقتيكه عبدالملك آن را خواند، براى شعبي گفت: ميداني كه درين ورق چيست؟ شعبي گفت:نمي دانم، عبدالملك گفت: درين ورق نوشته است عجب: كيف ملكت العرب غير هذا؟ يعني تعجب است كه با وجود شعبي عربها عبدالملك را پادشاه گرفته اند! عبدالملك گفت امپراطور با اين نوشتهء خود مرا عليه تو تحريك مي كند تا ترا بكشم! شعبي گفت: اى امير-المؤمنين اگر وي فراست وهوشياري ترا مشاهده كند، هوشياري من در نظرش نا چيز معلوم خواهد شد.وقتيكه پادشاه روم از ماجرا خبر شد، قسم ياد كرد كه مراد من همين چيز بود كه عبدالملك فهميده بود.پادشاه روم مي خواست در ميان مسلمانان اختلاف پيدا كند، تا در اثر آن ضعيف شوند، سپس مغلوب شوند، باز مهار شوند. پادشاه روم تنها عبدالملك را بر ضد شعبي تحريك نكرده بود، بلكه شعبي را نيز بر ضد عبدالملك تحريك كرده بود، چنانچه در نوشته خود برايش اشاره داده بود كه مستحق خلافت وي است وعبدالملك به خلافت سزاوار نيست، امروز قدرتهاى طاغوتي بعين نيرنگ در ميان مسلمانان اختلاف پيدا كرده اند، آنها را در اثر زد وخورد ذات البيني تضعيف كرده، باز مهار شان كرده اند. وقتيكه شخصيتي ميان مسلمين تبارز كند ومردم نسبتاً بدورش جمع شوند، مي نگريم كه جهت از پا در آوردن وي آدمكهای احمق وجاه طلب را از طريق راديوها و دعوتها ومصاحبه ها شخصيت جعلي وساخته گى ميدهند، دُمش را باصطلاح شانه مي كنند، ويرا فكر ميدهند كه لياقت قيادت ورهبرى را فقط همين دارد، او را بر مي انگيزند تا به مبارزه ومقابله بر خيزد واز هر طريق تاييدش مي

کنند تا ویرا در چوکي سرِش کنند، باز از وي يك عميل درجه يك براي استعمار نوين بسازند وبا اين چال ملتهای مسلمان را در جال غلامي وبردگی وفقر وفلاکت وپشيماني گرفتار کنند، فعلاً همين نيرنگ استعمار نوين در آينده نزديك افغانستان در کار است، سخت در تلاش وفعاليت است.خلاصه اينکه همين آدمکهای بي فراست وبي شخصيت اند که خون هزاران شهيد را بقيمت شلغم مي فروشند ومليونها مسلمان پاکدل وپاکطنيت وقهرمان زادگان را بار بار به زنجير غلامي استعمارگران خون آشام مي بنندند.

مايان چرا فراست خود را از دست داده ايم؟ ممکن اين نقيصه از ضعف ايمان ما باشد، زيرا که فراست پرتوي از ايمان است، کمبودی فراست در هر فرد ما موجود است، من نمي گويم که ازهر جهت ما مردم بي فراستيم، از فراست ملت ما بود که در وقت مداخله مستقيم لشکر سرخ روس دريافتيم که روس قابل شکست است، لذا بکمال اطمينان واعتماد وتوکل بر خدا بمقابله اش برخاستيم واين يك برداشت فراستمندانهء ما بود، اما چرا درين حالت نازك وخطرناك فراست خود را از دست ميدهيم، برضد آدمکهای که برای آينده افغانستان ما بنفع استعمارگران ساخته ميشود، آواز بلند نمي کنيم ومردم را از خطر شان خبر نمي سازيم؟

قومندان های ما در سنگرهای جهاد چرا فراست ند ارند؟ خصوصاً درين شرايط خطرناك کمبودی يا نابودی فراست زيان جان و ايمان دارد، قومندان ما معاون خودرا ازين جهت ترور مي کند که وي اعتبار مردمي کمائي کرده است، درميان مردم ومجاهدين، محبوبيت پيدا کرده است، اظهار شجاعت کرده است، از خود مردانگی ومسلماني نشان داده است، در هر غم ودرد از حال شان خبر بوده است، از خود کفايت نشان داده است، محبوب القلوب مردم شده است لذا قومندان صاحب مي ترسد که نزد رهبر صاحب مستقيماً ارتباط نگيرد وقومنداني را خود تصاحب نکند، لذا اورا به بهانه مي کشد آري او را مي کشد، با اينکه در لحظات خيلي بد، يار او بود، او را از جهت فقدان فراست وهوشياری مي کشد، زيرا که اگر او فراست ميداشت - بجای اينکه اورا بکشد وبجحيم آبدی خودرا حواله دهد، بروی لازم بود که خود را قانع باين ميساخت که در ميان ايشان فرق نيست، مقصد اصلی تنظيم نيروهاي جهاد است وادامهء جهاد است، اين مقصود نهايي هر مسلمان است، فراست اسلامي ايجاب ميکند: هر که مسئوليت جهاد را بر دوش خود گيرد، آن را بهتر تنظيم کند وديگران را ازين بار سنگين سبکدوش سازد، در حقيقت باديگران کمك کرده است، تکليف شان را کم کرده است لذا جائزه اش تحسين است نه قتل او ونيز از فراست معاون يك قومندان است که ،قومندان رانسبت به خود مطمئن ساخته با شد، قومندان از طرف وي مطمين و خاطر جمع باشد چنا نچه شما ديديد که عبدالملك بن مروان چقدر از طرف شعبي مطمئن بَود، و بروي اعتماد داشت، همين شعبي بود که اعتماد وي را کسب کرده بود، بر هر معاون لازم است که قومندان خود را از جانب خود مطمئن سازد، باين معني که قومندان را بايدقانع ساخته باشد که همه کارش جهت پيشبردامور جهادو خدمت به اسلام وحتي خدمت به شخص قومندان وحمايت ساحهء قومندان صاحب وحفظ شخصيت و آبرو وحيثيت وي است، قومندان خودرا آنقدر دوست دارد که جان خود را دوست ميدارد ، معاون قومندان با اين سلوك خود اعتبار و اعتماد قومندان را جلب مي کند، پس وي

هرگز نسبت به معاون خود بد بین نمي شود، بنا بر ان هم امورجهاد منظم میشود وهم جان هر دوازخطرسالم مي ماند.

بهترین فراستها آن است که فائده دنیا وآخرت را فراهم سازد، ولي اگر درمیان فائده دنیا وآخرت تعارض باشد، باین معني که درصورت فراهم شدن فائده یکي ایشان فوت شدن فائده دیگرش حتمي باشد، درین صورت بهترین فراست آن است که فائده آخرت بر فائده دنیا تر جیح داده شود ، اگر دنیارا بر آخرت ترجیح دهد، به تصریحات قرآن پاك براي چنین شخص نصیبه آخرت نیست.

ونیز بهترین فراستها آن است که نفع عامه مردم را بر نفع خود ترجیح دهد چنانچه حضرت عثمان رضی الله عنه فتنه عالمسوز را با قرباني سر خود دفع کرد، خود را درگرداب مرگ وشهادت بفنا تسلیم داد، ولي کشتي حیات دیگران را از غرق شدن در ورطه فتنه نجات داد. مایان از مسابقه کنند-گان بر سر قدرت وچو كي افغانستان مقتضي آنقدر فراست نیستیم که حضرت عثمان ازخودنشان داد، مگر ما مي گوئیم که آیا اینها حا ضر هستند که جهت نجات حیات فرزندان جهاد سیزده ساله در افغانستان وجهت نجات هزار ها انسان بیگناه از واقع شدن در فتنه با بمیان آوردن یك قیادت مسلمان و با کفایت با قبول تنازل از چوکي واقتدارنه با قبول از دست دادن سر، از خود فراست اسلامي نشان دهند؟

ازمرد مؤمن حتماً فراست خود نمائي مي کند، از فراست ایماني است که درانتخابات رئیس دولت شخص با کفایت و متقي و غیرمستبد بالرأي انتخاب شود. از فراست ایماني است که طرفدار سر سخت حکم قرآن وسنت باشد، نه اینکه از هر قانون وهر نظام انقیادصورت گیرد . از فراست ایماني است که قانون پروردگار را بطور نیم بند و ناتمام و محرف قبول نمي کند وبان راضي نمیشود، بلکه طرف دار حاکمیت کامل وهمه جانبه پر وردگار میشود، ودرحکم باپروردگار وپیامبرش کس دیگر را شریك نمي کند، وشرك تشریعي را مرتکب نمي شود.

از فراست ایماني است که اسباب اختلاف را از بیخ وبن قلع وقمع مي کند ،گروه بندي هاي مختلف سیاسي رادرجامعه مسلمین ردمي کند، گروه بندي هائي که درمیان مسلمین بجاي اداي فریضه موالات، معادات محرم وتباه کن را پیداکرده است، گروه بندي هائیکه براساس معیار تنگ وضیق تنظیمي فاسقترین نفر یك تنظیم بر متقي ترین نفر تنظیم دیگر ترجیح دارد وهر گاه ضرورت فاسقانه یك تنظیم ایجاب کندآن نفر تنظیم دیگر را با دست نا پاك این فاسق مي کشد، ازفراست ایمان است که مردمؤمن برحق تعصبات مذهبي را از خطرناکترین اسباب اختلاف ذات البیني میداندوآن را رد مي کند، دربرابر آن مبارزه مي کند واز اساس نابودش مي کند.

از فراست ایماني است که اختلاف ونزاع سابق ویا جدید را برحال خودش نمي گذارد، هر کس در جهت خود نمي چسپد ،بلکه بي درنگ آن رابه فیصله فوري قرآن وسنت واگذارمیشودوآین آیت شریف را ماننده‌همه اجزاي قرآن بر خود وبر زندگي خودحاکم مي گرداند: «فإن تنازعتم في شيء فردوه إلى الله والرسول إن كنتم تؤمنون بالله واليوم الاخر ذلك خير وأحسن تأويلا».الآية

(اللهم أحسن عاقبتنا في الامور كلها وآجر نا من خزي الدنيا والاخرة)

دسعودی عربستان ددارالافتاء له مفتی څخه پوښتنه اودهغه لخوا رالیږل شوی فتویٰ:

له حمد او صلاة نه وروسته دسعودی عربستان ددارالافتاءله مفتی فضیلة الشیخ عبدالله بن جبرین څخه پوښتنه وشوه چه:

جناب عالی- هغه زړهٔ دردؤنکی پیښی چه څه وخت مخکی په افغانستان کی سرته ورسیدی، ستاسو جناب څخه پټی ندی، دافغانستان اوو(۷)جماعتونو د«حکمتیار» په سرکردگی دتوحید دسنگر دهغو مجاهد ینو په خلاف چه دالشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)په قیادت دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة تراسلامی جنډی لاندی راغونډ شوی وو، وجنگیدل،دغو اووجماعتونو دموحدو، مؤمنو اومظلومو مجاهدینو وینی په ډیر ه بی رحمی سره توئی کړی او دهغوی په کورونو او مالونو باندی ئې داړی واچولی او په ښکاره ئی ډندوری وغږولی چه دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة مجاهدین «وهابیان» دی او پدی ډول یی په افغانستان کی دقرآن اوسنت ددی حامی اوداعی جماعت سرتیری مجاهدین «دوهابیت» په تور قتل عام کړل. کورونه یی ورته تالاکړل او مالونه یی ورته لوټ کړل، په داسی حال کی چه ددوی ددغه عظیم جرم دارتکاب نه وړاندی ځینومجاهدو علماؤ دسولی دتأمین لپاره کوششونه کړی وو، خو دوی دسولی ټولی مشوری رد کړی او دمجاهدینو په قتل عام او دکورونو اومالونو په لوټ کولو ئی لاس پوری کړ.

له فضیلة الشیخ نه زمونږ پوښتنه داده چه آیا لدغو جماعتونوسره چه دمظلومو اوبی گناه مجاهدینو دقتل عام مرتکب شویدی، مالی مرسته او دهغوی ترمشری لاندی جهاد کول جایزدی؟

ددوی ځواب: کله چه ددغو جماعتونو په باب دامشهوره شویده،چه اهل توحیدته گمراهان او بدعتیان وایی. پداسی حال کی چه موحدینو اسلامی نظام قایم کړی، اسلامی حدودیی نافذ کړی، منکرات یی ختم کړی اودقبرونو قبی او کتاری او دشرك مرکزونه یی نیست او نابود کړی او قبرونه ئی اصلاح کړیدی، وروسته دغو جماعتو نو په موحدینو باندی بهتان ولگاوه، چه دوی دیهودیانو او عیسائیانو څخه راوتلی دی او دا«وهابیان» دی او دا تور یی هم ولگاوه چه دوی زمونږپه خلاف پلانونه جوړوی اوزمونږ دمذهب مخالفت کوی. پدغه پلمه ئی دمسلمانانو د وینو تویول اومال لوټول حلال وگڼل اوپه اهل توحید باندی یی دکفر فتوی ولگوله، له هغوی سره وجنگیدل او دهغوی سیمی او ښارونه ئی خراب کړل اودهغوی جماعت یی متفرق کړ، نوله دغو جماعتونو سره ددغو واقعاتو نه وروسته مالی مرسته جایز نده ، بلکه له دوی سره نصرت او دهغوی ترقیادت لاندی جگړه اوجهاد کول حرام دی . تر هغی چه توبه وباسی او اهل حق دهغوی خپلو امنیتی مرکزونو ته ستانه کړی او دهغوی په حق کی دخپلو غلطیو اعتراف وکړی .

والله اعلم

عبدالله بن جبرین دسعودی عربستان ددراالافتاء غړی.

۱٤۱۲/۲/۱۷هـ.ق

دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

دشهادت په مناسبت ددوستانو

دتعزیت پیغامونه

دتوحید دسمسور ګلشن دګل بوټو له جملې څخه یو شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) شهیدڼ، چه د افغانستان دیو نیم ملیون څخه دزیاتو شهیدانو په کاروان کی دفانی دنیا له بازاره رخصت شو. نن هغه سمسور ګلشن شته مګر دشهید شیخ ځوان ګل بوټی په کې وجود نلری او دمحبت بلبلان ئی له سترګو څخه داوښکو په ځای وینی تویوی او له نوا او فغان څخه ډکی تعزیت نامی رالیږی، چه مونږ ئی دګرانو لوستونکو په خدمت کی په لنډ ډول نشرته سپارو، داچه د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دشهادت په مناسبت په زرګونو تعزیتی پیغامونه رارسیدلی دی او ټول په مکمله توګه نه شو کولای چه نشر کړو، ځکه دومره زیات دی چه کتابونه کتابونه به تری ډک شی او تمام به نشی، مونږ ئی یو څو نمونی فهرست واری خپلو ګرانو لوستونکوته وړاندی کوو او نور به هم انشاء الله په خپل وخت سره په ترتیب نشرکړو.

دافغانستان داسلامی جمعیت رهبر په خپل تعزیتی پیغام کی لیکی:

۱- «شهادت مولوی صاحب جمیل الرحمن(رحمه الله) ضایعهء یك بس بزرګ وحادثه یك بغایت دردناك وجګر سوز است. کارنامه های جهادی شهید مرحوم در تاریخ جهاد فراموش ناشد نیست». برهان الدین «ربانی»

۲- انجنیرمحمدامین منصف پخپل تعزیتی پیغام کی لیکی چه: «مولوی صاحب جمیل الرحمن(رحمه الله) دافغانستان داسلامی انقلاب اواسلامي تحریك په سیر کی دکفر او دهریت برعلیه دعملی جهاد مؤسس ؤ. همیشه د یوقهرمان جهادی قائد په توګه دجهاد په ګرم عملی سنګرکی پروت او په نه ستړی کیدونکی ډول ئی مبارزه او مجاهده پر مخ وړی ده». انجنیر محمد امین «منصف»

۳- دصوبه سرحد دجماعت اشاعت التوحید والسنت ناظم «امداد الله» لیکی: «دشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) صاحب شهادت دټول عالم اسلام او خصوصاً دافغانستان دمجاهدینو لپاره یوه عظیمه المیه ده. دشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) یوازینی آرمان دکلمة الله سر لوړی او دالله تعالی ددین غلبه وه» امداد الله ناظم اشاعت التوحید والسنت صوبه سرحد.

٤- دپاکستان دجماعت اسلامی امیر قاضی حسین احمد صاحب پخپل تعزیتی پیغام کی داسی لیکی: شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دافغانستان له هغو اولوالعزمو مجاهدینو څخه ؤ، چه تر ټولو دمخه ئی د کمونستانو په مقابل کی دجهاد ابتداء وکړه. دنوموړی شهادت دټولو مسلمانانو لپاره یوه شدیده صدمه وه».

قاضی حسین احمد امیر جماعت اسلامی پاکستان.

٥- دافغانستان اسلامی انقلابی دولت امیر مولوی محمد افضل دخپلی تعزیت نامی په ترځ کی لیکی:«دیوی اسلامی مبارزی په جریان کی دحق دلاری په مبارزینو داسی ډیر حوادث پیښیږی، پدی رنګه عوارضو باید مایوسی احساس نه کړو، دمبارزی نهائی هدف لاس ته راوړو او په اسلامی مقدس جهاد کې له استقامت او مقاومت څخه کار واخستل شی».

مولوی محمد افضل امیر دولت انقلابی اسلامی نورستان.

٦- له لویدیځ المان څخه دافغانستان دعاجلو مرستو داداری رئیس ډاکتر صاحب «همت» دارواح ښاد شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) روح ته دعا په ځرګندولو خپل تعزیتی پیغام راستولی دی.

٧- فضل غنی «رحمانی» صاحب دمنګوری څخه دشهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دشهادت په مناسبت خپله تعزیت نامه رالیږلی ده. فضل غنی رحمانی زونل چیف - یونایټید بینک لمټیډ-منګوره.

٨- ددعوت او جهاد پوهنتون استاد پوهندوی عبدالبصیر «بصیرت» لیکی:«شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) په ټولو همنوعانو کی ممتاز حیثیت درلود، دتعلیم له فراغت څخه ئی وروسته په سیمه او منطقه کی ټولو مسلمانانو ته صحیح عقیده وروښودله او پدی لاره کی ئی ډیر تکالیف برادشت کړل مګر دخپل لوړ عزم او ارادی څخه په شا نه شو».

پوهندوی عبدالبصیر «بصیرت» ددعوت او جهاد د پوهنتون استاد

٩- «دشیخ القرآن والحدیث مولوی صاحب جمیل الرحمن(رحمه الله) شهادت نه یوازی دا چه دهغه دکورنۍ او جماعة الدعوة الی القرآن والسنة دتنظیم لپاره کمبودتیا ده، بلکه دشیخ القرآن شهادت دافغانستان دروان اسلامی انقلاب د بری دلاری کمبود ګڼو». قاضی محمدامین وقاد.

١٠- دسوات ډهیرئ ائرپورت څخه محمد طاهر، شمس الدین، عبدالظاهر اوددوئ نور دوستان له ژور خفګان ځرګندولو وروسته لیکی چه: «دشیخ شهادت په دی نازك وخت کی دتمام عالم اسلام لپاره یو نقصان او خساره ده».

١١- دپیښور د ای-آر-سی دانګلیسی ژبی پرسونل دغم او درد ځرګندولو وروسته پخپل تعزیتی پیغام کی لیکی چه: «عزتمند شهید دافغان په قهرمان او مسلمان ملت کی یو با احساسه مجاهدو، دنوموړی عالم دین شهادت دټول اسلامی امت لپاره یوه نه جبرانیدونکی ضایعه ده».

١٢- داکتر عزیزالحق «انصاری» له بټ خیلی څخه پخپل پیغام کی لیکی:«شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) یو با عمله عالم اود قائدانه صلاحیتونو خاوند ؤ، هغه بی شکه دغرب دسامراجی سازش ښکار شو «ډاکتر عزیز الحق «انصاري».

١٣- اسحاق طور ورور دسوات منګوری څخه خپل یو تفصیل وار لیك راستولی دی او دخپل ژور درد او خفګان ځرګندونه ئی کړیده. کوهستان کار پوریشن-تاج چوك-منګوره-سوات.

١٤-«دشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) شهادت یوه لویه سانحه ده، د هغه مرګ دټول عالم مرګ دی، هغه یو باعمله عالم، دتقوئ نمونه او داسلام سپاهی ؤ». مولوی عبدالغفور.

١٥-«دشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) مرګ ټولو مجاهدینو ته یوه الم ناکه واقعه ده، ځکه دعالِم مرګ دعالَم مرګ دی».

مولوی احمد جان - باجوړ ایجنسی.

١٦-«زه د توحید دعلمبردار جناب مولوی جمیل الرحمن(رحمه الله) په بی وخته شهادت او نیمګړتیا ډیر غمژن یم او دلوی خدایه دهغه لپاره په جنت الفردوس کی اعلی درجات غواړم». اسدالله «متین»

١٧- «دافغانستان دمجاهدینو د اسلامی انقلاب پیشوا او دافغانستان دجهاد بانی شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) خپله مبارزه دجهاد په سنګر کی توده ساتلی وه، مرحوم یواځی عملی جهاد نه، بلکه دتوحید او سنت دخدمت لپاره ئی ډیری قربانۍ ورکړی دی». محمد نادر شاه.

١٨-«شیخ صاحب که دسیاست په میدان کی وګورئ نود هیڅا څخه کم نه ؤ او ددین او تقوئ په لحاظ سره ئی هم نورو ته درس ورکړی دی». محمد اسلام حنیف سلفی

١٩-«زه سره دملګرو دعا کوم چه الله تعالی دی دشهید شهادت پخپل دربار کی قبول کړی او دده ټولو ملګروته دی الله

تعالی جمیل صبر نصیب کړی». قومندان ناصر.

۲۰- «الله جل جلاله دی دمرحوم شهادت قبول او منظور کړی او ددغی لاری کاروان دی ژوندی وی».

محمد شریف داتحاد اسلامی له اعضاؤ څخه، حاجی نثار احمد ا ف خار

۲۱- «شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دا کوشش کاوه، چه په دنیا کی دالله جل جلاله نظام قائم شی او د قرآن او سنت اشاعت وشی». مولوی فضل گل -کړنګل-

۲۲- «دمولوی صاحب بی وخته شهادت یواځی زمونږ خفګان ندی، بلکه داد ټولی نړۍ دمسلمانانو خفګان دی، الله جل جلاله دې مونږ ټولو ته صبر او استقامت راکړي». عبدالمالك «مالكيار»

۲۳-«یقیناً چه شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) کومه وعده او قربانی منلی وه، هغه ئی سرته ورسوله».

محمد«محمدي»

۲٤- «شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) داسلام دحریم پاسدار او مدافع ؤ، چه یاد اوکار نامی به ئي تل ترتله دتاریخ په زړه کی پاتی وی». «جواد».

۲۵- «محترم مولوی صاحب جمیل الرحمن(رحمه الله) دګران افغانستان په آزادۍ او هم د جهاد په سر لوړۍ کی ممتاز نقش درلود». حاجی گل سخی.

۲٦- «شهادت شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) ضایعهء بزرگی به ملت مسلمان ومجاهد ما بوده وملت مؤمن ما با شهادت وی فرزند اصیل و آهن اراده را ازدست داده و از سرمایه بزرگ محروم گردیده». قاضی محمد حکیم «حکیم»

۲۷- «دمولوی صاحب جمیل الرحمن(رحمه الله) خدای داد استعداد او صفاتو دلیکلو نه زما قلم عاجز دی، صرف دومره ویل غواړم چه مولوی صاحب دکنړ دخلکو، دافغانستان دمسلمان ملت او عالم اسلام لپاره یو نعمت ؤ». انجنیر امیرجان

۲۸- «دمولوی صاحب جمیل الرحمن(رحمه الله) شهید- شهادت دحق پرستو علماؤ په ټولنه کی یوه لویه خالیگاه را پیدا کړه». دکتور عبدالجبار کمال صافی.

۲۹-«مونږ دشیخ صاحب په جدائی غمجن یو، مګر په شهادت ئی افتخار کوو، ځکه شهادت داسلافو وراثت دی».

عبدالحی سلفی- کارکن تنظیم طلبه سلفیه او د پکتیا اولوګرولایتونو امر.

۳۰- دپاکستان دصوبه سند دبلتستان داهل حدیثو دځوانانو دفیډریشن صدر جناب محمد یوسف «کوروی» دکنړونو داسلامی امارت امیر او دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة قائد دمظلومانه شهادت په هکله داسی لیکی: «بعضی نام نهاده اسلامی تحریکونه غواړی چه اسلامی امت ټوټی ټوټی کړی، دغه اسلامی نام نهاد تنظیمونه په حقیقت کی اسلامی تحریکونه نه، بلکه امریکائی او روسی ګوډاګی اجنټان دی، چه نه غواړی په افغانستان کی یو واقعی اسلامی حکومت منځ ته راشی، نوموړی په خپل لیك کی زیاتوی، چه دشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) شهادت هم دهمدغو نام نهادو اسلامی تحریکونو دسازشونویوه کړی ده،په آخر کی زما دزړه له کومی دا دعا ده چه الله تعالی دی شهید شیخ صاحب ته دجنت الفردوس مقام ورپه برخه کړی او د غم ځپلی کورنۍ او جهادی موحدو ملګرو ته ددغه ستر غم، دتحمیل او جمیل صبر توفیق ورکړی».
والسلام علیکم ! سکرټری نشرو اشاعت - ابراهیم عبدالله «یکوی».

۳۱- «شهید جمیل الرحمن(رحمه الله) دقرآن او سنت تابع او دافغانستان د روان جهاد دبنیاد ایښودونکو څخه ؤ، هغه دکونډو، یتیمانو او غریبو خلکو شفیق او همدرد ؤ، هغه په افغانستان کی دیو واقعی اسلامی حکومت دجوړیدو غوښتونکی ؤ. دشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) آرمان شهادت ؤ او بالآخره دد دغه عظیم خواهش پوره شو، الله تعالی دی جنت الفردوس نصیب کړی». «امین» مولوی محمد شریف په باجوړ ایجنسی کی دجماعت اسلامی پاکستان امیر

۳۲- «دمولوی صاحب جمیل الرحمن(رحمه الله) شهادت دټول عالم اسلام لپاره یوه لویه سانحه ګڼم، دمولوی صاحب کمی په هیڅ صورت سره نه پوره کیږی، له رب الجلیل نه ورته جنت الفردوس غواړم».

مولوی محمد فاروق دباجوړ ایجنسی دږکری کالج پیش امام.

۳۳- مولوی صاحب محمد گلاب صدیقی هم دشیخ صاحب دبی مثاله کار نامو او دهغه په شهادت دغم او درد څرګندونه کړیده. مولوی محمد ګلاب «صدیقی» نائب جماعة اشاعت التوحید والسنت افغانستان.

۳۴-«دمولوی صاحب جمیل الرحمن (رحمه الله) وژنه داسلام او مسلمانانو سره یوه لویه جفاده».
حاجی فقیر محمد دمحمدی لیسی مدیر.

۳۵- «دمولوی صاحب جمیل الرحمن (رحمه الله) بی وخته مرګ ددوئ تحریك ته ناقابل برداشت نقصان ورسولو». سید شیر شاه- ایډوکیټ بټ خیله.

۳۶- «دغه وخت او کال چه شیخ صاحب پکی شهیدشو، مونږ ئی په «عام الحزن» باندی مسمیٰ کوو».
عبدالقیوم دمحمد صفدر ځوی برکنډئ- کنړ.

۳۷- «دشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) په شهادت په جهادی نړیکی داسی خلاء پیدا شوه، چه ددی پوره کول اوس ممکن نه ښکاری، شیخ هغه خوش قسمته اوسپنیز فرد دی، چه دجهاد اولني مراحل ئي آغاز کړل ددی نیك اقدام په برکت په ټولو افغاني مسلمانانو کی دجهاد جذبه را پورته شوه». محمد عمرد صدیقه دار العلوم مدیر- لنډی کوتل خیبر ایجنسی او مولوی شهزاد ګل «حقانی».

۳۸-«شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) لمړی دتوحید دعقیدی خدمت وکړ، بیائی جهاد شروع کړ او بالآخره خپل وروستی مرام ته چه دالله جل جلاله په حکم دالله «جل جلاله» دقانون تنفیذ ؤ ورسید، په کنړ کی ئی اسلامی امارت تأسیس، دحدود الله حکم نافذ او دالله جل جلاله طرف ته دبلنی دروازی خلاصی شوی».غلام الله وقار مسعود- ددیر- سوات دحوزي مسؤل.

۳۹-«شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) شهید درڼا مینار، داسلافو نمونه او یو جامع الصفات شخصیت ؤ».
عبدالرؤف «ختك» اسسټنټ ایډیټریټ ډائریکټر-وزارت اطلاعات ونشریات پاکستان.

۴۰-«شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دقرآن او سنت یو خادم اود بدعاتو په ظلمت کی دتوحید دنور یو مزرع ؤ».
مولوی نقیب احمد مهتمم دار العلوم تعلیم القرآن - ثمر باغ.

۴۱- «دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) مرام او مقصد داؤ، چه زه دی دالله جل جلاله په لار کی شهید شم، مونږټول مسلمانان که هغه مهاجر دی او که انصار، دده په مرګ نهائی افسوس کوو».ملك ښایسته ګل، بانده ګی، باجوړایجنسی.

۴۲- «دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) شهادت دټول عالم اسلام لپاره عموماً اود افغانستان د کنړ لپاره خصوصاً یوه نه جبرانیدونکی ضایعه ده». حاجی عبدالحکیم.

۴۳ - زه دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په هکله لیکم: «چه شیخ یو مجاهد او غیرتی مجاهد ؤ» مولوی ملامحمد
۴۴- «جناب شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) ډیر مخلص او باعمله انسان ؤ» محمد حسین - جندول.

۴۵- «جناب شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) ډیر صالح العمل انسان ؤ، هرعمل ئی داسلام مطابق او برابر ؤ».
مولوی محمد اسلام بابر- چارمنګ،حاجی ګل زاده-باجوړ ایجنسی- ډمه ډوله، محمد ظاهرشاه-باجوړ ایجنسی-ډمه ډوله

۴۶-«دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة امیرشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دقرآن اوسنت د قانون دنافذولپاره ښه په پوره ایمانداریٔ سره په عملی جامه کی خپل ځان په شهادت ورساوه».مولوی محمدحسین النورستانی اومولوی محمدیونس

۴۷- «جناب شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) شهید دافغانستان دمجاهدینو یو رهنما او عظیم شخصیت ؤ او یو بلند پایه عالم ؤ، په افغانستان کی دکمونستانو خلاف آواز اول دوی پورته کړی ؤ، او دکنړ ولایت مسلمانان ئی دجهاد لپاره منظم کړل، داد هغوی دبی شمیره قربانو او کوششونو نتیجه وه، چه له فتحی څخه وروسته ئی په کنړ کی داسلامی امارت اعلان وکړ».
مولوی حمیدالله عرف مجاهد- لوی جوړ باجوړ ایجنسی، مولوی عنایت الرحمن - لوی سم - باجوړ ایجنسی.

۴۸- «شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دقرآن او سنت طریقه هر چاته رسولی ده، دشرك او بدعت رد ئی هر وخت کړیدی او تقریباً شل کاله ئی په دی لاره کی طی کړل». مولوی ابی غیاث، رشید الله «صافی»کلی وتله- او مهتمم غلام سعید.

۴۹- «دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) صاحب د دردناك مرګ په غم کی مونږ ځان شریك شمیرو». جناب فرید خان

وزیر پائریکټر پلاننگ سرحد پوپلمنټ اتهارټی.

۵۰- «مونږ ټول د مولانا صاحب په غم غمزده یو». مولانا محمد نواز دتعلیم القرآن ددارالعلوم نائب مهتمم شاه پورسوات.

۵۱- «شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دحق دلارې ریښتینی داعی او داسلامی امت یو خیرخواه شخصیت ؤ، دی په خپل ټول ژوند کی په علم، تقوی، جهاد اومبارزه کی یو پیژندل شوی انسان ؤ، نوموړی دافغانستان په خاوره کی په خاص ډول او دټولی نړۍ دطاغوتی نظامونو په خلاف په عامه تو گه یونه پخلاکیدونکی او نه ستړی کیدونکی مبارز شخصیت ؤ».
عبدالحمید «شورش» داسلامی امارت ددعوت او ارشاد رئیس.

۵۲ –«دشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) هلی ځلی په افغانستان کی دیو واقعی اسلامی نظام دقیام او داعلاء کلمة الله لپاره وی».طلا صبدر- باړه خیبر ایجنسی اوعبدالوهاب باجوړی.

۵۳-«له هجرت څخه وروسته کله چه د (۱۳۵۴) هـ ش کال څخه را پدیخوا داستاد برهان الدین «ربانی» او انجینرصاحب «حکمتیار» تر منځ اختلافات شروع شو، شهیدمولوی صاحب دوحدت او یووالی آواز دڅه نورو ملگرو په شمول بدرگه کاوه او په کلکه ئی ددواړو مشرانو تر منځ داختلافاتو مسئله تردید وله او وحدت او یووالی ته ئی دعوت ورکاوه».
فاروق دننگرهار ولایت دبهټی کوټ اوسیدونکي دداعی اسلامي د دفتر دکنټرول مدیر.

۵۴-«شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دظاهرشاه له وخته راپدیخوا تر ۱۹۹۱/۸/۳۰ م نیټی پوری خپل مسؤلیت دخپل علم مطابق په کامل ډول اداء کړی دی». مولوی عبدالرحمن

۵۵-«شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د پخی ارادی او لوی عزم خاوند ؤ، چه ډیرو والیانو او ولسوالانو پری د قید و بند ډیر فشارونه راوړي ؤ، مگر نوموړی هغه دوه ارمانه سرته ورسول، چه یو داسلامی قانون جاری کیدل او بل دحق دلاری د تعقیبولو لپاره د الله تعالی په لاره کی شهادت ؤ». مولوی غلام اکبر فاضل.

۵۶-قاضی عبدالشکور دکنړ ولایت دمزار دری او سیدونکی دشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) شهید په هکله داسی لیکي:
«ستا شهادت مزه کوی د ټینگ ایمانه سره * په وینو رنگ به ملاقي شی له سبحانه سره».

۵۷-« دشهید شیخ جمیل الرجمن (رحمه الله) سوانح دصغارت څخه تر شهادته پوري دالله (جل جلاله) او پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) په طریقه بالکل برابره تیره شویده». حضرت امیرسرمعلم او نعمت الله.

۵۸-« مونږ دشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په مرگ بي حده افسوس کوو، چه افغان مجاهدین دیو اعلی رهبر څخه محروم شو». فضل خالق ټیکدار، حاجي احمد جان، حاجي طالع مند، گلاخان، قدرمند، حاجي گل احمد او رحیم ناز خان- سوات منگوره.

۵۹- « هر هغه چاچه دشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دمرگ ترون کړیدی، داسی دی لکه چه یهودو به دانبیاؤعلیهم السلام دقتل منصوبی جوړولی، بلکه دا خلک دیهودو څخه هم بدتر او نجس دی». مولوی محمد کریم - دیر جندول -منډا

۶۰- «دافغانستان دجهاد په سلسله کی د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) مبارک خدمتونه دقدر وړدی.»
محمد ذکریا - منتظم اعلی جمعیت طلبه عربیه پاکستان - لاهور

۶۱- «دشهید مولوی صاحب دجهاد عظیمی کار نامی دافغانستان په تاریخ کی دتل لپاره د راتلونکی یا دگار دی او دانه هیریدونکی دي».ملك محمد زرین په آسمار کی دنجات ملی جبهي قو مندان.

۶۲- «شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) یوازي دافغانستان دمجاهدینو سپه سالار نه ؤ، بلکه ددنیا دکروړونو مسلمانانو دزړونو یو حرکت ؤ، چاچه یوازي په دنیا کي دقرآن او سنت حاکمیت لیدل غوښتل.» حافظ عبدالقادر-ضلع کرك

۶۳-«دشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په شهادت یوازي افغان مجاهدین نیمگړي نه شو، بلکه ټول مسلم أمت پری نیمگړی شو». زونل هیلو (رباني صاحب) یونایټیډ بینك مینگوره سوات

۶۴- «په هر دورکي الله تعالی دحق دظهورلپاره حق پرست علماء پیدا کوي، چه دالله تعالی ددین خدمت وکړی. یو دهغی نه په دی دورکی شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) صاحب ؤ». طیب داشاعة التوحید والسنة امیر- پنج پیر.

۶۵-«شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دآینده نسل لپاره داسي لاره او کار نامي پریښی دی، چه په تاریخ کي هیڅ ساری نلري».غلام الله، دباجوړ دتنظیم طلبه سلفیه ددفتر مسئول.

٦٦- خواجه عبیدالله - باجوړ ایجنسي
٦٧- السعود - د سعودی عربستان سفیر - اسلام آباد
٦٨- امیر گلستان جنجوعه- دپاکستان دصوبه سرحد گورنر- پیښور پاکستان.
٦٩-محبوب الهی- دخالص د اسلامی حزب غړی- شمشتو
٧٠- محمد یاسر- داتحاد اسلامی غړی- جلوزی
٧١- شیرین - دخالص داسلامی حزب غړی - شمشتو
٧٢- قاری محمود شاه - = = = = =
٧٣- قاری الهام الدین - = = = = =
٧٤- محمد نور - پیښور- بالا حصار
٧٥- ابو الحسن - سعودی عربستان - رابطه عالم اسلامی پیښور.
٧٦- ډاکتر عبدالقادر سلمان - پشاور ینورسټی.
٧٧-مولوی عبدالسلام السلفی- خطیب جامع مسجد اهلحدیث پشاور-صدر
٧٨- مامور احمد-لنډی کوتل
٧٩- خواجه محمد-فقیر آباد
٨٠- برکت شاه - پاکستان
٨١- زرمحمد- پشاور -بوړو
٨٢- حامد عثمان-نمك منډئی - پیښور
٨٣- شیرین خان
٨٤- حاجی خیر محمد
٨٥- ډگروال یار محمد خان
٨٦- ابو حبیب
٨٧- ابو عبدالله
٨٨- حاجی زیر گل - ارباب روډ - پیښور
٨٩- ابو عبدالوهاب - پنجاب
٩٠- خالد گهرجاکهی - پنجاب - گوجرانواله
٩١- مولانا عبدالعظیم - پیښور- سفیه دهیرئی
٩٢- حاجی انور خان
٩٣- نقیب الله
٩٤- عبدالکریم قادربخش
٩٥- ابو ماهر
٩٦- خواجه خان انسپکټر- پیښور
٩٧- احمد مسعود
٩٨- لطف الله
٩٩- محمد ابراهیم - لجنة الدعوة اسلامیة
١٠٠- اسعد - لجنة الدعوة الإسلامیة
١٠١-غالب - لجنة الدعوة الإسلامیة
١٠٢- کرنیل وحیدخان - پشاور
١٠٣-حاجی قدوس- د افغانستان داسلامي حزب مربوط
١٠٤-مولوی جلال الدین« حقانی » دمولوی خالص داسلامي حزب قومندان
١٠٥- میر سمیع الحق - ارشاد وتوحید
١٠٦- انجنیر احمد شاه - اتحاد اسلامی افغانستان
١٠٧- سید نور الله اغا - جمعیت اسلامی افغنستان
١٠٨- محسنی رضا-د « نوای وقت » ورځپاڼی نماینده
١٠٩- آیاز - پاکستان- (A-P-P) نماینده
١١٠-سعید حیدرشاه -دی نیوز(theNewos) ورځپاڼی نماینده
١١١- A-R د- (P.P.I) نماینده
١١٢- محمد اشرف - دمشرق ورځپاڼی نماینده
١١٣-ولی الله - پاکستان
١١٤- ایم-آیاز- پاکستان-مقامات
١١٥- امتیازحسین-پاکستان-پرنټیرپوست ورځپاڼی نماینده
١١٦- زبیر میر - پاکستان-پرنټیر پوست ورځپاڼی نماینده
١١٧- سلطان صدیقی - دجنگ ورځپاڼی نماینده
١١٨- عبدالغفار
١١٩- محمد اسماعیل- دی نیوز ورځپاڼي نماینده
١٢٠- محمد اکرام «شینواری» - دامریکا غږ نماینده
١٢١- حامد علمی - دبی، بی ، سي نماینده
١٢٢- حبیب الله رفیقی - لندن د الاحداث ورځپاڼي نماینده
١٢٣- خلیل احمد - جمعیت اسلامي افغانستان
١٢٤- هبا- جمعیت اسلامي افغانستان
١٢٥- محمد یحیٰ - ددعوت مجلی نماینده- لاهور
١٢٦-انجینیر عبید الله - شمشتو
١٢٧- ملك نادر خان - پاکستان- خیبر ایجنسی
١٢٨- محمد قاسم- اتحاد اسلامی افغنستان
١٢٩- دقندهار ولایت دقضاء امیر او دغنډ قومندان مولوی عبدالباری.
١٣٠-محمد زاده - باجوړ ایجنسی - ډمه ډوله
١٣١-جناب حاجی طوطی گل - جنوبی وزیرستان.
١٣٢- میا اعظم گجروال
١٣٣- الحاج مدیرعطاءمحمد او ددوی والد صاحب حاجی گل باز.

۱۳٤- دحضرت حمزه «رضي الله تعالى عنه» د مدرسی مدرس مولوی نور محمد.
۱۳۵- ډاکتر میرطالب
۱۳۶- مولوی محمد خسروشاه دحیات المسلمین دمدرسی مدرس - تیمرگره - کوټو.
۱۳۶- مرزا بابا خیل (مشواڼی)ضلع دیر-جندول-مسکینی دره
۱۳۷- «که د شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) شهید په یو لاس کی د خلکو دهدایت لپاره قرآن ؤ، نو په بل لاس کی ئی دهریانو سره د عملی جهاد توره وه.» (غونډمشر).
۱۳۸- «شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) یو داسی ګلاب ؤ، چه دا دنیا به ئی له مرګه وروسته هم د توحید په خوشبو ئی معطره وی.» محمد شیرزاد «خاکسار».
۱۳۹- مولوی محمدحسن
۱٤۰- عبدالرحیم (کړ نګل)
۱٤۱- «شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) هغه انسان ؤ چه اول ئی دباطل ګریوان ته لاس اچولی ؤ، په داخلی او خارجی سطحه یواعلی مدبر، مفکر او منتظم ؤ».
مولوی ګل بهرام حلیمزی-مهمند ایجنسی مولوی امان الله «آزاد» - ناظم اشاعة التوحید والسنت مهمند ایجنسی.
۱٤۲- مولوی رحمان ګل قندهاری کمال خیل
۱٤۳- مولوی سید احمد خان قندهاری او میاں فضل اکبر میا مندیي - ګنداب
۱٤٤- مولوی محمد هاشم «صدیقی» دباجوړ دجمیعت اسلامی نماینده په کنړکی داسمار او شلطن دحوزی مسؤل.
۱٤۵- حاجی سرور او امرخان
۱٤۶- بسم الله خان
۱٤۷- قومندان فرمان الله، معلم ګل محمد، مولوی حمبل الله، ډاکترعبدالحکیم، او مولوی نظر محمد.
۱٤۸- دخاص کنړ دولسوالی مسئولین هر یو صادق اخندزاده، ډاکتر عبدالحکیم، معلم مصطفی،سید ګلاب، شاه محمود، عبدالرؤف، محمد ظریف، محمدشریف الدین او محمد شریف موحد.
۱٤۹- حافظ حبیب الله- دمنډا پیش امام
۱۵۰- امیر سلیم خان ددعوت او ارشاد دنشراتو مامور
۱۵۱- محمد لطف الله، څارنوال محمد صالح، اسدالله او ډاکتر عبدالحاصم.
۱۵۲- عبدالبر دشیرګړ دجماعت اسلامی امیر او د مفتاح العلوم دمدرسی مهتمم او حاجی عبدالکریم.
۱۵۳- مولوی صاحب الدین«ترابی»
۱۵٤- مولوی ګل رحمن او مولوی عبدالحلیم

۱۵۵- «مونږ دقندهار ولایت مجاهدین، قومندانان او مهاجرین دجناب عالیقدراوددی شهید عالم په شهادت دزړه له کومی د درد او غم اظهار کوو».
حاجی محمد ایوب دتوحید دجبهی مسئول حمدالله دسلفیه جبهی خادم فضل جان، خیر محمد حاجی حبیب الله دجبهی مسئول ګل حسن، دور محمد، محمد نبی پایندی، مولوی عبدالهادی او مولوی عبدالحلیم.
۱۵۶- حاجی عبدالقادرخان کونسلر علیزی اتمانخیل، شیخ محمدرمضان - باجوړ.
۱۵۷- «شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دافغانستان د ولس لپاره یوه شمعه وه». مرزا عبدالرازق.
۱۵۸- مولوی قلندر-
۱۵۹- مولوی عبدالحق - دباجوړ دیوسف آباد کمپ
۱۶۰- ابو عبد الناصر او خواجه محمد - کندز ولایت
۱۶۱- ګل محمد مامور
۱۶۲- مولانا محمد ولي
۱۶۳- مولوي مجیب الرحمن.
۱۶٤- مولوي عبید الله «صادق» اوپاینده خان - جلوزو کیمپ. پیښور.
۱۶۵- ملك محمد حسن
۱۶۷- حاجي محمد یوسف
۱۶۸- محمد ګل« عمرخیل»
۱۶۹- قاضي نجي الله «رحمانیار»
۱۷۰- حاجي شهنواز- ننګرهار ولایت
۱۷۱- محمد نعیم -پیښور -جم
۱۷۲- حاجی روح الله صاحبزاده - باجوړ ایجنسي -ناوګی
۱۷۳- حبیب الحق.
۱۷٤- خانزادګل «غروال» دافغانستان دملي محاذ دغنډ قومندان.
۱۷۵- صاحب الحق - نائب شیخ الحدیث جامعه تفهیم القران - مردان -
۱۷۶ رهنورعبد الوهاب عرف تازه خان
۱۷۷- ضیاءالکوثر
۱۷۸- قاري عبد الاکبر، مولوي محمد ګل، مولوي حاجي احمد او لعل ګل.
۱۷۹- حاجي محمد علي جان - چوك یادګار -پیښور
۱۸۰- حاجي حبیب الدین.
۱۸۱- «شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)په افغانستان کی د قرآن او سنت د بر لاسي لپاره د پوره اخلاص په لرلو سره یوازینی عامل ؤ». عبدالرؤف- باجوړ ایجنسي-

چینه گی:
١٨٢- عزيزالرحمن - صاحب اباد - سلارزو
١٨٣- حبيب الله - باجوړ.
١٨٤- مولوی لطف الرحمن ماموند
١٨٥-فيض الله خان سواتی-ينورستی اف بلو چستان کويټه ١٨٦-صاحب زاده سيدلطيف الرحمن شاه هارون - رايونډ-لاهور.
١٨٧- عبد الله قادربخش رئیس معهد الشرعية والصناعة - ضلع مظفرکار.
١٨٨-دمكتب الخدمات مؤسسةالشهيد عبد الله عزام رئيس
١٨٩- سيد عالم باچا او عبدالحكيم باچا -كراچی
١٩٠-محمد اقبال -کا-تی- کا- /(T/P) ميرالی شمالي وزيرستان.
١٩١-نورالله متوکل - رستم - ضلع مردان
١٩٢- عمرفاروق بن محمد يعقوب -لاهور- رايونډ
١٩٣- فضل حق «حقاني »ضلع فيصل آباد
١٩٤- قاضي عمر
١٩٥-محمد ابراهيم
١٩٦-مولو ی محمد شکور قوم اتمانخيل
١٩٧- مولوی عبدالرازق «زاهدي» او مولوی فضل رحيم - باجوړ ايجنسي - سلارزو
١٩٨- محمد ايوب داشاعت القرآن والسنت داداري مدير- ابو محمدامين الله دتعليم القرآن والسنت مدير او عبد الظاهر- پيښور.
١٩٩- دجامعه تعليم القرآن مدير مردان رستم.
٢٠٠- بختورشاه دجامعة العربيه الاشاعةالتوحيد والسنة مدير- كوهات روړ- بړه بيره.
٢٠١- مولوی عبدالغفورد تعليم القرآن دارالعلوم مهتمم باجوړايجنسي جار،مولوي حضرت رسول دشاگی، محمد سرورخان، لياقت علی خان، فقيرمحمد، اسماعيل او عبدالستار - باجوړ ايجنسي.
٢٠٢- محمد يارباد شاه اوقاضي لعل پوري - پنج پير
٢٠٣- مولوی محمد يوسف، مولوي محمد کريم، مولوي ارشاداحمد، مولوي محمدين گل، مولو ي محمد حسن او سعيدالرحمن دسيدانورځوي - باجوړ ايجنسي.
٢٠٤- مولوی محمد عالم
٢٠٥- صابر
٢٠٦- مولوی عزيزالحق «ماندل»
٢٠٧-هدايت الرحمن او نجيب الله-باجوړايجنسي- ډمه ډوله ٢٠٨-عبدالرحيم -باجوړ- ډمه ډوله
٢٠٩-مولناسميع الله «حقاني»، سلطان صلاح الدين، سراج الدين«شهادتيار »، مولانا سعيدالله «باجوړی»او احسان الدين-باجوړ ايجنسي دجار دتعليم القرآن دارالعلوم.
٢١٠- مولوی محمد يونس او يو سف - باجوړ ايجنسي
٢١١-مجيب الرحمن،عبدالرحمن اوشاه زمين متعلم،باجوړ ايجنسي.
٢١٢-مولوی عبدالرحيم او مولوی فضل حق دکوثرالقرآن مهتمم باجوړ-دبر ماموند
٢١٣- شيخ محمد ظفرالله ، شيخ حافظ محمد سعيد، محمد عارف، ابو محمد شفيق الرحمن تاباني امير تحريك مجاهدين اسلام - پاکستان او عبدالله ناصر «رحماني»- جامعه دارالحديث رحمانيه -کراچی -
٢١٤-سراج الاسلام - خادم طلباء - باجوړ
٢١٥- مجيب الرحمن «تو حيدی» رکن تنظيم طلبه سلفيه.
٢١٦- حمدالله «حامدي» طالب العلم
٢١٧-قاضی عزيزالحق عثماني- جندول - شهربنی
٢١٨-سيد عبدالله طارق.
٢١٩- محمد نبي«محسن»
٢٢٠-فلاح الدين دالموحدين دغنډ مسئول.
٢٢١- مولوی جمال الدين - دبغلان ولايت اوسيدونکي
٢٢٢- مولوی خورشيد احمد - باجوړ - سلارزو
٢٢٣- مولوی شاه زرين اتمانخيل او مولوی محمد گلستان اتمانخيل.
٢٢٤-مولوی رحمت الله کرهالی
٢٢٥-حاجی امان الله نورستانی
٢٢٦-قاضي فضل الرحمن
٢٢٧- قاضی عبدالرحيم - باجوړ ايجنسي
٢٢٨ډاکتر محمد نور
٢٢٩- مولوی اسماعيل
٢٣٠-سيف الرحمن
٢٣١- معلم محمد يعقوب - لغمانی -علينگار
٢٣٢- حاجی حليم سيد - پيښور - شاد باغ کالوني
٢٣٣- گل انور
٢٣٤-غلام الله
٢٣٥- امير الدين ابن امجد
٢٣٦-لجنة الاغاثة السعوديه في الهلال احمرالسعودي
٢٣٧- مولوی عبد القادر- ديوه گلی او مولوی اول خان بابړوکلی.
٢٣٨- احمدخان
٢٣٩-مولوی محمد ظاهر او قاری شير محمد
٢٤٠- دجماعة إشاعة التوحيد والسنت افغانستان امير ميرسميع الحق، مولوي اقبال محمد دعالی شورئ غړی،

الدين دننگرهار ولايتی أمير، مولوي رحمت شاه دعالی شوری غړی، مولوی سيد حضرت دعالی شوري غړی، مولوی محمد نذيرخان دعالی شوری غړی، سيد عبدالشكور معلم او سيد علی جان – ناصر باغ كيمپ.

۲۴۱–پيرزاده

۲۴۲– مولوی احمد گل

۲۴۳– شمس الرحمن

۲۴۴–عبدالحنان «زاهد» مدرس الجامعة السلفيه –فيصل آباد ۲۴۵– معلم محمد امين او قومندان شمروزخان

۲۴۶– علی الرحمن

۲۴۷– محمد ظاهر دلغری دمدرسي مهتمم

۲۴۸–« شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) چه داسلام دسر بلندئ لپاره كوم كوششونه كړيدی، هغه له هيچا څخه پټ نه دی».

«قتل حسين اصل ميں مرگ يزيد *
اسلام زنده هو تاهے هر كربلا كه بعد»

رحيم الله سوات منگوره

عبدالظاهر سوات پيرئ محمد عمر سوات پيرئ

عبدالرحيم سوات پيرئ مولوی سعيد اكبر سوات پيرئ

عبدالرحمن سوات پيرئ سيد رحمن سوات پيرئ –گلونو شاه

عبدالرحمن دمحمد ظاهر ځوی سوات پيرئ وزير سوات پيرئ خان مرجان وزير سيكرتری جنرل تحريك اتحاد قبائل جناب شاهد وزير (S.D.O) ايس ، پی او،– فاټا.

۲۴۹– مولوی غلام ربانی دكنړ دولايت پخوانی والی دافغانستان دجمعيت اسلامی مربوط

۲۵۰–دعبوری حكومت وفد داستاد قيوم خان اوسيد نادر «خرم» په مشرئ

۲۵۱–« دمحترم مشر مولوی صاحب شهادت نه يوازې ددوی دكورنئ دخفگان باعث گرځيدلی دی،بلكه زما په نظر د داسی حق پرست او باتقوی عالم دين دردناكه واقعه دټول اسلامي امت او خاصتاً دكنړ ولايت دحق پرستو مجاهدينو،مهاجرينو او بي وزلو يتيمانو او كونډو لپاره دزيات خفگان او مايوسي سبب گرځيدلي دي.» اسدالله «امين» كليفورنيا ۲۵۲– عبدالرازق ځارنوال

په۱٤۱۲/۲/۲٤هـ ق نيته دافغانستان داسلامي جمعيت لاندې مشران او ورسره ملگري دفاتحی لپاره باجوړته راغلی وو:

استاذ «ربانی» رهبر جمعيت اسلامي افغانستان

داطلاعاتو دكميټی رئيس استاد «صائب»

دمهاجرينو دكميټی رئيس مولوی محمدحكيم

دتعليم اوتربيې معاون قاری اسرارالله

دننگرهار ولايتی أمير حاجی شهزاده

دمهاجرينو دكميټی معاون قاری حيات الله

ددعوت اوتنظيم رئيس مولوی ميرحمزه

دارتباط رئيس ډگروال محراب الدين «عاصم».

مولوی صاحب سعيد دقاضی صاحب وقادمربوط.

عبدالعزيزعبدالله الجعفری رئيس لجنةافغانستان وباكستان هيئة الاغاثة الاسلاميه العالمية

ابوجهاد فاروق حيدر – انچارج I.I.P.I

مننه

دجماعةالدعوة الى القرآن والسنة تنظيم اودشهيد شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) غمزپلی كورنئ دټولوهغو دوستانومننه كوی، چه دشهيد شيخ دشهادت په مناسبت ئی زمونږسره دهمدردئ هيلی ښكاره كړی دی او ځانونه ئی زمونږسره په دې عظيم دردكی شريك گڼلی دی.دراليږل شووتعزيتی پيغامونوپه ځواب كی ورته كوروداني وايو اوله الله تعالی نه ورته دعظيم اجرغوښتونكی يو.

(دجماعة الدعوة دتنظيم او دشهيد شيخ دكورنئ لخوا).

دگندف په کیمپ کی دتنظیم طلبه سلفیه غونډه

دروان میلادي کال دجنوری دمیاشتی په (۲٤) نیټه دگندف په کیمپ کی دتنظیم طلبه سلفیه تر سر پرستی لاندی یوه غونډه وشوه. دغونډی برخوالو ته دتنظیم طلبه سلفیه دزیرکو او پوهو طلبهٔ لخوا ارزښتناکی ویناوی وشوی.

چه په دی لړکی د تنظیم طلبه سلفیه امیرغنی الله(مسلم) وینا وکړه او وئی ویل:

چه تنظیم طلبه سلفیه هغه ټولنه ده چه په(١٤٠٥هـ ق) کال دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) لخوا دجماعة الدعوة دپیښور ددله زاك روډ د مهاجرینو په ریاست کی ئی دلومړی ځل لپاره بنیاد کیښودل شو، همدا رنګه«مسلم»دتنظیم طلبه سلفیه دمرام او مقصد په هکله رڼاواچوله او وئی ویل:چه دتنظیم طلبه سلفیه مرام،اهداف او مقاصد ښه په واضح ډول یا خو په اشتهاری ډول او یا په میاشتنیو مجلو کی بیان او خپاره شوی دی، چه ددی ټولنی یواځینی مقصداو مرام په مسلم امت کی دصحیح او سالمی عقیدی روزنه ده او ددا سی سالمی اوروښانه عقیدی جوړونکی عامل کتاب الله او درسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دی، چه اول په خپل ځان او وروسته په ټوله نړۍ کی دعمل جامه ورواغوستل شی. ټولو خلکو ته داړاګیزه ده، چه دسلفیت دعقیدی نوی زلمیان دتیرو څو کالو راهیسی ددی عقیدی دخپرولو په خاطرعملی میدان ته راوتلی او افغانستان، پاکستان، الجزائر، سوډان، سعودی عربستان، کشمیر اوایران کی ئی کتاب اوسنت ته دعوت پیل کړی او دسراو مال قربانی ورکوی، چه مثال او ساری ئی په تیرو څو پیړیو کی نه لیدل کیږی او په دی لارکی ئی ډیر پیاوړی اعزازونه گټلی دی او دسلف صالحینو یاد ئی تازه کړی دی.

دهوویل: چه الله تعالی ددی نوی عمره ځوانانو په هکله په قرآن عظیم الشان کی په سورة(کهف) کی یوه واقعه بیان کړی ده په دی سورة کی دهغو ځوانانو ذکر شوی دی چه دوخت دظالم حکومت په خلاف ئی دالهی رضاءپه خاطر مبارزه پیل کړی وه او میدان ته وتلی وو که ددوی دمبارزی قیصه انسان په غور او سوچ سره واوری نو ډیر جرئت او شجاعت لارښوونه کوی، ددی تاریخی امتحانونو په میدان کی داسی ډیرو شازلمو رنګ رنګ قربانۍ ورکړی دی، چه له دی جملی څخه یو ځوان ابراهیم خلیل الله ؤ، چه دنمرود په مقابل کی یې سوراور ته ودانګل،مګر دنمرودغوښتنۍ او امرته یی لبیك ونه وایه. !

نوموړی زیاته کړه چه دانسان دهر ډول کامیابی زیری دانسان په قربانۍ کی نغښتی دی.او که ووایو چه دحق دمبارزینو دلږۍ یو څرګند مثال نن دتنظیم طلبه سلفیه ځوانان دی، نو انشاءالله چه مبالغه به مونه وی کړی او په داګه ټولو مسلمانانو ورونو ته وایو چه ازمیښت وکړئ او دتنظیم طلبه سلفیه په منهج کی د صحابه کرامو(رضوان الله علیهم اجمعین) او آئمه اربعه(رحمهم الله) داقوالو، افعالو، او عقایدو بشپړ احترام نغښتی دی او ددوی صحیح نقش قدم زمونږ منهج دی، هغه دخپلی وینا په پای کی دشهیدشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) جهادی کارنامی دغونډی برخه والو ته بیان کړی او دهغه یوازینی مقصد چه په افغانستان کی دالله جل جلا له او رسول الله صلی الله علیه وسلم دقانون بشپړ راتګ او دهمدی قانون په رڼاکو کی دنړۍ ګوټ ګوټ روښانه کول غوښتل، رڼا واچوله.او همدارنګه دافغانستان دمتعددو تنظیمونو دعدم اتحاد په باب یی دالله تعالی څخه دیو واقعی اتحاد او یوالی غوښتنه وکړه لدی وروسته دپاکستان دصوبه سرحد دمتحده جمیعت اهل-حدیث سکرټر مولنا حبیب الله سلفی، مولوی عبدالرازق(ناصح)، ابوعطاالله

تاج محمد او الحاج سمیع الله «عابد» ویناوی وکړی او دجماعة الدعوة - الی القرآن والسنة تنظیم امیر او ددی عقیدی دخپرونکو سره یی دهر ډول قربانۍ ډاډ او ژمنی وکړی.

غونډه دجمعی دلمانځه داداکولو څخه وروسته پای ته ورسیده.

دباجوړ ایجنسئ دکمر سر په کیمپ کې د تنظیم طلبه سلفیه غونډه

دروان میلادی کال دجنوری دمیاشتی په(۱۷) نیټه دجمعی مبارکی په ورځ د باجوړ ایجنسی دکمرسر په کیمپ کی د تنظیم طلبه سلفیه د نوی دفتر دپرانستلو له امله دیوی درنی غونډی اهتمام شوی ؤ.

غونډه دقاری صاحب حاجی رحمٰن دخومبارکو آیاتونوپه تلاوت سره پیل شوه.

محمدعاقل ورور د غونډی افتتاحیه وینا وکړه، نوموړی ورور د دفتر دپرانیستلو اغراض او مقاصد دغونډی برخه والو ته بیان کړل او په دی یی رڼا واچوله چه دتنظیم طلبه سلفیه غونډی همیشه دځوانانو داسلامی روحیې دراژوندی کولو په خاطر دا بریږی، ترڅو نوی ځوانان خپلو مسؤلیتونو ته متوجه کړی اود قرآنی دعوت ریښتینی لاری ته یی وهڅوی،دغونډی په جریان کی مولوی صاحب سراج الاسلام،

عبدالغنی(مصلح)،خوشحال خان (حلیم)او نمیرالله په خپل خپل وار ګټوری ویناوی وکړی.

وروسته لدی د تنظیم طلبه سلفیه نا ئب امیر- امیرسلام خان«صادق» ورور دغونډی برخه والوته دافغانستان دجهاد اونړئ والومسایلو په هکله وینا وکړه.

غونډه دځو قراردادونوپه وړاندی کولو سره پای ته ورسیده.

۱- فی سبیل الله جهاد ته به تر هغی پوری دوام ورکوو، ترڅو په افغانستان او ټوله نړۍ کی داسلام ځلانده بیرغ رپیدلی نه وی.

۲- په خپلو وینو به اسلامی امارت ترهغی ساتو ترڅو دافغانستان مؤمن ولس یی له خوږو څخه برخه مند شوی نه وی.

۳-لکه څنګه مو چه دکمونیزم په مقابل کی جهاد کړی، داسی به افغانستان ته دیو سیکولر دیموکراسی‌نظام‌په راتګ هم خپل ټوپك په ځمکه کښنږدو او جهاد ته به دوام ورکړو.

٤-دالجزائرپه مسلمانانو دظلم او تشدد غندنه کوو.

۵- په هرلحاظ د کشمیر دمسلمانانو مجاهدینو مرستی او کومك ته تیار یو.

اسلامی عقایدا و د امت دیو والی اساسی اصول د قرآن او سنت په رڼاکی

درحیم گل «توحید یار» ژباړه

الحمد لله الذی هدی هذه الامة طریق الرشاد واکرمها ببعثة النبی الخاتم الکریم محمد سید الاولین والاخرین وحفظ لها کتابها من التغیر والتبدیل، وسنةنبیهاان تضیع وجعل طایفه منها علی الحق ظاهرة منصوره، لایضرها من خذلها وخالفها الی یوم القیامة. والصلاةوالسلام علی نبی الهدی والرحمة الذی امر بالجماعة والاعتصام بکتاب الله وسنته وحذرمن مخالفة ذلك، وعلی آله واصحابه الطیبین الطاهرین الذین بلغوا الرسالة وادواالامانة کاملة غیر منقوصة وعلی التابعین لهم باحسان الی یوم القیامة ونسئاله تعالی ان یجعلنا منهم، وبعد!

دټولوغوره تعریفاتو او توصیفاتو اوحمد او ثنا مستحق اوسزاواردالله تعالی رب العزّت ذات دی-هغه پاك ذات چه محمدی امت ئی درشد او هدایت په لویه او مستقیمه لار رهی کړاو دغه امت ته یی دنبی آخرزمان سید الاولین والاخرین محمد صلی الله علیه وسلم دبعثت ویاړ وروباخښه او دهغه لپاره ئی دهدایت کتاب یعنی قرآن مجید بی له کوم تغیر او تحریف نه محفوظ وساته. دامت دنبی سنت یی ضایع کیدو ته پری نه ښودل. دمحمدی امت یوه ډله یی په حق دین باندی دقیام نه وروسته په نوروباندی غالبه کړه، چه موئد من الله به وی او مخالفین او هغه کسان چه غواړی حق دین ته صدمه ورسوی هیڅکله به په خپلومذمومو اهدافو کی کامیاب نشی.

درود او سلام دی وی درحمت په نبی او دهدایت په رسول صلی الله علیه وسلم چه په اتحاد اواجتماع او په کتاب او سنت باندی ئی داعتصام حکم ورکړی اوله هغو سره د مخالفت څخه ئی خلك منع کړی دی او ترقیامته دی درود او سلام وی،درسول الله صلی الله علیه وسلم په پاك آل اولاد او اصحابو چا چه درسالت پیغام او داسلام امانت بی له کمي او زیاتي په پوره ډول خلکو ته ورساوه او درود اوسلام دی وی دهغوی په قدم تلونکو تابعینو. مونږ له الله رب العزت څخه دعا کووچه مونږ هم په دغوبزرگوارانو کی وشمیری. آمین!

دصدراول نه وروسته اسلامیه امت دډول ډول اختلافاتو په جال کی ښکیل دی، دغه اختلاف په لومړی وخت کی په خپل معمولی

شکل راځرګند شوی ؤ خو لړی ئی تل روانه ده تردې چه ددغو اختلافاتو په وجه دامت دوحدت شیرازه تس نس شوه،شان اوشوکت ئی په ځمکه راپرېوټ او دهمدغو اختلافاتو په وجه دښمن په دوی باندی غلبه وموندله،دغه ټول که څه هم دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ددی پیش ګوئی سره کاملاًمطابق ووچه:

افترقت اليهود علي احدي وسبعين فرقه، إفترقت النصارى اثنتين وسبعين فرقة واستفترق امتى على ثلاث وسبعين فرقة كلها فى النار الاواحدة.

خوبیاهم مونږمکلف یوچه باید خپل منځی اتحاد او اتفاق ټینګ وساتو زمونږ په صفو نوکی باید درزپیدانشی،له اختلافاتونه بایدځان وساتو، خو دمسلمانانو ترمنځ اتفاق او اتحاد او دهغه شیرازه دعقیدی،ایمان، شریعت او قانون اودهدایت اوطریقت په هغه اساس او بنیاد باندی ټینګیدلی شی،چه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم او دصحابه کرامو رضی الله عنهم له خوا ایښودل شوی دی.

دمسلمانانو ترمنځ افتراق او اختلاف هغه وخت پیدا شو کله چه دمسلمانانو په عقایدو، اعمالو، او عباداتو او تشریفاتو کی بدعتونو لار پیدا کړه، بلاعلم تقول على الله اوپه رأیه او یوه نظریه باندی دتعصب داسی رویه څرګندول دکومی له مخی چه په نصوص شرعیه باندی عمل ممکن نه وی، کله چه دغو چارو په دین کی لار پیدا کړه نو امت ئی داختلاف اوانتشار تودی بټۍ ته وغورځاوه.

سلفی عقیده هغه یواځینی اساس دی چه په کلمهء واحده باندی مسلمانان متحد کولی شی او یوازی سلفی عقیده کولی شی چه دین دتشتت اوافتراق له ګرداب نه بچ کړی،ځکه چه دغه عقیده دمسلمانانو مخ یوازی او یوازی دکتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم لوری ته اړوی.

پدی بحث کی دسلفی عقایدو د اصولو، مبادیو او کلیاتو بیان وړاندی کیږی.دالله تعالی دربار ته دعا کوو چه زمونږ ددی بحث څخه مسلمانانو ته پداسی وخت کی فائده ورسیږی، چه د اختلافاتو دائره د بل هر وخت نه پراخه شوی ده او اوس ئی دعمومی ابتلاء اوآزمایش شکل اختیارکړی دی، زمونږ ددغه کمزوری څخه په ګټی اخستوسره ددشمن لاس په مونږبرشوی دی.

یواځی الله تعالی دی چه معین او مدد ګاردی اوتوفیق هم دهغه له احسان څخه دی.(والله سبحانه وتعالى هوالمستعان، وبه التوفیق)

دسلفیت تعریف اودهغه پس منظر:

هغه وخت چه یونانی علوم او فلسفه په عربی ژبه کی ورننـوتل، نوورسره جوخت په کلام الله کی تأویل او تحریف او دهغه په معنی کی دظاهری اومعنوی تغیراتو، تبدلاتو سلسله شروع شوه، داسلامی عقیدی په پوهنه کی ددغه انحراف نه وروسته د(سلفیت) اصطلاح منځ ته راغله او همدغه وخت ؤ چه مسلمانان دعقایدو په باب د(سلفی)او (خلفی)یعنی (دغیر سلفی) په ډلو وویشل شول.

سلفی یا اهلحدیث

دا هغه خلك دی چه عقیده لری او وایی مونږ په هغو خبرو ایمان لرو په کومو چه لومړنیو مسلمانانو

یعنی صحابه کرامو (رضی الله تعالی عنهم) ایمان درلود ،هغوی زمونږ سلف صالح دی او په هغو شیانو ایمان لرو په کومو چه امام احمد اوددین نورو امامانو چه په تقویٰ، دین داری، زهد او ورع او سالم دینی فهم او بصیرت باندی ئی نړۍ شاهدی وایی،ایمان درلود.

خلف یا غیرسلفي:

دا هغه جماعت دی چه یونانی منطق یی خپل کړی او دهغه تر تاثیر لاندی راغلی دی او وائی چه دالله تعالی دصفاتو او نورو عقایدو په برخه کی دقرآن او حدیثو په ظاهری معناؤباندی یی ایمان درلودل دمخلوق سره دالله تعالی تشبیه لازموی.په همدی بناء یی په آیاتو او صفاتو کی د تحریف او تأویل لاره ونیوله، ترڅو دهغوی په فکر دالله تعالی فضل اوکمال په موزون او مناسب ډول ثابت او متحقق شی. دغه ډله په تأویل او تحریف کی دزیاتي او کمي له مخی په بیلو بیلو ډلو وویشل شوه، ځینی خلکوږ تأویلات کول او ځینو ډیر، هغوی فکر کوی چه د تأویل په باب دهغوی دغه روش دصحابه کرامو رضی الله عنهم له روش څخه زیات عالمانه او حکیمانه دی. که څه هم دصحابه کرامو(رضی الله تعالی عنهم) طریقه محفوظه اوله شکونوڅخه پاکه وه، خو بیا هم غیر علمی او غیر حکیمانه وه، دهغوی خپل الفاظ څه داسی دی «طریقة السلف اسلم، وطریقة الخلف اعلم واحکم»یعنی دسلفوطریقه محفوظه اود شك څخه پاکه ده اودخلفو روش ډیر علمی اوحکیمانه دی.

هغه وخت چه په اسلامی ټولنه کی دشرعی علومو پوهان او مشاهیر پیدا شول او داسلامی امامانو ابوحنیفه،مالك، شافعی او احمدبن حنبل(رحمة الله علیهم) فقهی تدوین شوی، نو وروستیوخلکو په دغو مدونو او ترتیب شو و فقهو باندی په داسی ډول سره عمل پیل کړ، چه له هغوڅخه به د ذری په اندازه اخوادیخوا کیدل نه. او په دی ډول اسلامی شریعت ټوټی ټوټی شو او اوس خبره دی ته رسیدلی چه هر فقهی مذهب دیو مستقل اوځانگړی شریعت حیثیت اختیار کړی دی. دفروعی اختلافاتو دایره دومره پراخه شوه چه اسلامی اصول چه دغه فروعی مسایل ورڅخه استنباط شوی وو ،هم دمذاهبو په دایره کی را ایسار شول. یوی ډلی په څو اصولو باندی اعتماد او ټینگار وکړ، خو بلی ډلی دغه اصول بی اعتباره وگڼل. وروسته دجمود او تعطل دوره پیل شوه. ځینو خلکو فتوا صادره کړه، چه اوس داجتهاد دروازه تړل شوی ده. هر سړی په خپله مذهبی دایره کی ښکیل شواو نتیجه داشوه چه اسلامی شریعت له انسانی ژوند څخه لیری پاتی شو اوغیر اسلامی کفری قوانینو په انسانی ژوند باندی قبضه وکړه چه ټولو خلکو ورته دتعظیم سرټیټ کړ. بیا په اوسنی عصر کی ځینو کسانو فیصله وکړه چه د واجب العمل دلایلو له مراعات نه غیردمعنی او صفاتو له لحاظه ځینی چاری باید له هر مذهب نه رااخستل شی او د مذهبونو تر منځ دتلقین ماصولو په حیث په شرعی مسائلو کی پیوند او پینه شی.

دسلفی تحریك علماؤ او داعیونو دتاریخ په ټولو دورو کی دادعوت وړاندی کړی چه داجتهاد دروازه

دټولو هغو کسانو لپاره چه پخپل ځان کی داجتهاد صلاحیت وینی، خلاصه ده او داسلام دڅلورو امامانو نه علاوه نورو اسلامی امامانو او لویو فقهاؤ چه کومی فقهی ترتیب کړی د هریودغه تحقیق باید له تعصب نه غیر مطالعه شی اود کتاب اوسنت په رڼا کی یی جاج واخستل شی او په هره مسئله کی دقرآن او سنت حکم ته باید غاړه کیښودل شی.

قرآن کریم اودقرآن پوهنی لار:

۱-دالله(جل جلاله) کتاب قرآن مجید په نبی اکرم(صلي الله علیه وسلم) باندی نازل شوی الهی کلام دی، چه مونږ. ته په متواتر ډول رسیدلی دی، هغه کلام چه تلاوت یی عبادت دی او داسلام ژوندۍ، تل پاتی اوَ روښانه معجزه ده او داسلامی مطالعی لمړنی اساس او بنیاد بلل کیږی.

۲- پدی کتاب کی الله رب العزت دخپلو بندګانو ددنیوی او اخروی ګټواو مصالحو په باب احکام او قوانین په تفصیل سره بیان کړي دي، دالله تعالی ارشاد دی:«ونزلنا علیك الکتاب تبیاناًلکل شیءٍ وهدیً ورحمتةوب للمسلمین»

(سورة النحل-۸۹)یعنی مونږ په تاباندی قرآن نازل کړی دی چه د(دین) دټولو احکامو بیانوونکی او دمسلمانانو لپاره سترهدایت، رحمت اوزیری ورکوونکی دی.

۳-دقرآن کریم په جزیاتو کی هیڅ ډول اختلاف نشته. دیوقرآنی آیت له یوی کلمی څخه انفرادی حکم او فیصله نشی اخستل کیدای، بلکه ټول آیت مبارك باید مطالعه او مفهوم ورڅخه واخستل شی.

٤-قرآن مجید دخپل تألیف او ترکیب یعنی لفظی اومعنوی لحاظه معجزه ده، په دغه کتاب کی علمی معجزات دی، دانسانانو په زړونو او اذهانو باندی ددغه الهی کتاب اغیزه او دخلکو دژوند اصلاح ټولی معجزی دی،ځکه چه دهرصادق مؤمن زړه اوذهن د هدایت ددغه نور پواسطه روښانه او منوردی.

٥-له قرآن کریم څخه داسی پوهنه اخستل چه انسان دنیکو چارو دسرته رسولو اودنفس دتزکیی او اصلاح لپاره وهڅوی، له دریو لارو څخه غیر امکان نلری.

الف-دعربی ژبی اوادب پوهه چه قرآن کریم ورباندی نازل شویدی، په کتاب الله باندی پوهنه، په عربی ژبه باندی له مهارت او پوهی سره متناسبه ده.

ب-دآحادیث نبوی مطالعه او دهغه فهم اوتدبر، ځکه چه سنت . رسول صلی الله علیه وسلم دمنشاء الهی عملی تطبیق اوقولی توضیح او تشریح ده.

ج-له الله رب العزت څخه دقرآن پوهنی دعا او له هغه پاك ذات څخه د هدایت اخستلو غوښتنه، ځکه چه دالله تعالی دتوفیق څخه غیر انسان هدایت ته نشی رسیدای او دالله تعالی درحمت او توفیق په بر کت یی هدایت په برخه کیږی، په همدی اساس دقرآن کریم هرطالب العلم هدایت ته نشی رسیدای،دقرآن کریم د زده کونکی لپاره لازمه ده چه د هغو مفسرینو له اقوالو څخه هم دخپلی قرانی زده کړی لپاره استفاده وکړی، چاچه دپورتنیو ذکر شوو اسلوبو او اصولو روایت کړی دی او الله تعالی دقرآن پوهنی له نعمت څخه مستفیض کړیدی، لکه امام محمد بن جریرطبری، حافظ ابن کثیر اونور.

(ادامه لري)

دلیکونو بهیر





بسم الله الرحمن الرحیم

محترم د پښتو ددعوت د مجلی سر محرر صاحب!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته؛

اما بعد: له هر څه نه مخکی تا سی ته ددعوت دمجلی په کا میابۍ او ترقۍ شابسی وایم، رب العزت مو ددعوت په کارکی لا بر یالی لره.ددعوت دمجلی مضامین لولم، نو ډیری ښی ښی خبری ددعوت او تبلیغ په کی لیکلی وی. محترمو ورونو زما خواهش دادی چه خپل کوششو نه جاری وساتۍ.نور مو په الله تعالی باندی سپارو بریالی أوسۍ.

محترم مدیر صاحب! زمونږ یو څو اشعار دي غواړو چي نشر ته ئي وسپارۍ.

والسلام ستاسي ورور قمرالدین «مسلم یار»د چکدري د (۷)نمبرکیمپ اوسیدونکي.

محترم ورور طالب العلم قمرالدین«مسلم یار» صاحب!

سلامونو ته مو وعلیکم السلام ورحمت الله وبرکاته

وروره: لیك مو راورسید، ستاسو دنیکو احساساتو ډیره مننه! ستاسو رالیږلی شعر دډیری ښې معنۍ او مفهوم لرونکی ؤ دنشر ځانګې ته مو ورکړ،انشاءالله چه پخپل وار سره به نشر شي. همدارنګه خپله قلمي رابطه زمونږ سره جاري ساتۍ.

والسلام

(اداره)

دمردان دجامعه اسلامیه تفهیم القران څخه عبدالرؤف «رأفت»ورور لیکي:

محترم ددعوت مجلي مدیر او ټولو کارکوونکو!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

ورونو! بی له مبالغی نه دتبریك وړیاست، مضامین مو دیر زړهٔ راښکونکي دي او دمجلی روح دیر زیات تازه او له بهجت څخه ډك ښکاري. امید دی چه مجله نوره هم دخپل ښایست وړانګي خپرې کړي او دافغانستان دردیدلي مؤمن

نبوی ارشاد

وعن عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما عن النبي صلي الله عليه وسلم قال: «الكبائرالإشراك بالله، وعقوق الوالدين، وقتل النفس، واليمين الغموس» رواه البخاري.

وفى رواية: أن أعرابياً جاء الى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: يارسول الله ماالكبائر؟

قال: «الإشراك بالله»قال:ثم ماذا ؟قال: «اليمين الغموس» قلت: وماليمين الغموس؟ قال: «الذي يقتطع مال امرئٍ مسلم» يعني بيمين هو فيها كاذب.

ترجمه: از عبدالله بن عمروبن عاص رضي الله عنهما روايت است:

پيامبر صلي الله عليه وسلم فرمود: گناهان كبيره:شرك آوردن به الله تعالى ونافرمانى پدر ومادر وكشتن نفس وسوگند غموس است.اين حديث رابخارى روايت نموده است.

ودر روايتى ازوى آمد كه اعرابيى خدمت پيامبر صلي الله عليه وسلم آمد وگفت يارسول الله گناهان كبيره كدام اند؟فرمود شريك آوردن به الله تعالى.گفت بازكدام؟ فرمود يمين غموس. گفتم يمين غموس چيست؟ فرمود: سوگندي كه مال شخص مسلمانى را بگيرد يعني به سوگندى كه او درآن دروغگو است.

شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)له خپل شهادت نه لږڅه مخکی په دی پوه شوی ؤ،چه په کونړکی داسلامي امارت ټینګښت،داسلام ددښمنانو او شخصي مفاد پالونکو عناصرو لپاره دزړه رنځ ګرځیدلی دی.شهید جمیل الرحمن(رحمه الله)به دمنتخب اسلامي امارت له مقام څخه په لوړآوازویل چه:"ای مجاهدینو ورونړ! راشئ چه تاسو ته دافغانستان په لومړني آزاد شوي ولایت کی داسلامي امارت قیام دروښایم.هغه ولایت چه په عملي ډول په کی محمدي شریعت قایم او نافذ دی.

نوای ورونو!له هر ډول تعصب او تنګ نظرئ نه ډډه وکړئ او دغه ولایت خپل مرکز وټاکئ او له همدی ځایه دافغانستان دبشپړی آزادئ لپاره عمومي قیام وکړئ.دغه ځمکه له روس،امریکی او دهغوله اندیوالانو څخه پاکه کړئ او د سوچه اسلامي حکومت څخه په کی دفاع وکړئ".دغه ناره په اصل کی هماغه ناره وه،چه زمونږ دپیاوړي او مجاهد مشرشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)دشهادت موجبات یی برابر کړل.

په دی ګنه کی دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)له سوانح څخه